مورچل

دکابل وروستي بریدونه

امریکایانو ته یو څرګند پیغام!!

لسم کال اوومه، پرلپسې ۹۵یمه ګڼه، شوال المکرم۱۴۳۷هق، جولای۲۰۱۶م

- د امریکا شعوري غلامان!
- تحول اخیر ابتلاء دیگری برملت مجاهد!
- حرامیان څوک دي ..!!؟
- ترکیه پس از یك شب تاریخي
- د امریکا نوې پرېکړه ګټور اقدام که د هلاکت پر لور یو بل ستر ګام؟
- لویدیځوال، د خپلو وضعي قوانینو سره په جګړه کې

دسپین غر دآسمانڅکو څوکو زمریالی مجاهد
شهید الحاج مولوي نور محمد "حقپال" رحمه الله!!

مورچل

لسم کال اوومه، پرلپسې ۹۵یمه ګڼه، شوال المکرم۱۴۳۷هق جولای۲۰۱۶م

لړلیک

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	دامریکا شعوري غلامان!.....	۳
۳	تحول اخیر ابتلاء دیگری بر ملت مجاهد!.....	۶
۴	داسلام غزوات او سرایا.....	۸
۵	حرامیان څوک دي !!؟.....	۱۰
۶	ترکیه پس از یک شب تاریخي.....	۱۳
۷	دامریکا نوې پریکړه ګټور اقدام که دهلاکت پرلوریو...	۱۵
۸	دسپین غر دځوکو زمریالی مجاهد شهید نورمحمد.....	۱۸
۹	لویدیځوال، دخپلو وضعي قوانینو سره په جګړه کې....	۲۶
۱۰	دجهاد فقهي مسائل.....	۲۸
۱۱	بې خونده اعمال.....	۳۱
۱۲	دژوند له ډیرو مهمو پوښتنو څخه ۱۰شیان باید وپیژنئ!	۳۴
۱۳	اصلاح قلب.....	۳۷
۱۴	دمورچل وړمې.....	۴۰
۱۵	جنګي جنایتونه.....	۴۲
۱۶	د ۲۰۱۶زکال دجولای میاشت جهادي خبرونه.....	۴۹

د امتیاز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر

شکـــور (شفق)

کتـــنپلاوی

حســن خپل	ایـــوب صـــافی
حســـن زوی	حکمت بغلانی
زبیر مـــسافر	حافـظ سعـــید

تخنیکي چارې

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل بنار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: baakhtaraf@yahoo.com

سرمقاله

بسم الله الرحمن الرحيم

دکابل وروستي بريدونه

امريکايانو ته يو څرګند پيغام!!

دعمري عملياتو بريښنايي تداوم او کفرځپونکې تسلسل ،داشغالګرو غومی ځيږ او په لويه کچه يې له وارخطايي سره مخامخ کړل،دکابل وروستي بريدونه چې خورا په لوړ محاربوي تکتيک پلان شوي وو ،دغلامې ادرې دعسکرو روحيات غورځولې او په نفسياتي ميدان کې يې دسختې ماتې سره مواجه کړي ،چې له املې يې داسلامي امارت دمجاهدينو په وړاندې دمزيد مقاومت توان له لاسه ورکړي .هيواد کې دمجاهدينو دبريدونو پراخه جال چې دهيواد شمال ،سويل ، ختيځ او په مجموع کې ټول هيوادې خپله غيږه کې رانغښتی دامريکا مشران دې اړايستل ،چې نور مزيد عسکر افغانستان ته دخپلو لاسپوڅو دروانې اونفسياتي تقويې په موخه را وليږي او ددوئ ځمکې ته لويدلی مورال پرې جګ کړي ،خو دنويو پوځي کومکونو او تازه دموعسکرو اعلان هم دمجاهدينو دبريدونو مخه ډب نکړای شوه او نه يې ددوئ نفسياتي ډګر غښتلی کړای شو ،دادی ګورو چې دې وروستيو کې دکابل دنهمې حوزې د(نارت ګيټ) پر خارجي ميلمستون او لوژيستکي مرکز دمجاهدينو وروستي فدايي ګوزارونه دومره اغيزمن وو ، چې دامريکا او دنوروخارجي ائتلافي هيوادونو سلګونه پوځي ،استخباراتي او نور اړوند کارکوونکې پکې يا وژل شوي اويا په پراخه پيمانه ژوبل شوي دي ،د(نارت ګيټ)مجللې او عصري خونې يوازې دخارجي ميلمنو لپاره دشراب وکباب او عياشيو ميلمستون نه ،بلکې دلته دورکړل شويو معلوماتو له مخې استخباراتي او لوژيستيکي مرکزونه هم موجود وو ،خو صرف

دريوو فدايانو دلوی خدای ج په مرسته وکړای شول، چې ددوئ ټول اوسپنيز کمربندونه درې وړي او دامريکايي استبداد لوړ برجونه په يو موټو بم راونړوي.

دکابل وروستي بريدونه په ډاګه امريکايانو او ددوئ مؤتلفو او متحدو اشغالګرانو ته پيغام ورکوي، چې که ددې نه نور ډير عسکر او پوځي تجهيزات هم خپلو ګوډاګيانو ته راوليږئ او دخپلې اوږدې ميشتيدنې لپاره ربړتيا هم دبګرام په نواحيو کې دکوه صافي په جګو غرونو باندې دتوغندیو ددفاع ضد سيستم ورغوئ، نو بيا به هم دفدايي زلميانو له ګوزارونو نه بچ نشئ او نه به دآرام ساه واخلئ ،مجاهدينو پوخ عزم کړی، چې ترڅو اشغالګر له هيواده شړل شوي نه وي او اسلامي نظام نافذ شوي نه وي ،له خپلو مورچلونو نه به نه پورته کيږي او تروروستي عسکره به خپل روان جهاد متداوم ساتي !

دشمال هاغه ولايتونه چې نړيوالو تراوسه پورې دامنيت خوندي سيمې بللې او دطالبانو شتون يې هلته نه مانه ،نن هغه داسلامی امارت دجهادي سوقياتو ډګرونه دي او کتل کيږي چې دکندز،بدخشان ،تخار ،سرپل ،فاريياب ،بغلان غوندې دشمال نور ولايتونه څومره دمجاهدينو دبريدونو شاهددي او څومره ولسوالۍ او مراکز پکې ورځ تر بلې دمجاهدينو په لاس فتحه کيږي ،دا ټول هغه جوت او انکار ناپذيرثبوتونه دي ،چې په ډاګه داسلامي امارت دپوځي قوت تظاهريا څرګندويي کوي او داشغالګرو او دکابل دبلواکې اداري هغو پروپاګندونو باندې دبطلان کرښه راکش کوي ،چې وايې طالبان ضعيف شوي او نور دوئ کابل ته تهديد ندي.

مونږ پداسې حال کې چې دکابل د(نارت ګيټ)فدايي بريدونه دهيواد دنورو هغو په څير دامريکا په شان ټولو مغرورو اشغالګرو ته ديوه اوږده جهادي بهير او روانې جګړې دقوت پيغام بولو ،له خارجي اشغالګرو څخه په کلکه غواړو !چې دخپلو عسکرو نورې وينې مو ددې نه ګټونکې جنګ په جريان کې مه تويوئ او مه نور افغان مسلمان ولس دوير په تغر کښينوئ ، ترهرڅه درته دا غوره بولو ، چې په ډيره تيزۍ خپل عسکر له هيواده وباسئ او نور پريږدئ ،چې افغان ولس خپل برخليک پخپله وټاکي او دنړۍ دنورو ولسونو غوندې دا ولس هم دخپلې عقيدې په رڼا کې هوسا ژوندوکړي !

د امریکا شعوري غلامان!

زخمي افغان

په رسنیزو انځورونو کې مې د عبدالله عبدالله ، ارغندیوال او محقق په شمول د ارګ یو شمیر غلام ذهنه چارواکي ولیدل چې د امریکا په سفارت کې یې ددې هیواد د ازادی د ۲۴۰ مې کلیزې په مناسبت جوړه شوې غونډه کې شرکت درلود او د امریکا بیرغ ته یې د احترام په دود ملاکانې قات او اورمیږونه ځړولي وو.

د امریکا متحده ایالات له ۱۷۷۶ میلادی کال وړاندې د برتانیې او له هغه وړاندې یې ځینې برخې د هسپانیې مستعمره وې، هسپانویان او برتانویان له دې شعار سره امریکا ته ورغلې وو، چې دا خاوره به ودانوي، هلته به د نوي او متمدن ژوند زیربنا جوړوي، د اوبو بندونه، کښتونه، لارې او تعلیمي اداري به جوړوي، د امریکا اوسیدونکي به له بدوي اوقبیلوي ژوند ځخه د نوي عصري ژوند پوړیو ته پورته کوي.

د همدې اهدافو لپاره خو برتانوي استعماګرو په امریکا کې د پام وړ اقدامات هم وکړل، د امریکا د خلکو او جغرافیې ځیره یې وربدله کړه، د اروپایې ژوند اسانتیاوې یې ورته مهیا کړې او د امریکایې وچې اوسیدونکي یې د نوي ژوند په خوا روان کړل.

اما برتانویانو ددې ټولو استعماري خدماتو په مقابل کې له ځایې امریکایانو یوه غوښتنه درلوده، هغه دا چې د امریکا اوسیدونکي به په سیاسي لحاظ د د خود ارادیت او استقلال له حق ځخه تیریږي. دوی ددې په ځای چې د خپل ژوند تصامیم په خپله ونیسي د لندن د واکمنو پریکړو ته آمنا و سلمنا وایي، د خپل بیرغ او ملي زعامت په ځای به د برتانیې د بیرغ سیوری د رحمت بولي او د ملکې تاج ته به د احترام سلامي وهي.

د برتانویانو استعماري فلسفه په دې کې خلاصه کېدله چې دوی د هند او نورو مستعمرو په شان حاضر دي چې امریکایانو ته د ژوند ټولې اسانۍ برابرې کړي اما امریکایان به له خپلې ارادې او ازادی لاس مینځي، هغوی به د لاندې د پسونو په شان چاغ، آسوده،مرفه اما د شپانه د ډانګ تر سیوري لاندې بې ارادې ژوند ته ځان اماده کوي او چې کله هم د شپانه خوښه شوه دوی به یې د ذبحې تر چړې لاندې د اعتراض ترپکې نه وهي بلکې هر ډول قربانی ته به لاس په نام ولاړ وي.

امریکایانو د برتانوي استعمارګرو دغه شرط ونه مانه، ځایي امریکایانو د برتانوي استثماري یرغلګرو په وړاندې توپک او تورې ته لاس کړ، د ازادۍ جنګ یې پیل کړ، تر یوې لسیزې زیات یې له انګریزانو سره وډزول، په دې مرحله کې که څه هم ازادي غوښتونکي امریکایي مقاومت کړ په دهشت ګرو، ورانکارو، وطن ورانوونکو، ضد تمدن، ضد ترقي او داسې نورو نومونو باندې یاد شول، مګر د خپل ستر ارمان سیاسي استقلال د حصول په لار کې یې دا ټول ترخه غړپونه تیر کړل او بالاخره یې له یوې لسیزې سختې جګړې وروسته لومړی د دیارلس ایالتونو او ورپسې په تدریج سره د اوسنۍ ټولې امریکا ازادي ترلاسه کړه.

امریکایان اوس د خپلې هغې تاریخي مبارزې یاد هر کال په ډیر ویاړ سره لمانځي،خپلو دازادۍ د لارې مقتولینو ته د احترام مراتب وړاندې کوي،د برتانویانو استعمار ظالمانه بولي او په وړاندې یې خپله مبارزه مشروعه جګړه او دازادۍ حماسه بولي.

په کابل کې د امریکا په سفارت کې چې کله د امریکا د ازادۍ ورځ او د برتانوي استعمار په وړاندې د امریکایانو د جګړې کلیزه لمانځل کیدله، د ع او غ د رژیم چارواکو هم په کې پراخ ګډون کړی و. دوی په دې مراسمو کې امریکایانو ته د ازادۍ مبارکي ورکړه، د هغوی د استقلال مبارزه یې ویاړمنه او برحقه وبلله ، مګر په عین حال کې یې په افغانستان کې د امریکا مداخله هم یو مشروع کار وباله او د امریکا له مرستو، بیاودانیزو چارو او پوځي حضور څخه یې په تودو الفاظو مننه وکړه.

که سړی د ارګ د سرتیټو چارواکو دغه متضاد چلند ته ښه ځیر شي نو پوه به شي چې دغه د غرب ځیره خواران په اصل کې شعوري غلامان دي. شعوري په دې معنی چې د خپلې غلامی،محکومیت، امریکایي اشغال او نورو مشهودو پدیدو په حقیقت ښه پوهیږي، په دې هم پوهیږي چې د امریکایانو حضور اشغال دی چې زموږ له اولس نه یې سیاسي استقلال ترورلی دی. په دې هم پوهیږي چې د هر ناروا او پردي اشغال په وړاندې جهاد فرض عین او ستره دیني، ملي او وجداني وجیبه ده. مګر له دې پوهې سره سره بیا هم خپل وجدان دوکه کوي او امریکایي اشغال د همکارۍ او بین المللي کومک په نوم سره توجیه کوي.

دا چې د ارګ چارواکي د برتانیا لخوا د امریکا د پخواني اشغال حقیقت درک کولای شي، هغه اشغال نامشروع بولي او په وړاندې یې د امریکایي اولس مبارزه مشروعه، ویاړمنه اود تبریکۍ وړ بولي، له دې څخه معلومیږي چې دوی ته د اوسمهالي امریکایي اشغال حقیقت هم ښه څرګند او معلوم دی، په هر څه یې ښه سر خلاص دی مګر دا چې بیا یې هم غوږونه مړه اچولي او د ضمیر غږ یې خپ کړی دی معلومیږي چې شعورا او قصدا یې غلامي ته ملا تړلي ده.

د غـرب اجيـران چـې د غلامـی لـه دريـځ څخه نورو خلکو ته د ازادی مبارکي ورکوي او بيـا د امريکـا پـه معـاش، د امريکـا پـه خـرڅ او خوراک او د امريکا لخوا د هراړخيز محکوميـت له دريځ څخه امريکايـانو تـه د ازادی مبـارکي ورکوي او په ضمن کـې ځانونـه هـم د ازادی د لارې اتلان بولي. بايد په دې پوه شـي چـې اوس يي ټوله دنيا پيژني او حتی امريکايـان بـه يـي هم په دې سرچپه او خندني کردار خانـدي او له ځان سره به حتما دا وايي چې دا لا کوره چې له سره تر پښو، له معاشه تر موټر، وسلې او هر څه پـورې د امريکا د احتياج په ځنځير تړلي، ستراتيژی او قومنده ورته امريکايـان ورکـوي، کـورنی چـارې او بهرنـی سياست يي د امريکا په خوښه ټاکل کيږي، ځمکه او فضا يي د امريکايي پوځيانو په لاس کې ده، په سـر يي د امريکايي پوځ بيرغونه رپيږي ، مګر دوی بيا هم د ازادی سرينديې غږوي .

د غرب شعوري غلامان دې په دې خبر وي چې آزادي او اسـتقلال يـوازې د خـولې خبـرې نـه دي،چـې د امريکا په سفارت کې د ستيج له سره په کرمو شعارونو بدرکه شي. آزادي د الله تعالی يو لوی نعمت دی چې همیشه په لويو قربانيو تر لاسه کيږي

ازاد او په خپلواکی مين خلک خپل ضمير نه دوکـه کـوي، هغـوی هرڅـه د حقيقـت پـه هنـداره کـې کوري، خپلواکو افغانانو د تاريخ په اوږدو کې همیشه د واقعي ازادی د تر لاسه کولو لپاره قربـانی ورکـړې، هغوی د ازادی په نوم هيڅکله په غلامی نه دي راضي شوي. بلکې همیشه يې تر هغو خپلـې مبـارزې تـه دوام ورکړی تر څو يي د واقعي ازادی په تر لاسه کولو زړه اوبه ځښلې او د ضمير قناعت يي شوی دی.

نو لطفا دغه آزاد او په استقلال مـين اولـس پـه دروغجنـو شـعارونه مـه تيرباسـئ، ددې سـترکور اولـس ستر کو ته خاورې مه ورشيندئ، د غرب غلامي ورته د ازادی په نوم مه تعبير وئ. اولس وينې چـې د موجـوده حکومت چوکاټ چيرې او د چا په لاس جوړ شو؟ آيا د کډوله حکومت چارچوب د امريکا پـه همـدې سـفارت کې د جانکيري په لاس خط کشي نه شو.

کله چې د يوه نظام د مشروعيت تر لاسه کولو منبع د يوه پردي هيواد سـفارت وي، ددې معنـی همـدا ده چې هيواد اشغال دی او بايد چې د ازادی او ځمکني تماميت خپلولو لپاره يي لاس په توره شي. نه دا چې لکـه د غرب ارک ميشتي غلامان خپل ضمير دوکه او په شعوري ډول د غلامی ځغ ته اورميږ تيټ کړای شي.

تحول اخیر ابتلاء دیگری برملت مجاهد!

سعید بدخشانی

تاریخ گواهی میدهد که خداوند متعال جبابره وطواغیت متمرد هرعصر- را بوسیله ملت ضعیف افغان ودرسرزمین افغانستان زبون وبهلاکت رسانیده است،بطور نمونه انگلیس ها در این کشور زمین گیر شدند،اتحاد جماهیرسرخ شوروی با همه قوّت ودبدبه اش ذریعه شیرمردان کفر ستیز همین سرزمین نابود گردید،للّٰه الحمد پیمان خونخوار ناتو تحت قیادت شیطان بزرگ(آمریکا)نیز توسط فرزندان رشید واصیل همین دیار بشکست فلاکتبار وجبران ناپذیر مواجه وبساط نامیمون شان برداشته شده است.

بطور آشکار باید گفت:باوجودیکه ملت مجاهد وغیورافغان با حوادث ناگوار وسختی های فراوانی مواجه اند،به یاری پروردیگار به سلسله مبارزات مقدس جهادی خود در برابر متجاوزین خارجی وغلامان حلقه بگوش آنها ادامه خواهند داد،زیرا این ملت بزرگ به فرمان پیامبر گرامی اسلام باور کامل دارند:که اسلام غالب است ومغلوب نخواهد شد.

کمترازچهار دهه میشود که مردم مظلوم افغان با شدائید ومشکلات طاقت فرسای دست وپنجه نرم میکنند،که ازمیان این ملت باشهامت ومجاهد، میلونهاتن در برابر تجاوزات نیابتی جنایت کاران وکفر جهانی، شهید ومعیوب گردیدند، همینگونه ملیونها تن دیگر در اثر بمبارد مان جنگندها وتوب خانه دشمنان بشریت، خانه وکاشانه خویش را ترک و به کشور های مختلف جهان،به ویژه به کشورهای همسایه چون پاکستان وایران مهاجرت نمودند که هنوز هم عدهء کثیری در دیار غربت ومسافرت شب ها وروزهای دشواری را سپری می نمایند.

بدون شک در بیشتر از سه دهه کشور همسایه ودوست، پاکستان به برادران مهاجر افغان خود میزبانی وبرخورد نیکی نمودند که برخورد صمیمانه وبرادرانه ملت شریف پاکستان قابل تمجید وتحسین میباشد.

ازلحاظ که افغانها بااین کشور مشترکات دینی،مذهبی،کلتوری و لسانی دارند، نباید در برابرمهاجرین که سالیان دراز ازایشان بطور احسن پذیرای کرده اند،رفتار خشین ودرشت

نمایند،مهاجرین نباید قربانی سیاست های نافرجام اداره دست نشانده کابل گردد،زیرا رژیم مسلوب الاختیار کابل با اینکه از بادارن خویش وبشکل خاص از هندوستان الهام میگرد،نمیخواهد که روابط ومناسبات ملت ها وهردو کشور دوست نزدیک ومخلصانه به پیش برود،همین است که اداره اشرف غنی در حل برخی مشکلاتی که مهاجرین به آن مواجه میشوند توجه نکرده بلکه به آن اظهار خورسندی ورضایت مینمایند.

بنظر من به هراندازی که خدای نخواسته مهاجرین رنجانیده شود،کشورهای مغرض ورقیب ملت پاکستان وافغانستان از آن بنفع خود سود میبرند،ومیخواهند که بهر شکل ممکن فاصله در بین این ملت ها بیشتر شود،لذا بهتر است که همچو دور سابق با افغانهای مهاجر برخورد برادرانه صورت گیرد.

بلی!

الله دریک قوم تغیر نمی آورد تا هنگامیکه درنفس های شان تغیر پیدا نشود.یقناً اگر ما به اعمال،کردار،رفتار ونیت خود اندکی متوجه شویم درمیابیم که عامل همهء این مصائب خود مان هستیم،زیراکه هجرت ،جهاد ومجاهده طبق اصول اسلامی وشرعی باید به پیش برود،نه مطابق میل واغراض دنیوی.

هجرت به این معنی نیست که وطن را ترک وبجای امن تری پناه گزین شوید، بلکه در پهلوی بیرون شدن ازوطن باید تمام آنچیزی را که الله منع فرموده واز آن باز داشته است اجتناب شود،مرتکب اعمال خلاف شرع نشویم،دین،عفت،حجاب وناموس خود را حفظ نموده وجهت نابودی کفر،مصالح ملت وتطبیق نظام اسلامی در کشور اصلی خود جدوجهد نمایم.

اینهمه پریشانی ها وتحولاتی که امروز ما وشما به آن مواجه هستیم،علت اصلی آن فاصله گرفتن ازالله وارشادات پیامبر بزرگ اسلام،وتوجه به عیش ونوش،خوش گزرانی روزگار وروجوع به زیب وزینت دنیا میباشد.

وقتیکه نیت واعمال خویش را اصلاح سازیم،خود خواهی،خود نمای ،تعصبات قومی، سمتی، نژادی ولسانی را دور بگزاریم،اشّداء علی الکفار ورحماء بینهم شویم اینجاست که پیروزی های دنیوی واخروی شامل حال ما وشما میگردد.در غیر آن راه نجات وبیرون رفت از مضیقه وتنگنا دشوار خواهد بود.

داسلام غزوات اوسرايا

ذات الـــرقاع غـــزوه

ابو ظهير

د بنو نضير غزوې وروسته دربيع الاول نه تر جمادی الاولی پوري دالله تعالی استازی حضرت محمد ﷺ په مدينه منوره کې و، جمادی الاولی په سر کې رسول الله ﷺ ته خبرراغی چې بنې محارب او بني ثعلبه (دواړه دغطفان قبيلې ښاخونه دي زرقاني) ستا سره دجنګ لپاره لښکرتړولوي ، رسول الله ﷺ دصحابه وو څلور سوه کسيزه ډله(په بل روايت اووه سوه کسيزه ډله زرقاني) د ځان سره کړه او دنجد په لور روان شو، کله چې رسول الله ﷺ نجد ته ورسيد دغطفان قبيلې له څوتنو سره مخ شو خوهغوی سره دجګړې نوبت رانغی، هلته رسول ﷺ صلوة الخوف اداء کړ دعلامه ابن سعد رحمه الله په قول دا لومړی صلوة الخوف و (عيون الاثر ۵۲مخ ۲توک)

ابوموسی اشعري رضی الله عنه وايي: ديته ذات الرقاع غزوه په دې وجه وايي:چې رقاع وايي پنډی ته وايي په تلو تلو کې زمونږ پښې شلې او سترې شوې ، درخت په توټو وترلې نو په دې ورته ذات الرقاع وايي.

ابن سعد وايي: ذات الرقاع ديوه غره نوم دی چيري چې رسول الله ﷺ ددغې غزوې په مهال دمه کړې وه او پکې سرې او سپنې نښې وي (طبقات ابن سعد ۲توک ۴۳مخ)

دبيرته ستنيدو په مهال رسول الله ﷺ ديوې ونې لاندې قيلوله خوب کاوه او توره يې په ونه زوړنده کړې وه يومشرک سړی راغی هغه توره يې واخيسته بيا يې رسول الله ﷺ ته وويل اوس به تا زماله لاس نه څوک خلاصوي ؟ رسول الله ﷺ په بشپړ ډاډ سره وفرمايل: الله !

دا دبخاري شريف روايت دی دابن اسحاق په روايت کې دي چې جبريل امين په سينه کې هغه په سوک وواهه اوتوره تري ښکته وغورزيده، رسول الله ﷺ پورته کړه او وي فرمايل: وايه! تابه زما له لاسو څوک خلاصوي؟ هغه وويل: هيڅوک نه!رسول الله ﷺ وفرمايل: ورځه! ته ما وبښلي!

واقدي وايي: دغه سړی مسلمان شو او بيا خپلې قبيلې ته لاړ، اسلام ته دخلکو په دعوت يې لاس پوري کړ چې له امله يې ډېر خلک مسلمانان شول په صحيح بخاري کې د دغه سړی نوم غورث بن حارث ياد شوی دی.

ځېرنه: ديته ورته يوه واقعه وړاندې په غطفان نومې غزوه کې چې دهجرت په درېيم کال پيښه شوې تېره شوه ځينې وايي دا يوه پيښه ده اوځينې بيا وايي: دواړه جلا، جلا پيښې دي والله اعلم (زرقاني ۲توک ۹۱مخ)

نجد ته درسیدو وروسته رسول الله ﷺ په یو لوړ ځای تم شو، عماربن یاسر رضی اللہ عنہ او عباد بن بشر-رضی اللہ عنہ یې دیوې درې دڅارنې لپاره په پهره وګومارل هغوی دواړو خپل منځ کې دا پریکړه وکړه چې دشپې لومړی برخه کې به عباد او په وروستۍ برخه کې به عمار بهرې ته پورته کېږي ، په دې توګه عمار بن یاسر رضی اللہ عنہ ویده شو اوعباد بن بشر-رضی اللہ عنہ په لمانځه ودریده، یو کافرولیدل چې یومسلمان پهره دار ولاړدی هغه وربانديې دغشي ګذار وکړ، غشی نیغ په عباد رضی اللہ عنہ باندي ولګید، خو نومورې دالله تعالی په عبادت کې دومره غرق وو چې له سره ترپښو پورې دچپل حقیقي مولا په عشق کې سرشارو، دایمان او احسان حلاوت یې زړه ته ننوتی و، غشی دهغه دعبادت لپاره مخل نشو! هغسي- په عبادت کې مشغول و، غشي- یې له زحم وویست او وي غورځاوه، کافر ددوهم غشي- ګذار وکړ هغه یې هم وویست او تاوئې کړ کله چې کافر درېیم غشي- ګذار وکړ،ور سره اندیښنه پیداشوه هسي- نه دښمن ددوی په کمین ګاه باندې حمله وکړي او دکوم غرض لپاره چې مونږ رسول الله ﷺ ته دلته کینولي یو هغه راڅخه فوت نشي نولمونځ یې پوره کړ دلمانځه وروسته یې ملګری بیدار کړ چې پورته شه تپې شوی یم! دښمن چې هغوی بیدار ولیدل نو په تیښته ووتل.

عماربن یاسر رضی اللہ عنہ چې هغه زخمي ولید نو وویلي: سبحان الله! تاولې زه دلومړي غشي- لګیدو په مهال نه ویښولم؟

هغه وویل: ما یو سورت لوستو دهغه قطع کول راته مناسب نه ښکاریدل، کله چې پرلپسي- درې غشي- راغلل راباندې ولګیدل نو لمونځ مې پوره کړ او ته مې را بیدار کړې، په خدای سوګند که درسول الله ﷺ دهکم خیال راسره نه وای نو دلمانځه دپوره کولو ځخه وړاندې به زما ځان ختم شوی و.

دتاریخ پوهانو ترمنځ ددې غزوې دتاریخ په اړه اختلاف دی محمد بن اسحاق وایي: ذات الرقاع غزوه دهجرت په ۴ کال جمادی الاولی کې پیښه شوې

ابن سعد وایي: دهجرت په ۵کال محرم الحرام میاشت کې شوې.

امام بخاري رحمه الله فرمایي: ذات الرقاع غزوه دخیبر دغزوې وروسته دهجرت په ۷کال شوې هم دا وجه ده چې امام بخاري په روایت کې دا راغلي چې ابو موسي اشعري رضی اللہ عنہ په ذات الرقاع غزوه کې ګډون درلود او په دې دټولو اتفاق دی چې ابوموسی اشعري له حبشې ځخه دهجرت په ۷کال راستون شوی .

علاوه په دې ابو داود اونورو کې روایت دی چې مروان بن حکم له ابوهریرة رضی اللہ عنہ ځخه پوښتنه وکړه:

ایا تا له رسول الله ﷺ نه سره یوځای صلوة الخوف کړی؟

نومورې وویل: ما دنجد په غزوه کې له رسول الله ﷺ سره صلاة الخوف کړی .

دا روایت په بخاري شریف کې تعلیقاً ذکر دی او ابوهریرة رضی اللہ عنہ هم دهجرت په ۷کال دخیبرغزوې وروسته درسول الله ﷺ په خدمت کې دحاضریدو شرف او سعادت مندلی دی.

پای

حرامیان څوک دي..!!؟

موسی فرهاد

چې په ننګ او په ناموس ترټولو کم وی
خدای دې مور کا په هغسی زویه بوره -
رحمان بابا

لارډ میکالي د برتانوي امپراتوری د مهال ترټول غټ انګریز قانونپوه بلل کیده ، د اوسنی برتانیې آساسي قانون هم د همغه میکالي په آساسي ابتکاراتو جوړ شوی دی. چې هندوستان او پاکستان دواړو کې هم د لارډ میکالي لارښود د سرکار آساسي قانون دی .

کله چې انګریزانو هندوستان اشغال کړ ، نو پرخلاف یې په هندوستاني ولس کې کرکه او نفرت زیات وو ، تل دا ویره وه چې د انګریزي یرغلګر پوځ پرضد به خلک راپورته کیږي .

دغه مهال د لارډمیکالي وړاندیز دا وو چې ویل یې : مونږ ته تر هرڅه لومړی دا پکار ده چې د هند په نیمه وچه کې داسی نسل وروزو چې ژبه ، وینه او شکل یې هندی وي خو عقل ، فکر او فرهنګ یې د انګریز وي . ویل کیږي چې نومورې دا خبره په ۱۹۳۵ فروري په ۲ یمه د برطانیې پارلمان ته پخپله وینا کې وکړه . او دا یې د خپلې کامیابی یوازنی لاره ګڼله .

کټ مټ همدا لوبه نن امریکایی اشغالګرو په افغانستان کې روانه کړې ده ، د جنګ جګړې ترڅنګ یې زیاته پاملرنه د فرهنګي او میډیایی یرغل له لارې د ځوان نسل د اذهانو تخریب ته وقف کړې ، د دې کار لپاره یې له غرب څخه یو زیات شمېر افغان شکله افغانان راوستي چې له هغوی نه هیڅوک ګیله نه کوي ځکه چې هغوی خو لا له وړاندې د اسلامیت او افغانیت پرخلاف د دښمن د کمان غشي وو او دي ، مګر افسوس د هغه چا پر حال دی چې تر پرونه یی ځانونه د اسلام او جهاد ټیکه داران ګڼل ځانونه یې د اسلامي او افغاني فرهنګ وارثان بلل، او د جهاد او هجرت په چاپیریال کې یې ځانونه د ښو او تحریکي مسلمانانو په توګه مطرح کړي وو، او اسلامي نشرات به یې هم درلودل، خو اوس هغوئ د خو ډالرو په بدل کې د یرغلګرو په خدمت کې پراته دي او د جهاد او مجاهدینو په خلاف د تشکیک او منفي تبلیغاتو پروژه یې له یرغلګرو په ټیکه اخیستې ده، او په ډېرې نامردۍ دوئ هم په دې اشغال شوي هېواد کې له یرغلګرو سره یو ځای په کار کولو د غرب د منحوسي ډېموکراسۍ مخ سپیناوی کوي، او د دې خدمت په بدل کې په لاسته وروړو ډالرو او نورو امتیازاتو په خپل ګومان خپله دنیا او آخرت ښایسته کوي . حقیقت دا دی چې دغه ډله دنیا پرست فرهنګیان پخپل دې کار سره هم دنیا خرابوي او هم آخرت ...!!

دا خبري مي د داسي يو څوان پوري رايادي شوي چې زه يې يقيناً دې ته حيران کړم چې رښتيا چې د انسانانو خاتمې مستوري وي ، د حديث شريف مفهوم دی د آخير وخت له علائمو څخه دا دی چې يو کس به سهار مسلمان وي خو ماښام ته به کافر شوی وي او يو کس به ماښام مسلمان خو سهار به کافر وي . د سر په سترګو يې ډېر مثالونه موندلای شو .

محمدنعمان دوست يو لغمانی ليکوال دی چې په انټرنيټي پاڼو او چاپي ورځپاڼو کې يې ډېري نويشتي تر سترګو کيږي . زه يی ډايريکټ نه پيژنم خو ورسره پيژندونکو ملګرو يې خورا ښه را پيژندلی دی . د تير جهاد او هجرت د وخت محصل مهاجر مجاهد دی ، د طالبانو د امارت پرمهال يې له هغوی سره د يو معتقد ريښتيني او متعهد مسلمان وطنپال په حيث د جهاد په روحيه خدمتونه کول ، ځان به يې د کمونيزم خلاف کلک مسلمان مجاهد باله ، حماسي اشعار به يې طالبانو ته ليکل ، ليکنې او ستاينې به يې په ادبي او شاعرانه ژبه او نثري قلم هرکله ورته ويلي او ليکلي . طالبان به يې د آزادی او خپلواکی اتلان د نيکونو پرلاره تلونکي سپاهيان بلل ، نوموړی د دعوت الجهاد د پوهنتون شاګرد پاتی شوی ؤ او د هغه پوهنتون ځانګړتيا دا وه چې استادانو او شاګردانو به يې د ډېر واړه سنت تعميل هم د فرض عين په شان پرځان لازم ګانه.

له همدې ځايه وه چې د نعمان دوست په څير څوانانو به په ښه اسلاميت او سپيڅلتيا کې ځانونه تر طالبانو هم سپيڅلي بلل. خو کله چې د رښتيا ميدان راغی نو طالب د سر په بيه ترځان تير شو خو تر اسلاميت ، افغانيت ، ازادی او خپلواکی تيريدل يې تر زغم پورته وګڼل .

أما نعمان دوست و امثاله يې بيا ډالرو ته ځان ټينګ نه کړای شو ، ډالر يې خپل کړل خو نور يې هرڅه ترشاه کړل ، هغه چې سنت عمل به يې د فرض په شان ګانه ؛ خو اوس له جهاده منکر شول ، منکر څه چې تحريف او استهزاء يې شروع کړه . د يرغلګرو کافرانو خدمت ته يې داسی ځان وقف کړ چې تر عام ماموريت ورپورته يې فرهنګي او فکري چوپړ ورته پيل کړ ، قلم يې د اسلام پرځای امريکايي ديمکراسی تر بر ونيوله ، په ليکنو کې يې د مجاهد او جهاد ټکيو ځای تروريست او تروريزم ته خالي کړ ، د امريکايی يرغلګرو موجوديت يې د افغانانو لپاره نيک شګون وباله ، اسلامي نظام يې طالبانايزيشن او غربي ديمکراسي يې د هر افغان ارمان وګڼله . د طالبانو په مشری د افغانانو اوسنی برحق منصوص عليه جهاد وحشت ګڼي او له هغوی سره مرسته د نمک حرامه او حراميانو انسانانو کار بولي .

د نعمان دوست زياتره ليکنې خورا مُضِري وي ، خو هغه ورځې يې د غزلچي صديق پسرلي د زامنو په يوه ويپاڼه (تاند) کې يوه مقاله خپره شوه چې اصلاً يې د ارګ ميشتو ګودګيانو اتمرخيلو يوې ورځپاڼې سرخط ته ليکلي وه ، او عنوان يې ورکړی وو ، حراميان .

نوموړي په دې ليکنه کې حراميان، نفوذي مجاهدين بللي وو ، يعني هغه ځينې ورونه چې په اردو ، پوليسو او نورو ادارو کې داخل شوي وي او بيا د خپلو ايماني جذباتو او وطني غيرت پر بنا په پټه له مجاهدينو سره مرسته وکړي ، امريکايی يرغلګر کافران او يا د هغوی ګودګيان ووژني او وسله يې مجاهدينو ته ورسوي ؛ د ښاغلي نعمان په اند، دا خلک حراميان دي .

ده د خپل ډبل سري حکومت لـه کارمنـدانو څخـه پـه کلکـه غوښـتنه کـړي وه چـې ژر تـر ژره دغـه حرامیـان د حکومت له لیکو وباسي ځکه چې د ده پـه وینـا دا لـه ترهګـرو سره مرسـتي کـوي . او دا د افغـان حکومـت او نړیوالـو دوستانو لپاره تر ټولو خطرناک تاکتیک دی .

زه په ډېر ډېر تأسف سره له ښاغلي دوست نه پوښتنه کوم چې تا خو پخپله ویکیپیډیا کې لیکلي چې علم الفقه ، حدیث ، تفسیر ، بلاغت ټول عربي ديني علوم دي لوستي دي . د دین او ایمان په شرایطو به ښه پوهـیـي ، تـه پـه رښـتیا ووایه چې فرض یې که بل کس دا خبره کړي وي او تاته څوک ووایی چې د قرآن او حدیث په رڼا کي پرته لـه تحریفـه دا سړی څنګه ګڼي ؟ ایمان ورپاتی دی کنه ؟، تجدیـد د ایـمان تجدیـد د نکـاح تـه اړتیـا لـري کنـه ؟ یوځـل بیـا داسي وضاحت درته وکړي چې:

یو کس چې د متجاوز کافر پر خلاف یې تـوره اوچتـه کـړي وي د فـرض عـین جهـاد امـر پرځـای کـوي ؛ او بـل مسلمان سړی په تاکتیکي ډول د کافرو په صف کې وي او بیا له هغه مجاهد سره مرسته وکړي ، ته هغه تـه حرامـي یـاني حرامزادی ووایی ، دا کار یې غلط او منکر وبـولي آیـا تـه بیـا مـؤمن بلـل کیـدای شي ، ترځـو دي توبـه نـه وي ایسـتلی ؟! تحریف او غلط تأویلات به د کشاف او سیاف غوندي، نه کوي ځکه چې تحریف کول بیا ډبل کفر شو ، د قـرآن او حدیث اصلي او واقعي حکم ته به رجوع کوي...!!!

ښاغلی دوست صیب! ته خپل ایمان ، وجدان او ګریوان قاضي کړه او بیا ووایه چې هغه څوک به حرامي وي چې له یرغلګرو کافرانو سره د خپل وطن په اشغال کې ملګري شي ، خپله خاوره ، خپل دین ، خپل ناموس د متجاوزو کفارو لپاره لیلام کړي ، له هغوی سره یوځای د آزادی غوښتونکو مجاهدینو په مقابل کې جنګیږي ، د وطنوالو په کورونو کـې د شپې او د ورځې ورلویږي ، مسلمانان په شهادت رسوي ، بندیانوي یې ، وهي او ټکوي یې ، توهین یې کوي آیا دغـه کس به حرامزاده وي او که دغه څوک چې د مجاهدینو مرسته وکړي ؟! دا پوښتنه یوازي زما او زما د وطنوالو نه ده چې په دنیا کې یې له تاځخه کوي ؛ بلکي دا پوښتنه هرو مرو په قیامت کې هم درځخه کیدونکي ده . سـتا جـواب کـه اوس هرڅه وي، هلته خو به ضرور رښتیا وایی که څنګه .؟!

ښاغلی نومان ! زه دا منم چې دا ډول خبري خو د کابل په اداره کې ډېره عادي مسئله ده ، پـه هـرو پنځـو دقیقـو کې سړی ضرور یوه د کفر کلمه اوري ، ځکه چې کفار او د کفارو د ډالر به دومره اغیز خامخا لري.

خو خبره دا ده چې د دا ډول خبرو ګیله خو څوک له فیسبوکي مجید قراري او شرابي عصمت کـاني او د ارګ و اتمر د ډالري ټیم مربوط نورو کوڅه ډبو لوچګانو څخه نه کوي ، ځکه چـې هغـوی خـو اکـثراً لـه اسـلام او د اسـلام لـه فرضي حکم جهاد نه دومره کرکه او نفرت لري ، لکه یو ریښتینی مؤمن مسلمان چې له کفر نه کرکه لري .

نو له هغوی نه خو دا ډول ګیله او پوښتنه هیڅ مطرح کیږي نه ، د هغوی لپاره خو فقط د مجاهد توره پاتي ده . اما داسی وګړي چې ځان ورته اوس هم ریښتینی مسلمان ښکاري ، او د یو مجبوریت او یا غربت له وجي یې ځان د کفارو صف ته ورټیل وهلی وي ، نو که نور څه نشی کولای نو د خپل ایمان زیان خو دې په دا ډول نـا ځـوان مردانـه خـبرو او کفریه کلماتو سره نه کوي ....!!! پای

ترکیه پس از یک شب تاریخی

ابوصهیب حقانی هراتی

در این تردیدی نیست که دنیای کفر تمام عزم و اراده اش بر این است که ملت های مسلمان را هیچ وقت نگذارد در فضای آرام و خوش زندگی کرده و حداقل از امنیت، عزت و استقلال نسبی برخوردار باشند؛ دشمنان اسلام همواره سعی و تلاش کرده که جنگ و اغتشاش و خونریزی در کشورهای اسلامی و مخصوصا در نقاط مختلف خاورمیانه گسترش یافته و ملت های ساکن در این قاره که عمدتا مسلمانان اند در اوج تنش و خشونت، جنگ و خانماسوزی و تفرقه و اختلاف به سر برده و به انواع مختلف و بهانه های واهی و دور از حقیقت این خطه از گیتی را مورد تاخت و تازهای سیاسی و جولان هدف های استعماری خویش قرار داده وبدهند.

از ترکیه به عنوان کشور مسلمانی یاد می شود که بسیاری از دشمنان اسلام چشم دیدن پیشرفت های این کشور در عرصه های مختلف را نداشته و همواره آن را به عنوان یک تهدید جهانی می بینند و چون ترکیه تاریخ با شکوه خلافت عثمانی را با خود حمل می کند که در چند صدهٔ متوالی رهبری جهان اسلام را به دوش داشته، همچنان از نگاه دشمنان به عنوان یک خطر جدی تلقی شده و می شود؛ و مخصوصا با تلاش های حزب حاکم "عدالت و توسعه" به رهبری رجب طیب اردوغان که با سیاست های دوراندیشانه و پختهٔ شان ترکیه را در عرصه های مختلف مخصوصا در عرصهٔ اقتصادی رونق خاصی بخشیده و این کشور را به حیث یک قطب شاخص اقتصادی در جهان مطرح نموده اند.

در حوزهٔ سیاست خارجی نیز ترکیه همواره کوشیده است در کنار جهان اسلام و مسلمانان مظلوم باشد؛ از حمایت مردم غزه در فلسطین و قطع روابط با اسرائیل در سال ۲۰۱۰ تا حمایت و پشتیبانی از مظلومین برما و همینطور تلاش در جهت رفع تنش ها در کشورهای عراق و سوریه و مقابله با سیاست های چالش برانگیز و اقتدار جویی های منطقه ای امریکا و روسیه در خاورمیانه، و بعضا مجبوریت هایی موجود و شرایط خاص ترکیه در داخل و خارج و همکاری های این کشور با ناتو و غرب؛ رویهمرفته چندان این سیاست های رهبران فعلی ترکیه به مزاق جهان غرب و امریکا خوش نیامده و با حمایت و اصرار بعضا افراد تربیت شدهٔ آنها در ارتش ترکیه اقدام به طرح کودتا در پانزدهم جولای ۲۰۱۶ کردند که قطعا به شکست انجامید و باعث ثبات درونی بیشتر حزب حاکم در بین مردم و احزاب مخالف آن گردید.

ترکیه که در تاریخ خود فراز و نشیب های زیادی داشته و از این قبیل کودتاها نیز بسیار دیده؛ اماکودتای نظامی ارتش در ۱۵ جولای از آن جهت مهم و غافلگیر کننده بود که بسیار پیچیده و عمیق و در عین حال بی

برنامه و دقیق انجام شد، کودتای نظامی اخیر و آن شب تاریخی شاید در تاریخ ترکیه بسیار ماندگار شود و تا مدت مدیدی اثر و داغی مشتی (که ارتش کودتاچی در این شب به دست مردم متحد و یکپارچه بر صورتش خورد) بماند و هرگز حداقل به این زودی ها دیگر هوای جفتک پرانی و شمشیر زنی به سبک و سیاست و رفتن بر نقش قدم کمال آتاتورک را پیدا نکنند؛ اینکه چه عواملی باعث کودتای ترکیه شد و اینکه چه عواملی باعث شکست کودتای ترکیه گردید، بحثی کاملا مفصل و پیچیده ای است که این مجال مختصر محل بیانش نیست؛ ولی آنچه که مسلم است درسهای آموزندهٔ این کودتا و شکست آن است که به ترکیه و دیگر ملت های مظلوم جهان داد؛ اینکه اگر ملتی نخواهد غلامی کسی را قبول کند و در مقابل طوفان غرب ایستاده شود و عزم و توکل آن ملت بر زور حاکم نباشد بلکه بر ذات یگانه الله متعال باشد پیروزی و موفقیت حتمی خواهد بود و نصرت الله متعال در یک شب ملتی را از بدبختی و فلاکت نجات می بخشد.

پیروز واقعی در کودتای اخیر ترکیه نه کودتاچی های فریب خورده و حامیان داخلی و خارجی مکارشان، نه شخص رجب طیب اردوغان و حزب حاکم عدالت و توسعه؛ بلکه ملت قهرمان تُرک بود که مردانه وار به ندای رئیس جمهورشان لبیک گفته و دست خالی به جنگ ارتش مسلح با توپ و تانگ و نیروی هوایی و زمینی رفتند؛ آنها فقط یک انگیزه می خواستند که رهبرشان اردوغان به آنها داد و یک شعار ایمانی که بعد از اقامهٔ نماز فجر با فریادهای کفرشکن بسم الله، الله اکبر به سرک ها و جاده ها برآمدند و در مقابل جنگ افزارهای فولادین ارتش ایستادند؛ گویا ملت ترکیه عزم و ایمان فولادین خود را با جنگ افزارهای فولادین ارتش جنگ می دادند که بالاخره با توکل شان به الله یگانه به نصرت و پیروزی رسیده و فتنهٔ کودتا را در نطفه خفه ساختند.

اینکه چرا این کودتا صورت گرفت و چه دست های پشت پرده در این کودتا نقش داشتند و اینکه هدف شان چه بود کاملا پرواضح است که مخالفان اردوغان نه بلکه دشمنان اسلام بودند که نمی خواهند جرقه های بیداری اسلامی که در ترکیه توسط فعالیت های شبانه روزی حزب حاکم زده شده را ببینند؛ بسیاری همانطور که برحسب گزارش های خبری در شعارهای کودتاچیان در نطق رسمی شان که از طریق تلویزیون ملی ترکیه به نشر رسید مشاهده کردند که کودتاچیان شعارهای کمال آتاتورک (که جفای بزرگی در حق اسلام با منع موازین اسلامی در ترکیه در همکاری با آجندای غربی و انگلیسی انجام داده بود) را سر می دادند و این کاملا مشخص و هویدا می سازد که چه کسانی پشت پردهٔ این کودتای نافرجام بودند.

به هرحال الله متعال یک خطر جدی را از سر ترکیه و مردمش رفع کرد و هیچ پیدا نبود که اگر این کودتای شوم موفق می شد چه مصیبت بزرگی دیگری بر مسلمانان نازل می شد؛ ولی ایکاش ملت غیور افغان نیز به این درک و حقیقت برسند که اگر اراده کنند الله متعال آنها را نیز بر دشمنان متجاوز صلیبی و اجیران حلقه به گوش آنها در یک شب به پیروزی می رساند.

به امید روزی که ملت ها به پاخیزند و حق از دست رفتهٔ شان را از حلقوم ستمگران بیرون کشند!

حسن زوی

د امریکا نوې پرېکړه ګټورا قدام
که د هلاکت پر لوریو بل ستر ګام؟

پدې وروستیو کې د امریکا دګډوځواکونو دکمېټې مشر- جنرال ډنفورډ ویلي دي چې په افغانستان کې د امریکا جګړه یز ماموریت پای ته ندی رسېدلی اونه به هم په نږدې راتلونکي کې دغه ماموریت پای ته و رسېږي .

دیاد جنرال داخرګندونې کومه نوې خبره نده بلکې دامریکادهماغو ارادوتکرار دی کومې چې په تېرې میاشت کې راښکاره شوی وې .

د جون میاشتې په ۲۰مبی لسیزې کې د نړیوالو رسنیو له لارې راپورونه خپاره شول چې دامریکا تورپوستي ولسمشر اوباما په افغانستان کې خپلو پاتې اشغالګرو عسکرو ته دافغان مظلوم ولس پرضد دجګړې دپراخېدو په اړه لازیات واکونه ورکړیدي ترڅو ښه په خلاص مټ دهېوادهرکور،ښوونځی ،جومات ، مدرسه ،کلی ، ښار،غراودښته چې یې زړه وي بمبارکړي؛ دشپنیزوعملیاتوپه نوم په توروشپوکې دمظلوموافغانانوپه کورونو ورواوړي ؛ افغانستان لازیات ونړوي اودولسي افغانانو په وژلو کې ښه زیاتوالی راولي.

بیادهمدې میاشتې په روستیو ورځو کې رسنیو راپورونه خپاره کړل چې په افغانستان کې داسلامي امارت دمجاهدینو پرضد بیا امریکایې ځواکونو بمبارونه پیل او داوباما له لورې خپلو عسکرو ته دجګړې په ډګر کې دورکړل شوی ډېر واک عملي مظاهر راښکاره شول.

دامریکا دا اعلانونه او اقدامات په داسې حال کې دي چې دګران هېواد داشغال دپیل نه ترننه زمور دمظلوم ولس پرضد دامریکایې اشغالګرو عسکرو وحشي عملیات او بمبارونه روان دي کومه وقفه پکې نده راغلې.

هوا!په مخامخ جنګونو کې دسترو شکستونو ،دجنګ دډګر نه دتېښتې او ترخپلو مرکزونو دمحدود کېدلو نه پس چې امریکایانو د ۲۰۱۴ کال پای ، په افغانستان کې دخپلو عملیاتو پای

اعلان کړ او ویې ویل چې نور یې کار دادی چې دکابل رژیم ته وسله وال وروزي نو ګومان یې کاوه چې دا به کامیابه پالیسي وي؛پدې اعلانونو به افغانان وغولېږي؛ پدې پلمه چې امریکایان په ډګر کې نشته ولس به داسلامي امارت دمجاهدینو مرسته او تائید پرېږدي او دکابل دادارې حمایت به پیل کړي.

خو دامریکایانو له بده مرغه چې دا مهالنی پالیسي- یې دسختې ناکامی سره مخامخ شوه؛امریکایانو ولیدل چې نه یواځې ددوئ په لاس دروزل شویو ځواکونو،مزدورو او ګوډاګی ادارې پرضد دافغانانو په نفرت کې هیڅ کمی رانغلو او نه دا غیرتي ولس دمجاهدینو دمرستې او تائید نه لاس په سر شو بلکې ګوډاګیو خواکونو ته دجګړې په ډګر کې دواک زیاتېدو نه پس چې دمظلومو افغانانو پرضد ددې ګوډاګیو په وحشت کې زیاتوالی راغلو نو روسره یو ځای ددوئ پرضد دولس نفرت هم زیات او داسلامي امارت دمجاهدینو په محبوبیت کې هم ډېروالی راغلو چې په نتیجه کې دهېواد په ټولو برخو کې ډېر پراخې سیمې دمجاهدینو په لاس فتح شوې ؛ دګوډاګیو عسکرو مرګ ژوبله په بی ساري ډول زیاته شوه؛داردو دلیکو نه دتېښتې کچه هم خپل ترټولو پورتني حد ته ورسېده او دکابل دادارې دسقوط احتمال ډېر قوي شو نو خپلو ګوډاګیانو ته دنوي روحي ورکولو په هیله امریکایانو دا نوي اعلانونه اوددوئ په ویناوي اقدامات وکړل .

مورِ منو چې دا به تش اعلانونه نه وي؛ددې اعلان نه پس به یوځل بیا دافغان مظلوم ولس پرکورونو شپنی چاپې زیاتې شي؛دمجاهدینو سره داړیکو او خپلوی په تور به ډېرځوانان سکنجه او زندانونو ته یوړل شي؛دخلکو کورونه،جوماتونه،مدرسې،شوونځي او روغتونونه به لا زیات بمبار شي؛مېرمنې،کوچنیان او بوډاګان به لازیات ووژل شي؛ډېر عام المنفعه بنسټونه به له منځه ولاړ شي؛ددېرو بارودو او کیمیاوي موادو دکارولو بدې اغېزې به عامې شي؛دافغانستان نړولو او تخریبولو کمپاین به لا زور واخلي؛او په سونو زره غریب،مظلوم او بی چاره افغانان به په افغانستان کې دننه دخپلو کلیو او کورونو پرېښودو ته اړشي.

دامریکاددې اعلان او عملا دبمبار دپیل سره داهر څه ملګري دي خو پوښتنه دا ده چې دا به اشغالګرو امریکایانو ته څه ګټه ورسوي؟آیا ددوئ او دګوډاګی ادارې پرضد به دافغانانو په کرکه کې کموالی راشي؟آیا افغان ولس به داشغالګرو اشغال ومنې ؟ آیا ددوئ پرضد روان مقاومت به کمزوری یا له منځه ولاړ شي؟ او که طالبان به ختم شي؟

نه هیڅکله هم نه!دا هیڅ به هم ونشي،همدومره به وشي چې دامریکا جنایتکاره وحشي- او ظالمه ځپره به نړۍ ته لازیاته روښانه شي؛پرضد به یې دافغان ولس کرکه لا ډېره او احساسات پیاوړي شي؛په مقابل کې به یې روان جهادي بهیرلاقوت ومومي؛دیرغلګرو په مقابل کې به ولسي- وحدت او اتفاق نور هم ټینګ شي؛په ولس کې به داسلامي امارت محبوبیت نور هم ډېر شي او دامریکا منافقه څېره به نړۍ ته نبه روښانه شي چې له یوې خوا دسولې خبرې کوي او له بل لورې دجګړې دلاغزولو او لا ګرمولو اقدامات کوي.

موږ چې دتېرې یوې نیمې لسیزې راهیسې دامریکا سره دانساني تاریخ په یوې درنې ، اوږدې او سختې جګړې کې اخته یو دامریکا ټولې کمزورئ راته دلمر غوندې روښانه شوې. ترټولو لویه کمزوري یې داده چې دخپلو شومو اهدافو دحصول په لار کې وربانديې سترګي داسې پټې وي چې ددښمن هیڅ ارزونه نه کوي؛خپل دښمن ته تل په کم نظر ګوري اوچې کله پرې حمله کوي نوپه زړونوکې داګوړی شکرې ماتوي چې په څوورځوکې به یې له منځه یوسي چې همدا یې دتباهۍ سبب ګرځي.

امریکا چې دټول مسلمان ملت پرضد جنګ اعلان کړی او عملا یې دافغانستان داشغالولو نه پیل کړی و نو داشغالګرو په مقابل کې دټول ولس ودرېدل یوه طبعي خبره وه او داهم حتمي اویقیني وه چې دنړۍ ټول ژمن مسلمانان به ددې ولس په مرسته ځان مکلف ګڼي خو دامریکا حماقت ته وګوره چې هیڅ یې دانه ګڼله چې داجنګ یې دنړۍ دسترملت یادیوعظیم تاریخي ولس پرضد دی بلکې ویل به یې چې جنګ یې دطالبانوپه نوم یوې کوچنۍ ډلې پرضد دی چې په څوورځوکې به له منځه ولاړه شي .

دطالبانو ستر غورځنګ یې یوه کوچنۍ ډله بلله او په څو ورځو کې یې ددې ډلې پرضد دجنګ ګټولو خیالي خوبونه لیدل ؟!

امریکا او متحدینو یې چې په تېرې یوې نیمې لسیزې کې ددې ولس پرضد خپل ټول قوت وکارولو؛دظلم او وحشت ټولې طریقې یې پرې وازمویلې او بې مثله مالي او ځاني تلفات یې وروړل خو ددې ولس ارادې یې بدلې نکړې دا ارادې په راتلونکی کې هم بدلیدونکې ندي .

نو امریکا باید نور دځان غولونې هڅې ترک کړي ؛خپل اخلاقي مسئولیت دې ادا کړي؛شکست دې ومني؛دافغان ولس نه دې ښبنه او دخوندي وتلو لار وغواړي ، ګڼې دشرم نه دډکې تېښتې لمحات یې هسې هم رارسېدلې دي بیا به لاسونه مروړې خو وخت به ځنې تېر وي.

دسپين غر د آسمانځکو ځوکو زمريالی مجاهد،

شهيد الحاج مولوي نورمحمد (حقپال رح)!!

هرگز نميرد آنکه دلش زنده شد به عشق
ثبت است بر جريده عالم دوام ما

مفتي ابو محمد حقاني

دختيځ نابغه اوداسلامي امت دوحدت سترد عوتگر علامه سيدجمال الدين افغان رح څه ښه ويلي : ((په شرق کې ميړونه او نوميالي چې ژوندي وي، نو مړه دي، خو چې کله بيا مړه شي ،نو بيا ژوندي شي)) ،دا ربښتيا خبره ده، چې زمونږ په ټولنو کې دژوندپو علمي ،جهادي اويا ټولنيزو شخصيتونو قدرنه وي او نه يې دستاينې او درناوې پاڼه څوک اړوي ،دوئ دخلکو په منځ کې ورک وي او که کوم علمي اثريا حماسي شهکاري يې ډګر ته راونه وځي، نو څوک يې نه پيژني او نه يې څوک په استعداد او وړتيا باندې ويارې، خو چې ومري او ددوئ له سترګو پناه شي، نو بيا پرې نمانځغونډې جوړيږي ،مرثيې او شعرونه پرې ويل کيږي ،ژوندليکونه او آندليکونه يې په يادليکل کيږي او دامهال خلکو ته ټولنلی اجتماعي سټه شي ،خو دامهال بيا اوبه له ورخه تيرې وي ،دهغه خواني خاورې ايرې شوي وي او دمرګي داړونکې ژامونيولی اوددې زرغونې نړۍ نه يې بلې دنيا ته ليږلی وي ،لکه سترخوشحال خان خټک چې همدامفهوم په خپل يوه اعجازډوله بيت کې څه ښه انځور کړی دی :

دخوشحال قدر که نن په هيچا نشته
پس له مرګه به يې ياد کا ډير عالم

خبره مې دشهيد مولوي نورمحمد حقپال رح دميړانې او قهرمانۍ په اړه کوله، چې دا فقيد شخصيت هم دداسې عجيبو او غريبو صفاتو خاوند و،چې زمونږ غونډې ډير نور ترې بې برخې دي ،دده دشخصيت دځانګړتياوو په باب زما معلومات ځکه بايد وي ،چې زه هغه مهال نږدې د(۱۹۹۱او ۱۹۹۲ز)کلونوکې دپيښور دسپين جومات دجامعه اسلاميه نعمانيه دپنځمې درجې طالب وم او نومورې شهيد راسره په ځينوکتابونو کې يوځای وو،نو يوه چاته دخپل ټولګيوال اوهمدرسي ملګري دځانګړتياوو معلومات په طبعي لحاظ تر نورو ډير وي .

مناسب داوه ،چې ډير پخوا مو دنومورې شهيد او جهادي اتل ،ژوندليک يا سوانح دلوستوالو دمعلوماتو او دشهيد دحق پر ځای کيدو په آند مطبوعاتو ته را ايستلای وی، خوله بده مرغه کله نا کله له سړې نه غټې غټې خبرې هيرې شي اوس دې هم دفرهنګي کميسون دمشرتابه په ژوند کې څښتن تعالی برکت واچوي، چې مونږ يې دې ته پرله پسی وهڅولو، ترڅو پرې څو کرښې تورې کړو او دا نومورکی شهيد يوه نيمه لسيزه پس بيا دخلکومخکې وځلوو!

هغه وخت چې دروسانو ديرغل پر خلاف دجهادکلونه وو،نو دا نومورې دمرحوم مولوي محمديونس خالص رح ترقيادت لاندې اسلامي حزب کې دشهيد انجنيرمحمود په اړوندو جبهاتوکې ديوه تاند او هڅاندمجاهدپه توګه پيژندل کيده او دارتياوو په وخت کې به ترهر چا وړاندې دجهاد په مورچلونو کې دزمري غوندي ولاړ و،له پخوانه يې جهادي رزم او حماسي خوښيدي ،له مورچلونو سره يې ليونی مينه او دسپين غر او تور غر دغرونوپه دنګو څوکو او ترانګو کې به يې لکه دعقاب غوندې پر دښمن بريدونه کول .

زوکړه:

شهيد مولوي نورمحمدحقپال رح دننګرهارولايت د خوګيانو ولسوالی دوزيرو دسيمې د(پيره خيلو) کلې کې محترم الحاج خيرمحمد کره په (۱۹۷۰ز)کال کې وزيړيداو دژوند دسترتياوو خاپورې يې پيل کړي،په خاپورو خاپورو يې ځان ديوه اسلامي چاپيريال له خصوصيتونو سره بلد کړ،کوچنی وسترشو،بلوغ ته ورسيد،دجهاد اوعلم له کرشمو نه يې خپله بهره واخسته او بالاخره په همدې سپيڅلې لاره کې يې خپله پاکه وينه څښتن تعالی ته نذرانه کړه .

زده کړه او فراغت:

شهيد الحاج حقپال دخپل خيړ او اغزن چاپيريال او هم دهجرت دستونزمنو شيبو له زغملو سربيره له پيله خپلو اسلامي زده کړو ته ادامه ورکړ او لکه دهيواد دنورو علماوو په شان يې خپل ابتدايي درسونه دهجرت په ديار کې دپيښورپه مختلفومدرسو کې ولوستل او له نيکه مرغه چې دوره حديث يې په ديوبند ثاني (جامعه دارالعلوم حقانيه اکوړه خټک)کې په (۱۹۹۳ز)کال بشپړ او هماغلته يې همدا کال دپګړی مراسم او بری ليک ترلاسه کړ، تردې وروسته نومورې هيواد کې د(۱۳۷۰او۱۳۷۵ش)کلونو ترمينځ دخپل کلي په يو مسجد کې دامامتی سپيڅلې دنده ترسره او ورسره په يو ه ځايي مدرسه کې دمدرس په حيث پاتې شواو خپل ځان يې لکه دنورو علماوو داخلي جنګونوکې له تلويث او ککړتيا نه وژغوره ،ترڅو چې په ميوند کې دطالبانو داسلامي تحريک سپين بيرغ رپانده او دا نومورې شهيد

ددې ژغورنـــده کـــاروان دسرلښـــکرفقيد لارښـــود ملامحمدعمر مجاهدرح تـر مشرۍ لاندې روان شو .

ذوالهجـــــرتين شهيد :

کلـه چـې روسـانو پـه افغانســـتان يرغـــل وکړ،نوموړی شهيد دا مهـال (۸)کلـن و،خـو لـه هماغـه وخته يې له جهاداو مبارزې سره بې کچـــه مينـــه او دلچسـپي پـه څپـو وه ،نـو هماغـه وو،چـې دخپلـې کـورنۍ سره مـل يـې پـه (۱۹۷۹)کـال کـې دهجـرت لاره ونيوه او پاکسـتان کـې دپيښور ډيوډمهاجربازارپه سيمه کـې دخپـل کـور سره ميشـــت شـــو؛کله چـــې روسانوشکست وخوړ او عام افغانـان خپلـو سـيمو تـه بيرته لاړل او بيا چـې کلـه اســـلامي امـــارت پـــه (۱۳۷۵ل)کـال کـې واکمـن شو،نو نوموړي شـهيد پکـې په لوړو دندو خدمت وکـړاو دامريکايانو له يرغل وروسته يـې دذوالهجـرتين افتخـار هـم وګاټـه او بـالاخره پـه (۲۰۰۱ز)کـال کـې بيـا دهجـرت زاړه ديـار تـه مهـاجراو داشغالګرو پـرخلاف يـې دجهـاد نيـزې او غشـي- راواخسـتل او خپـل زنګين ټوپک يې پاک او داسلامي نظام دښمنانوته يې خپله چانټه له ګولیو ډکه کړه .

دطالبانو اسلامي تحريک سره ملګرتيا:

هاغه وخت چې هيواد دداخلي ټوپکسالارنو، او مغرضو کړيو لخوا دتجزيـي او عـدم ثبـات لـه خطـر سره مخـامخ شـواو ناچـاره دهيـواد طالبـانواو علـماوو دخپـل ايـماني او اخلاقـي مسـؤليت پـر اسـاس دشروفساد پر ضد پاڅون ته چمتو شول، له نيکـه مرغـه دامیرالمؤمنين ملامحمـد عمـر مجاهـد رح پـه قيـادت دطالبانواسـلامي تحريـک دکندهارپه افق کې ظهور وکړاو ترخوسـت ولايـت پـورې راورسـيد،نو هماغه وو،چې نوموړی قهرمان شهيدمولوي نورمحمد حقپال هم دخپـل استاذمولوي محمد ظاهر نصرت په مشرۍ ديوې لـويې ډلې مجاهـدينو په شـمول ددې تحريـک سره پـه (۱۹۹۶ز)کـال کـې عملاًيوځـای اولـه مشرتابه سره يې بيعت وکړ،دتحريک دمشرانوحکم ته يې لبيک ووايـه ،تردې چې دطالبانودقهرمان قومانـد شـهيد مـلا بورجـان رح پـه لاس ننګرهارفتحه اوفاتحې لښکرې دکابل تر ماهيپره پورې ورسيدې .

دندې او مسؤليتونه:

کله چې دننګرهار ولايت دطالبانو داسلامي تحريک لـه خـوا فتحه شو، مولوي محمدظاهر نصرت چې يو نظامي پيښوړی تجربه کـار مجاهـد و، دتـورخم او سرحـدي نظـامي مرکزونـو اوقطعـاتو لپاره دعمومي مشر په توګه وټاکل شو، نـو داوخـت مولـوي نورمحمـد حقپال دنوموړې سره دهمکار او اعتمادي ملګـري پـه توګـه وظيفـه ترسره کوله، دڅه مودې وروسته چې کله مولوي محمد ظاهر نصرت په شهادت ورسيد، دننګرهارولايت دمسؤلينولخوايې پر ځای مولوي محمدالله(وحدت) دعمومي نظامي مشر پـه توګـه اومولـوي نورمحمـد

حقپـــــال د معـــــاون پـــه توګـــه وټاکـــل شـــول، شـــهيد مولـــوي محمدالله وحدت به زيـات وخت دهيـواد پـه شـمال کـــې دمخـــالفينو سره دمجاهـدينو قومانـده پـه غاړه لرله.

نـو ځکـه بـه مولـوي نورمحمدشهيد دلته دمعاون او سرپرست وظيفه تـرسره کولـــه ،دوخـــت پـــه تيريـــدلو سره مولـــوي محمدالله وحدت دکابل سره نږدې د ګلدرې پـه سـيمه کـې پـه شـهادت ورسـيد، اوپر ځای يې شهيد مولـوي نورمحمـــد وټاکـــل شـــو ، نوموړی ددې سربيره شمالي جنګي کړښو ته دتشـکيلاتو پر وخت ځوځو ځـل پـه مختلفـــو خـــايونو کـــې دمسـئول پـه توګـه ټاکـل شـوی،همدارنګه دننګرهـار ترټولو مهمه او ستراتيژيکه ولسـوالي (دره نـور) لپـاره دولسوال په توګه توظيـف شو، چې لـه هغـې وروسـته

دننګرهـار دهسـکې مينـې ده بـالا ولسـوال وټاکـل شـو ، ددې سربيـره دننګرهار دولايت دمشرتابه لخوا وخـت ناوخـت دنظـامي قطعـاتو او غونډونو سرپرسـتي هـم تـرسره کـړي. د(تـورخم دشمشادداقصـی دلـوا دقوماندان پـه توګـه ،ددهکـي دغونـډاو لنـډي خيبر)اونـورو سرحـدي قطعاتو دمسؤل په حيث يې مسؤليتونه ترسره کړي دي.

دامريکايانو لخوا پراسلامي امارت لـه يرغـل وروسـته دننګرهـار دنظامي چارو د مسئول په توګه تعيين اوپه هغو حالاتو کې يې دنوي انقلاب او صليبي اشغال پـرخلاف دننګرهـار پـه سـيمه کـې دجهـاد دسپيڅلې مبارزې لپاره ځوانان وهڅول.

يوه نه هيريدونکې تاريخي حماسه:

پر نورو حماسي اوجهادي ويارنوسربيره يې يـوه لويـه ويارنـه او حماسه داده، چې مولوي نور محمد شهيد په هاغومره سختو شرائطـو کې چې دامريکا صليبي مزدورانو يې په پوره زور سره دهرډول مډرنو وسلو او جنګي الوتکوپه را الوزولو سره تاريخي (توره بوړه) خپل هدف وګرځوله ،لکه څنګه چې ګمان کيده ، چې شهيد شيخ اسامه بن لادن رحمه الله په (توره بوړه) کې له خپلو ټولو عربو مجاهدينو سره محاصره دی او دښـمن يـوه لحظـه هـم دبمبـار او توپونـو څخـه پرتـه نـه پريښـودله، مګـر پـه هماغـو سـختو حـالاتو کـې مولـوي نورمحمـد حقپال دخپلو مجاهدينو سره دمرستې په موخه (تورې بورې) محاذتـه ورغی او دخارجي مجاهدينو دخوندي ايستلو لپاره يـې لارې چـارې

برابـــرې کـــړي او دلـــوی خـــدای پـــه فضـــل سره پـــه خپل پلان کـې بریـالی او زیات مجاهـدین او مشران یـــې لـــدې محـــاصرې روغ رمـــټ را ووتـــل ، تـــردې وروسته یـې هـم دیرغلګـرو پرخلاف په نظامي میـدان کـــې پـــه تـــدریجي ډول دافـرادو اومجاهـدینو په جلب اوجـذب کـې بـې ساړې خدمات انجـام کـړل او ډیـر فوایـد پـرې مرتـب شول .

یـو زوی او دوه شـهیدان ورونه:

داســـلامي امـــارت دسپین بیـرغ تـر قیـادت لانـــدې شـــهید مولـــوي نورمحمد حقپـال رح خپـل دوه ورونه او یو تنکی زوی دالله تعـالی ددیـن لپـاره نذرانـــه کـــړل، یـــو ورور یـــې (شـــهید ملـــک عنبرګـــل) وتلـــی نظـــامي تجربه کار او دده له شهادت وروســـته یـــې دســـیمې دمجاهدینو مشري په غاړه لرله،دامریکایانو په هوایي بریـد کـې پـه شهادت ورسید، دویم ورورېې چې دزړ ورتیا او جرأت یوه نمونه وه، هغه شهید قوماندان (ملا احمد حنیف) نومیده، نومـوړی پـه نظـامي میدان کې دیـو ښـه ملګـري پـه ځـای ولاړ و، د صـلیبیانو او هغـوئ دمزدورانو د چاپې پر مهال شهید شو،او دې وروستیو کې یې اتـه لـس کلن مشر زلمی زوی (طالب الحق) د داعشـیانو سره پـه مخـامخ جګـړه کـې پـه شـهادت ورسید،شـک نشـته چـې دشـهید مولـوي نورمحمـد حقپـال کـورنۍ جهـادي وزمـه او داسـلام لپـاره دقربـانیو زیـاتې بیلګې لري .

ځانګړتیاوې:

شهیدمولوي نورمحمـدرح کـې دیـوه کامـل انسـان خصوصـیتونه موجودوو،په کوموصفاتو چې یو بشردکمال پـر پوړیـو خیـژي، ځښـتن تعالی هماغه ځانګړنې ددې شهید په برخه کـړي وي ،نومـوړی ځـومره چې ماپیژانده یومتواضع ،تقوی دار او فقیرمزاجه انسان و،دهرطالـب ،مجاهداو ملګري مخکې به یې تواضع ویاړ باله او کوم شرم یې پکې نه کاوه ،تل به په خړو پړو جامواو ساده لباس کې ګرځیده ،دخپل ځان په باب یې داسـې فکرنـه کـاوه، چـې زه بایـدهروخت ترنورولـوړ واوسـم ،دجهاد سره مینه یې بله مهمه ځانګړنه وه ،دسبقونو ترڅنګ بـه دجهـاد په مورچلونو کې تل حـاضرواو خپلـه خـوایې پـر غلـیم یخـه کـړي ده ،اجتماعیت او غوره اخلاق یې بله ځانګړنه وه ،الله تعالی ورته کریمـه اخلاق ورکړي وواودخپلو ښو اخلاقو په وجه پر خپلو ملګرو ډیـر ګـران و،نو په ټولیز ډول به ووایو چې ټول هغـه صـفات پکـې ځښـتن تعـالی ایښې وو،کوم چې دیوه کامل انسان دتکامل لپاره اړین عناصر وي .

شهادت:

مولوي نورمحمدحقپال چې دجهاد په لاره کې دهیڅاله دښمنی نه ډاریده او نه یې دڅا دعداوت پرواکوله، له هغې وروسته چـې ننګرهـار او خوګیانوکې یې جهادي بریدونه کـول، نـو ډاریـدلي دښـمن نـور دده

ژوند دخپل ځان مړینه بلله، نو هماغه و،چې نومورې يې دهجرت ديار دپيښور دلطيف آبادپه سيمه کې په(۲۰۰۴زکال دسپتمبرمياشتې په لومړۍ نيټه)په يوه ناځوانمردانه ظالمانه غلچکې برید کې په شهادت ورساوه او دخپل قساوت نه ډکه سينه يې پرې يخه کړه (انالله وانا اليه راجعون).

خاطرې اوآندونه:

حافظ مولوي سيدعصمت الله (عاصم) دمولوي نورمحمد حقپال دميړانې ، اطاعت او نورو صفاتوپه مورد کې داسې وايي : محترم مولوي نورمحمدحقپال روان جهاد کې زمونږ په لومړنيو ملګرو کې دی او له پيله يې دجهاد وسله راخستې او ترشهادته پورې يې بيا کښينښوده ،عاصم صيب وايې : چې شهيد نورمحمد حقپال ډير وفاداراو مطيع مجاهد واو په ورسپارل شويو دندو کې يې له پوره صداقت نه کار اخست ،عاصم صيب زياتوي :چې داسلامي امارت په مخکنۍ دوره کې مونومورې شهيد له مخلصو ملګرو څخه و او دانډيوالۍ او دوستۍ مزې مو سره غځيدلې وو،نومورې شهيد ډير سخي او جواد انسان و ،خپلو مجاهدو ملګرو باندې به يې ډير مصارف کول او دهغوئ اړتيا وې به يې پوره کولې ،حقپال دشهادت ډير هيله من وو، ،دنومورې سره دملګرو او مجاهدينوداتفاق ډيره ليونۍ مېنه وه او ددې زيات ليوال و،چې اتفاق مينځ ته راشي ،دهيواد آبادۍ سره يې علاقه ډيره وه ،غوښتل يې چې وطن يې سمسور شي ، اطاعت او دمشرانو خبرې منل يې يوه ځانګړنه وه، ددې نه په غير نور داسې صفات پکې وو، چې هغه دده دمحبوبيت شخصيت جوړيدنې سبب ګرځيدلې وو.

دافغانستان د نامتوعلمي ، جهادي اوسياسي شخصيت محترم مولوي محمد يونس خالص بابا رح زوی او دده خا ی ناستی محترم(مولوي انوارالحق مجاهدصيب)چې دشهيد مولوي نورمحمد حقپال رح سره ژوړې اړيکې اوملګرتوب درلود،دنومورې شهيد نورمحمد حقپال په باب خپله خاطره داسې رانغاړي : دامريکا په مشری دکفارو له يرغل او اشغال څخه وروسته چې کله بيا ننګرهارکې دمجاهدينو نظم جوړيده، نو داسې يومتفق عليه شخصيت ته اړتيا وه، چې دننګرهار ټول طالبان او مجاهدين پرې راټول شي ،هماغه وو،چې مشرانو زمونږ څخه مشوره وغوښته ،نو زمونږ په پيشنهاد او داکثريت په اتفاق د ننګرهاردجهادي دانسجام او تنظيم لپاره لومړنی متفق عليه مسؤل (شهيد مولوي نورمحمد حقپال)دامارت دمشرتابه لخوا مجاهدينو ته تعين شو.

دشهيد مولوي نورمحمد حقپال په اخلاص او قربانۍ دننګرهارټول مجاهدين قانع وو،نوځکه يې پر مشرۍ او مسؤليت هم کوم عملي مجاهد اعتراض نه درلود؛يوه بله غټه خاطره يې داوه، چې کله ننګرهارکې امارت سقوط وکړ او په (توره بوړه) کې په عرب مجاهدينو سخته جګړه روانه وه ،نورمحمدشهيد هم لکه دننګرهار دنورو مجاهدينو

په شان ددغه میلمنو پالنه او ساتنه خپل اخلاقي اودیني مسؤلیت باله او ددوئ ضیاع یې دافغانانو اوبیا ننګرهاریانو لپاره تاریخي شرم ګانځه، نو ځکه ځمکې ځای نه ورکاوه او په سیمه کې موجود و،ترڅو ددغه میلمنوپه خدمت کې فعاله برخه واخلي ،هماغه وو،چې په لویه کچه دخدمت موقع په لاس ورغله ،او دغه ارمان یې پوره شو او دهغوئ دحفاظت اوساتنې په لاره کې یې داسې خدمات ترسره کړل، چې دنومورې اولاده او کورنۍ به باید پرې فخر وکړي .

مولوي نورمحمد حقپال رح زما ډیرخوږ ملګری و،یوځل یې دجاسوسۍ په شک یو کس بندي کړ، خو محبس مو نه درلود،نو ده او بل ملګري یې دشپې لپاره دیوه دوست حجرې ته بوت او دساتنې په موخه یې دشپې په خپلو ځادرونو کټ پورې وتاړه ، خپله نورمحمد شهید دحجرې په دروازه کې پریوت او بل ملګری یې په کټ کې ویده کړ،توڅو دشپې غل ونه تښتي ،خو دګرمۍ لنډې شپې وي ،ټول ویده شوي وو او سهار بندي په چیغو لمانځه ته پاڅول ،دشهید مولوي صیب دبندې دساتلو دا طریقه!! به مونږ همیشه یادوله او زمونږ لپاره ډیره جالبه وه... .

ملانیك محمد(رهبر)دشهیدمولوي نورمحمد حقپال کشر- ورور، ځای ناستی او اوس مهال په ننګرهارکې دپوځي قطعاتو عمومي قوماندې، نومورې دخپل شهید ورور په باب داسې وایې : هغه شپه به مې هیڅکله هیره نشي ،چې دننګرهار دخوګیانوپیره خیلوکلي کې زمونږ په کور باندې توره شپه کې امریکایي اشغالګرو اوددوئ غلامو عسکرو پداسې حال کې چاپه ووهله ،چې ددوئ شمیر سلګونه او هوایي جنګي الوتکواو ځغروالو شوبلو یې بدرګه کوله ،ما کتل چې شهید مولوي نورمحمدحقپال رح لکه دسپین غر دشاهین پر اشغالګرو حملې کولې او هشتاددو په اوږه دیرغلګرو سره یې له خپل کوره مقابله کوله ،زما بل شهید ورو(ملک عمیر)به پر یرغلګرو او ددوئ په مزدورو عسکرو د راکټ ګوزارونه کول او شهید حقپال به په هشتاد دووباندې یرغلګرو ایشتل ،مجاهده مور به مې، همداسخته شیبه دنورمحمد شهید سره ځنګ کې ولاړه وه او ورته به یې نه یوازې داویل چې روحیات مه بایله، زه درسره تر آخرې سلګۍ پورې ولاړه یم او داسلام ددې غلیم سره ترشهادته پورې وجنګیږه ،زړه دې مه ورخطا کوه په میړانه ورسره جنګیږه ،زما دې مور به ورته دهشتاددوو مرمۍ وروړلې او دده ترځنګ به ولاړه وه ،ده هم په نره ورسره مقابله وکړه ،همداشپه مې دریم ورو(ملااحمد حنیف) دکورپه حجره کې و، دجګړې په پیل کې ولګیداو ژوبل شو،مولوي نورمحمد شهید غوښتل چې له دروازې نه یې کورته را دننه کړي ، خو هغه ورته ویل :چې زه خو هسې هم تللی یم (شهید کیږم)ته مه راځه! کله چې مو له جګړې نه چې وروسته رادننه کړ،ګوروچې ملا احمد حنیف دشهادت جام ځښلی و،ګرده شپه مو اشغالګرو سره له خپل کوره جګړه وکړه، ترڅو چې دسیمې نور مجاهدین

مو مرستې ته راورسيدل او اشغالګرمات او حمله يې ناکامه شوه ،دامهال ګورو،چې ملااحمد حنيف په سرو وينو کې پروت دی ،خپل روح يې خپل لايزال څښتن ته سپارلی دی ، په معجزانه ډول موددې شهيد نه پرته دکور ټول غړې روغ رمټ او ژوندي پاتې شول .

د (ملنګ کاکا) په نامه دشهيد حقپال يوبل مخکنی ملګری، دنومورې شهيد په مورد کې وايې : چې کله مولوي نورمحمد حقپال شهيد په (۱۹۹۸ز) کال کې دشمالي دخطونو مسول و،نو بل ورورې ملا احمد حنيف ژوبل شو، نومورې حقپال چې پخپله هم په مټ زخمي شوی و،نه يې غوښتل چې له خپل ټپ نه خپل زخمي ورور او نور ټپي شوي مجاهدين خبرکړي ،نوځان يې په ځادر وتاړه او کابل کې روغتون ته دزخميانو پوښتنې ته ورغی ،دامهال چې په لوړه روحيه پخپله هم زخمي او دزخميانو پوښتنه کوي ،دننګرهار دهغه وخت دامنيه قوماندان مولوي احمد طه هم ورغلی و، ورته يې وويل چې زمونږ په ژوند کې دې تاخدای ج زمونږ له سره نه کموي ،نو نومورې شهيد ورغبرګه کړه : چې که زه شهيد شوم، نو دانور زمري ورونه لرم چې دظالمانو خلاف به زما په پل پل ږدي ،ملنګ کاکا زياتوي چې همداسې شول د مولوي صاحب ورونو هم د جهاد لاره وپالله .

ابوبلال انوري دشهيد په باب وايې : مولوي نورمحمد حقپال رح داستاذانواو مشرانو په خدمت کې له ډير اخلاصه کار اخست او هڅه به يې کوله ، چې دمشرانو او استاذانو خدمت وکړي ، ترڅو يې دجهاد له سنګره راستون نه کړي، هماغه و، چې دوروسانو خلاف الله پاک دهمدا ډول قربانيو په ترسره کولو سره مجاهدين بريالي کړه او دامريکاياانو هم دفتحوپه درشل کې يو !

پاتې ورثه:

دشهيد الحاج نور محمد حقپال رح ټول اووه ورونه او يوولس اولاده درلودل، چې دوه تړې مشران او څلور تړې کشران وو، دنورمحمدحقپال رح په شمول تړې درې ورونه شهيدان او يو ورويې په سعودي کې وفات شوی، چې فعلا يې درې ورونه ژوندي دي ،لکه چې مو ووېل دنومورې شهيد ټول يوولس ادلاده دي، څلور زامن او اووه لورګانې دي ،يو زوی يې پدې وروستيو کې په شهادت رسيدلی ،اوس مهال يې درې زامن ژوندي دي ، له نيکه مرغه چې هغه مجاهده موريې لا هم ژوندی ده، چې دکوردمحاصرې وخت يې ورته دهشتاددو مرمی راوړلې او ده به پر صليبي يرغلګرو فيرکولې!

محمد شفیق صادق

لویدیځوال، د خپلو وضعي قوانینو سره په جګړه کې

دا چې انساني تفکر او ادراک تر یوه ټاکلي حد پورې توان لري چې د ګټو او زیانونو سنجش تر یوې مودې پورې وکړې خو د اوږدې مودې لپاره بیا یوازې الهی قوانین دی چې د بشر د سعادت او نیکمرغی ذمه واری اخیستلای شی، او دا موقت سنجش او پلان هم بیا کله کله د ګټې په ځای لوی زیانونه هم رامنځ ته کړي.

د قوانینو په برخه کې هم دا ډول امکانات ډیر وي، په لویدیځ کې د ښځې د حقوقو موضوع په فرانسه کې د انقلاب او په اروپا کې له آزادۍ وروسته اوچته شوه چې د ښځو د مدافعو ټولنو ټولې غوښتنې پرته له دې چې ګټې او تاوانونه یې وسنجول شي په پراخ اکثریت ومنل شوي او په قانون کې ورته ځای ورکول شوی.

یو له دې قوانینو څخه د میراث په برخه کې د ښځې او نارینه د حقوقو تساوی او په ملکیت کې شراکت دی، د لویدیځ د قانون په اساس ښځه او نارینه له نکاح وروسته دواړه د نارینه په کور کې چې د هغه ملکیت دی سره شریکان دي، کله چې ښځه او نارینه یو بل ته طلاق ورکوی ،نو ښځه د نارینه په کور کې نیمایی شریکه ده ،چې په ښکاره خو دا ډول شراکت د ښځې لپاره په اقتصادي برخه کې ډیر ګټور دی، خو د ملکیت په هکله او د نکاح په راتلونکي خپلې ناوړه اغیزې لری.

لومړی دا چې کور نارینه جوړ کړی، هغه یې مالک دی، نو ښځه په تیاره سره د بل په ملکیت کې پرته له میراثي قوانینو ملکیت پیدا کوی، نو د ښځې لپاره ښه چانس دی، ځکه هسې هم په لویدیځ کې ښځې اونارینه ډیر وخت نه راسره تیروي او له څو کلونو وروسته یو بل ته طلاق ورکوی، نو دا چې اقتصادی موضوع په لویدیځ کې تر بلې هرې موضوع ډیره مهمه ده ، نو ښځې کولای شي په څو کلونو کې د څو ازدواجونو او طلاقونو په کارولو د ښې اقتصادي لاسته راوړني جوګه شي ،همدا شان کولای شي په څو کلونو کې ښې ګټې او لاسته راوړنې ولری، خو بل لوري ته نارینه ته ازدواج او نکاح کول یوه لویه اقتصادی ضربه ده ،ځکه په هر ځل نکاح سره به خپل نیم کور له لاسه ورکوي ، نو په دې سره به نارینه کمزوری او ښځې پیاوړي شی..

اوس په لویدیځ کې همدا لویه ستونزه ده ، ښځه حیرانه ده چې څنګه یو نارینه ومومي چې واده ورسره وکړی ، د نارینه موندل ورته نا ممکن کار ګرځیدلی ، نارینه له دی ویری چې که واده

وکړم نو ښځه به مي طلاق واخلی او بیا به نیم کور را څخه وګرځوی، نو له ویرې د واده کولو څخه ډډه کوي ...هسی خو هم هلته طلاق د ښځې او نارینه دواړو حق ګڼل کیږي...

نو له دی کبله نارینه او ښځې مجبور شوي چې د خپلو جنسي غریزو د پوره کولو لپاره د واده کولو په ځای نوري لاری ولټوی، چې له دي لارو څخه یو هم د همجنس شخص څخه جنسي استفاده ده چې اوس ورته لویځوالو د مجبوریت له مخې جواز ورکړی...

بله د حل لاره یې د ملګرتیا ټرون دی،چې اوس (٦٠) په سلو کي ودونه په همدي ډول تر سره کیږي چې نارینه او ښځه یو له بل سره ټرون کوي چې دواړه به واده او نکاح نه راسره کوي نکاح خو یو په بل حقوق لازموی نو د یوه ټرون په اساس د ملګرتیا ګډ ژوند غوره کوي چې یو په بل د میراث او مالی ورکړي راکړي کومه ذمه واري نه لري ، بلکې یوازی یو له بل څخه جنسي استفاده کوي او بس..

په دي صورت کي ښځه بیچاره مجبوره ده خپله ډوډۍ په خپله ځان ته ومومي، او د راتلونکو اولادونو سرنوشت به یې هم محکمه معلوموي، کیدای شي، هغه هم د همدي بدمرغۍ د اوږو بار شي ..... نو په دی توګه لویدیځ د ښځو د حقوقو په نوم هغه څه په ښځه منع کړل، چې ددی بیچاره طبیعت او انسانیت یې غوښتنه کوي .. ښځه نور هلته نه ازدواج کولای شي ،نه هغه میراث اخیستلای شي، کوم چې په اسلام کي ښځې ته ټاکل شوي، بس یوازی د نارینه وو د موقتو جنسي-غریزو د اشباع لپاره د یوې وسیلې په توګه کارول کیږي ...له همدې لامله نن د لویدیځ ښځې تر ټولو زیاتي په یوه شئ پسې لالهانده دي او تل یې په لټه کې دی ...هغه یو نارینه چې واده ورسره وکړی ...په فیسبوک کي ډیر ځله لویدیځوالە ښځه تر ټولو لومړی د همدي ورک شوي شئ په لټه کې ده.. څنګه وکولای شي، چې یو څوک ومومي تر څو واده ورسره وکړی ...خپل حق او خپل طبعي ژوند ومومي ...

خو لویدیځوالو قانون پوهانو او سیاستوالو پرې دا لاره بنده کړې ..نو مجبورې دی چې له ناروا لارو خپله غوښتنه پوره کړي .

په دې کار سره نور نو د تولد او تناسل سلسله کرار کرار له خنډونو سره مخ ده ، او په ډیرو نیژدي پیریو کې به د اروپا سپین نژاد د تل لپاره له منځه ولاړ شي او ځای به یې اسیایی او افریقایی نژادونه ډکوي ،چې د همدي املې مجبور دي، د نورو هیوادونو وګړي ومني او هلته یې ځای په ځای کړي، تر څو یې له راتلونکو نسلونو د خپلو موخو لپاره او ددوئ د بقا لپاره ګټه واخلي.

په تأسف سره باید ووایم چې په اوسني وخت کي د افغانستان لپاره هم ځینې قانون پوهان او قانون جوړونکې اداری هڅه کوي، همدا قانون په ډیر لنډ راتلونکي کې، د افغانستان په قوانینو کي په ځینو نورو عبارتونو او ټکو سره ځای په ځای کړي او په همدی کار روان دی، چې دا قانون د افغانستان دقوانینو برخه جوړه کړي.

دجهـاد فقهي مسـائل

مفتي ابو محمد (حقاني)
(۳۰ برخـــه)

کفارو سره دجګړې د اختتام اسباب:

اســـلام منل، جـــزیه ورکول، یا ســـوله!

دارټیا پر وخـت دسـولې پـه معاهـده کې ممنوع شرطونه ایښودل:

فقهاء کرام وایي : چې دضرورت پر وخت دسولې په معاهده یاهوکړه لیک کې محظـوراو ممنوع شرطونه لیکل او له مقابل لورې سره منل جایز دي،لکه چې کفارو ته د بـدل المـال شرط کول یا اشتراط یې یوه بیلګـه ده ،فقهـاوو پـدې اتفاق کړی دی ،چې له ارټیا پرتـه هیڅکلـه دا نده روا، چې دسولې یا موافقه لیک پـه مـوادو کې داسې کومه ماده ولیکل شي ،چـې مسـلمانان به پکې کفارو ته مـال یـا پیسـې ورکـوي ،چـې مجموع کې دا دمسلمانانو دذلت ترجماني کـوي او دمســلمانانو لـوری دجانـب مقابـل څخـه کمزوری معلومیږي ، ځکه الله تعـالی اسـلام او اهــل اســلام تــه پــه نــورو ټولــو ادیــانو او ملتونواعزاز او غلبه ورکړي ،اوکـه دوئ قـاتلین وي (غازیان)او کـه مقتـولین (شـهیدان)وي ،پـه دواړو حالتونوکې یې دوئ ته جنـت ورکـوي ، لکه همدا مسئله په(الموسوعة الفقية)کې ددې آیت کریمه په نقـل سره داسـې توضـیح کـوي : فَقَدِ اتَّفَقَ الْفُقَهَاءُ عَلَى عَدَمِ جَوَازِ عَقْدِ الْهُدْنَةِ عَـلَى مَالٍ يَبْذُلُهُ الْمُسْلِمُونَ لأَهْلِ الْحَرْبِ مَا لَمْ تَـدْعُ إِلَى ذَلِكَ ضَرُورَةٌ ؛ لأَنَّ اللَّهَ تَعَالَى قَدْ أَعَزَّ الإِسْلاَمَ وَأَهْلَهُ وَأَظْهَرَهُ عَلَى الأَدْيَانِ كُلِّهَا وَجَعَلَ لَهُمُ الْجَنَّةَ قَـاتِلِينَ وَمَقْتُـولِينَ لِقَـوْلِ اللَّهِ تَعَـالَى { إِنَّ اللَّهَ اشْـتَرَى مِـنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُـونَ } (سـورة التوبـة / ۱۱۱ .) ،نوپداسې حال کـې چـې شـهیدانو سره دجنت ژمنه شوي او اسلام هـم معـزز دیـن دی، صـغارت او ذلـت داسـلام دلـوا ء دعـالي مقـام سرییره منل او قبلول نـدې روا، البتـه کـه ورتـه دمسلمانانو ضرورت او ارټیا وه، نو پدې صورت کـې جـواز لـري او کـوم انکـارتري نـدی نقـل شوی .چې دهمدې تحقیق لپاره لاندینۍ حوالې

کتلای شئ (الحاوي ۱۸ / ٤١٠ ، وتحفة المحتاج ۹ / ۳۰٦ ، والفتاوى الهندية ۲ / ۱۹۷ ، وشرح السير الكبير ٥ / ١٦٩٢ ، والمغني ۸ / ٤٦٠ ، وحاشية الدسوقي ۲ / ۲۰٦ ، وأحكام القرآن للجصاص ۳ / ۷۰ ط دار الكتاب العربي)

کفارو ته دهوکړه لیک له مخې دپیسو د ورکړي داړتیا صورتونه:

(الموسوعة الفقهية) کې ددې ضرورت دوه صورته لیکلې ،چې یوصورت یې داسی لیکل شوی : کله چې مسلمانان دکفارو لخوا محاصره شي او ددوئ ویره داوي ،چې هسې نه چې ټول شهیدان کړي، نو فقهاء کرام وایې : چې ددې جواز شته، چې حکومت یا ددوئ اړوندولایت ،ولسوالۍ یا دلګی ددې مسلمانانو او مجاهدینو دخلاصون او ددوئ نه دمړینې او وینې تویدلو دخطر دبچ کیدو لپاره پیسې مصرف کړي او دوئ پرې راخلاص کړي ،دخندق دغزا په ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم اراده وکړه ،چې له مشرکینو سره دمدینې منورې دخرماوو دحاصلاتوپه دریمه برخه سوله وکړي (یعنې چې ترڅو یې له امله مشرکان محاصره ختمه کړي او مسلمانان بیرته له خندقونو نه خپلو کورو نوته په حقاظت کې لاړشي)نورسول الله صلی الله علیه وسلم له حضرت سعد بن معاذرض او حضرت سعد عباده رضی عنه سره پرې مشوره وکړه ،نوهغوئ دواړو ورته وویل: چې که چیرته تاته پرې دالله تعالی لخوا امر شوی وي، نو بیادالله تعالی امر اجراء او مضی پرې وکړه ، دالله تعالی دامرلپاره مونږسمعاً وطاعةً آماده یو ،او که امر درته پرې(دالله تعالی لخوا) نه وي شوی (یعنې صرف دمشورې صورت وي) نومونږ یې بیادا نه منو(أخرجه عبد الرزاق في المصنف (٥/ ٣٦٧ ، ٣٦٨ ـ ط المجلس العلمي ـ بومباي).

همدا مسئله په بل روایت کې داسې داحادیثو کتابونو رانقل کړي چې دحدیث مفهوم یې داسې دی : حضرت ابوهریره رضی الله روایت کوي : چې حارث بن عمروبن الغطفانی دغطفان دقبیلې مشر نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته یې وویل چې :ای محمد صلی الله علیه وسلم !دمدینې په خرماوو کې مونږ ته برخه راکړه ،نوده صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : چې ترڅو زه د(سعودو)سره پرې مشوره وکړم ،نو سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ ،سَعْدِ بْنِ عُبَادَةَ ،سَعْدِ بْنِ الرَّبِيعِ ،سَعْدِ بْنِ خَيْثَمٍ ا وَسَعْدِ بْنِ مَسْعُودرضی اللهٍ عنهم یې راوغوښتل او ورته یې وفرمایل چې :زه پوهیږم چې ټول عرب تاسو له یوه غشي نه ولي (ټول درته متفق شوي دي) او حارث دا غوښتنه کړي ،ترڅو تاسوورته دمدینې

خرماوويوه برخه ورکړئ ،نوکه چيرته تاسو ورته داکال دخپلو حاصلاتو نه يوه برخه خرما ورکړئ ، څنګه مو خوښه ده ،نودوئ ورته وويل چې ای رسول الله (صلى الله عليه وسلم)آيا دا تاسو ته له آسمان نه وحی شوي ،که داسې وي، نو دالله تعالی حکم ته ټول منقاد يو ،که ستاسو خپله رأيه او نظر وي، نو هم مونږ ستاد رأيې او نظر تابعداري کوواوکه داسې يوه خبره هم نه وي ،اوداکار تاسو وکړئ، نو ددوئ لاره به راباندې جوړه شي، نو تاسو ګورئ چې مونږ او دوئ سره برابر يو ،دوئ به زمونږڅخه له پيرلو او ميلمستيا نه په غير يوه خرما هم ونه ګوري ،نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل :چې همدا خبره ده (يعنې نه داوحي او نه زما نظر صرف يوه مشوره ده)تاسو هغه اورئ چې دوئ يې وايي . (" عزاه الهيثمي في مجمع الزوائد (٦ / ١٣٢ ، ١٣٣ ـ ط القدسي) إلى البزار والطبراني ، وقال : فيهما محمد بن عمرو وحديثه حسن ، وبقية رواته ثقات .) نوددې حديث نه معلومه شوه ،چې که څه هم انصاروو دا خرما ورنکړه، خو انتباه انصاروو ته پدې کې وشوه او دا ترې معلومه شوه، چې دضرور ت پر وخت کفاروته پيسې ورکول جايز دي ،او بل داچې مسلمانانو ته نکايت او آسيب پيښيدل له مال او پيسو نه ډير غټ او سترضرر دی، نودفعه داعظم الضررين پکار ده .

بل صورت يا مثال يې دادی : چې کله کفارو سره دمسلمانانوبنديان او اسيران وي ،او ددوئ ويره موجوده وي ،شکنجې او تعذيبونه هم ورکوي ،نو دمسلمانانو امير ته ددې جواز شته، چې ددې بنديانوپه خلاصون کې پيسې مصرف کړي او دوئ دکفارو له منګلونه راخلاص کړي او که پر ځای يې بل بندي تبادله شي، دا به ډيره غوره وي (الحاوي للماوردي ١٨ / ٤١٠ ، وتحفة المحتاج ٩ / ٣٠٦ ، وحاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٦ ، والفتاوى الهندية ٢ / ١٩٧ ، والمغنى لابن قدامة ٨ / ٤٦٠ ـ ٤٦١ .) ،لکه په يوه روايت چې عمران به حصين نقل کړی فرمايي : چې رسول الله صلى الله عليه وسلم يوه سړی په دوو سړيو تبادله کړ،(وَرَوَى عِمْرَانُ بْنُ حُصَيْنٍ " أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَادَى رَجُلا بِرَجُلَيْنِ > (أخرجه مسلم (٣ / ١٢٦٢ ـ ط الحلبي) .):

نوربيا.....

بې خونده اعمال

[لمړۍ برخه]
(مفتي ابوماريه)

اړېمی (ارمیړۍ)

په بدن کې دسستې دپیداکیدو په مهال دخولي وازولوته ارمیړۍ ویل کیږي . یوازې یادخلکو په وړاندي اړېمی کښل یوبي خوند عمل دی. همدالامل دی چې ځمکې ته راغلي هیڅ یوه نبي اړېمی نه درلود.

فقهاء یې مکروه او محدیثین یې ممنوع ګڼي. داسلام په سپېڅلي دین کې ددي کمزوري عمل په وړاندي پوره هدایات ذکرشوي :

۱= په عامه وختونو کې دارمیړۍ (اړېمی) په اړه:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایې : چې څومره مووس وي ارمیړۍ (اړېمی)مه کاړۍ .رواه البخاري

په یوه بل حدیث کې راغلي :چې کله ارمیړ ی (اړېمی) درته نوپه خوله لاس ږدئ ؛ ځکه شیطان داخلیږي. رواه مسلم

فقهاؤ لیکلي دي : چې دارمیړۍ(اړېمی) په مهال دي نسی لاس یاهم چپ لاس خولي ته نیسي اوکه څادریابله کومه جامه خولي ته ونیسي هم کفایت کوي .

په یوه حدیث کې راغلي : چې دارمیړۍ (اړېمی)په وخت کې دخولي څخه اواز مه باسئ ځکه داعمل موشیطان خندوي .رواه ابن ماجه

فقهاؤ لیکلي دي چې " یخفض صوته" یعني دارمیړۍ په مهال دي صوت ټیټوي [یعنی دها ها اوازدي نه ورسره کوي]

۲= په لمانځه کې ارمېږی (اړمی)

لکه وړاندي چې ذکرشو چې ارمېږی يوبې خونده عمل دی ،له همدې امله په لمانځه کې چې داسلام له اساسي اوبنيادي اعمالو څخه دی ارمېږی منعه شوي.

په حديث کې راغلي: کله چې په لمانځه کې ارمېږی درشي نوچې ترڅومو توان وي ارميږی مه کاږئ - يا - خوله پټوئ ځکه شيطان ننوځي.

فقهاوولیکلي دي : چې داکراهيت هغه مهال دی چې دارميږی دفع کول ممکن وي اوکه داسي نه وي نوبياکراهيت نشته : البته په خوله به لاس ږدي . اوکه په خوله لاس ياکالی کې نږدي نودابيا بل کراهيت دی.

في المبسوط: باب افتتاح الصلوة ۳۹\۱ ومن تثاءب في الصلاة ينبغي له أن يغطي فاه لقوله - عليه الصلاة والسلام -: «إذا تثاءب أحدكم في صلاته فليغط فاه، فإن الشيطان يدخل فيه»، أو قال فمه ولأن ترك تغطية الفم عند التثاؤب في المحادثة مع الناس تعد من سوء الأدب ففي مناجاة الرب أولى.

۳= دقرآن کریم دتلاوت په مهال له ارميږی څخه ډډه کول.

فقهاوو ليکلي دي چې دقرآن کريم دتلاوت په مهال بايدد انسان زړه په بل شي مشغول نه شي، اونه به هم دخوب ،پرچې اوارميږی په حالت کې وي. بلکه تلاوت به دانسان دنشاط اوعدم تشاغل په حالت کې په ښه رغبت سره وي .

نوکه يوتن ته دتلاوت په مهال ارميږی ورځې تروسه دي دفع کوي اوکه يې ددفع توان نه وي نوتلاوت دي ايله کړي ،غالباهمداحکم دسماع القرآن هم دی .

دارميږی دفع کول

علامه حصکفي رح ليکلي دي چې دارميږی ددفع کولو لپاره يوه طريقه داده : چې ښکته شوند په غاښوکې ونيسي او دايو مجرب عمل دی .

اوبياوروسته علامه شامي رح ليکلې چې يوبل مجرب عمل دادی : چې کله يوتن ته ارميږی ورپيل شوي توسمدستي دي په زړه کې داورتېروي چې دانبياوو ارميږی نه وی . اودغه تصوردي شروع کړي . په شامي کې دغه تحقيق داسې شوی دی .

(قوله وإمساك فمه عند التثاؤب) بالهمز، وأما الواو فغلط كما في المغرب وغيره وسيأتي في باب ما يفسد الصلاة أو يكره أنه يكره ولو خارجها لأنه من الشيطان والأنبياء محفوظون منه (قوله ولو بأخذ شفتيه بسنه) في بعض النسخ شفته بصيغة المفرد وهي أحسن لأن المتيسر لدفع التثاؤب هو أخذ الشفة السفلى وحدها ثم رأيت التقييد بها في الضياء (قوله بظهر يده اليسرى) كذا في الضياء المعنوي، ومثله في الحلية في باب السنن والشارح عزا المسألة إلى المجتبى مع أن المنقول في البحر والنهر والمنح عن المجتبى أنه يغطي فاه بيمينه، وقيل بيمينه في القيام وفي غيره بيساره اهـ وهكذا في شرح الشيخ إسماعيل. وعبارة الشارح في الخزائن: أي بظهر يده اليمنى إلخ فالمناسب إبدال اليسرى باليمنى (قوله وقيل إلخ) كأنه لأن التغطية ينبغي أن تكون باليسرى كالامتخاط، فإذا كان قاعدا يسهل ذلك عليه ولم يلزم منه حركة اليدين، بخلاف ما إذا كان قائما فإنه يلزم من التغطية باليسرى حركة اليمين أيضا لأنها تحتها. اهـ ح (قوله لأن التغطية إلخ) علة لكونه لا يغطي بيده أو كمه إلا عند عدم إمكان كظم فيه، ولذا قال في الخلاصة: أما إذا أمكنه يأخذ شفتيه بسنه فلم يفعل وغطى فاه بيده أو ثوبه يكره، هكذا روي عن أبي حنيفة. اهـ.

[فائدة]

رأيت في شرح تحفة الملوك المسمى بهدية الصعلوك ما نصه: قال الزاهدي: الطريق في دفع التثاؤب أن يخطر بباله أن الأنبياء - عليهم الصلاة والسلام - ما تثاءبوا قط. قال القدوري: جربناه مرارا فوجدناه كذلك. اهـ. قلت: وقد جربته أيضا فوجدته كذلك .باب اداب الصلوة ۱\۴۷۸

له دې عمل ځخه ځان ساتل:

ارمېږۍ په بدن کې دسستې اوکمزوري نښه وي، پيغمبرصلى الله عليه وسلم فرمايلي دي چې مؤمن به بيدار اوچست وي .ارمېږۍ په مجالسو کې هم کراهيت لري اوپه تنهايې اويواځې توب کې هم . دعبادت په مهال هم ا و دعبادت پرته هم . البته : په ځينې ځايونوکې لکه لمونځ ،تلاوت ،درس ،علمي مجلس اونورو کې يې کراهيت اضافه کيږي ؛ مگر داچې ديوه عذرله امله وي .

دعالم ،طالب ،اوصالح مؤمن سره دغه عمل ډيربي خونده ښکارې په هروخت کې ځان ساتل ترې ضروري ده ،دايو کمزورى عمل دى شيطان ورباندي خوښېږي په يوه حديث کې راغلي ،التثاؤب من الشيطان . تثاوب دشيطان له لوري وي . والله العاصم .

د ژوند له ډيرو مهمو پوښتنو څخه

۱۰ شيان بايد وپيژنئ !

ژباړه: مولوي محمد امان رسولي
سرچينه: المجتمع مجله ۲۰۹۲ ګڼه

هره يوه پوښتنه ځواب لري، مونږ بايد حکماء واوسو څومره چې کفايت کوي مناسب او وړ سوالونه غوره کړو، يو تريخ حقيقت چې مونږ ټول بايد ورسره مخ شو، هغه دا چې هر يو زمونږ په يوه او بله بڼه ناپوهه يو، او لدې سره دا مو خوښيږي چې پر ضد يې تظاهر وکړو، او د يو بسيط او ساده حقيقت نه ستر ګي پټې کړو چې: د هر شي پيژندنه ناشوني ده.

نو ناپوهي د ټول بشريت ترمنځ ستر مشترک قاسم دی، او ناپوهي يو له هغو ويرونکو حقائقو څخه ده، چې د ژوند واقعيت ته زيات زيان رسوي؛ ځکه چې د بشر وړ خلک تر نورو ډير ناپوهه دي، او دوی په دې نه پوهيږي چې دوی ناپوهه دي.

او دلته لاندې يو تلواري آزموينه ده: که ته خپله رأيه بدله نه کړې په هغه څه کې چې ستا له زده کړو باورونو څخه په يوه پورې اړه لري، او که د هغو ځينو آراو په اساساتو کې چې تا د ځان کړي دي شک نه وي کړی، او که له تاسره د هغو د عملي کولو کوم رغبت او مينه نه وي؛ نو ته به حتما په يو شي او يا ډيرو شيانو ناپوه وې چې ته پر هغو د پوهيدو باوري يې.

نو ډير تلواري حل څه شی دی؟

د ناپوهۍ د کابو کلو او له هغه څخه د خلاصون ډير تلواري حل: د يو داسې شخص د پيدا کولو هڅه وکړه، چې ستا په باور هغه داسې باورونه او کړنې لري چې ستا له معتقداتو او تصرفاتو سره توپير لري، له هغه سره يو ساده رښتيني مرکه ترسره کړه، زه درسره وعده کوم چې د ژوند ځينې ډير مهم سوالونه به په دې کار سره ډير څرګند شي، او په دې کې تاسې دواړو ته ډير خير دی.

او دا دي هغه مهمې چارې چې ته به يې د دغه کار د سرته رسولو په مهال په یاد ولرې:

لومړی: باید د امکان تر حده په دې ژوند کې د ناوړه فهم فهم له ډیرو بدو ډولونو څخه ډډه وشي، کله چې مونږ سره مناسب عقل او مناسب وخت وي د دغه ساده او بسیط سوال د مطرح کولو لپاره: «آیا هلته د دې نورې معناوې شته؟.«

دوهم: خبیر او پوه هغه نه دی چې له ده سره د هرې پوښتنې ځواب وي، لکن پوره خبیر او پوه هغه دی چې درست سوالونه طرح کړي.

دریم: په نړۍ کې ډیر کم خلک داسې دي چې هغوی روزانه د نویو معلوماتو په لټه کې وي، او ډیر خلک په دې خوښ دي او چې څه معرفت ورته حاصل دی قناعت لري، د سوالونو له طرح کولو یې توقف کړی دی، په ځای د دې چې د نویو معلوماتو په لاسته راوړو هڅه وکړو، او زیات سوالونه طرح کړو، باید کوښښ وکړو چې له مجهول نه داسې ځوابونه، حکمونه او ثبوتونه راوباسو چې مونږ د کمي او د عدم کمال د احساس نه وژغوري؛ ځکه د نویو حقیقي سوالونو ته د دروازې خلاصول د ویجاړونکي توپان راخوشي کول دي، او ځوا یې تر هغې سخت توپان دی چې مونږ ډیر لیرې له ځانه سره جارو کوي.

څلورم: که څوک وکولی شي چې تا داسې وګرځوي چې ناسمې او خطا پوښتنې مطرح کړې؛ نو چیرې به هم هغه خپل فکر په کوم داسې ځواب مصروف او بسیا نکړي چې ته هغه ته ورسیږې.

پنځم: په حقیقي نړۍ کې اشباح او څروي شتون لري، خو هغه ډیر کم او ډیر ضعیف دي چې په اوږد مهالي کې حقیقي ضرر ولري، او د زیات او ضرر والا هغه عادي خلک دي چې پاک نیتونه لري او دیته اماده دي چې تصدیق وکړي، باور ولري او د پوښتنې له مطرح کولو پرته تصرف او عمل وکړي.

شپږم: هغه پوښتنې چې ته یې له ځانه د ورځې په پای کې مطرح کوې، دا هغه دي چې ستا د شخصیت بڼه درته ثابتوي.

اووم: زړورتیا او شجاعت دا نه دی چې ته ګرد ځوابونه احاطه کړې، بلکې اصلي زړورتیا دا ده چې ته د هغو پوښتنو سره چې تل دې ترې ډډه کړې وه د مخ کیدو وړتیا ولرې.

اتم: ستا د ځانګړو رابطو په اړه وپوښته: آیا تل له تاسره په درنښت تعامل کوي؟ دا لومړی پوښتنه ده.

دوهمه پوښتنه هغه: آیا ته او یا داد لس کلو په واټن کې همداسې پاتې یاست، او آیا له هغه یا له هغې سره په همداسې اړیکو پاتې یئ؟

دریمه پوښتنه دا ده: چې آیا ته یا داد دې تمه لرئ چې تردې نور هم غوره شئ؟

نو که ځواب دې دریو پوښتنو ته «هو» وي نو تا د ځان لپاره داسې اړیکه پیدا کړه د دې وړ ده چې ویې ساتې.

نهم: د معرفت له اندازې او د مطرحو پوښتنو له شمیر څخه په صرف نظر کید و سره ، ناشونې ده چې د زیاتو هغو پوښتنو مطرح کول رازده کوي، هغه چې زمونږ په خاطر او خیال کې هم نه ګرځیدل، او دا ښه شی دی.

لسم: د دې سره سره چې ژوند تل له داسې لاځوابه پوښتنو ډک دی؛ خو زړورتیا په دې کې ده چې د مهمو پوښتنو د ځوابونو په لټه کې شې، او دا کار د ژوند د سفر معنا ټاکي.

او دا هم کیدای شي چې ټول ژوند د بدمرغۍ او ځوړتیا په خاوره کې په رغړید و تیر کړئ، له ځانه وپوښتې:

ولې زه د دغو ستونزو لپاره غوره شوی یم؟ دا ناسمې پوښتنې دي!

او یا ته سمې پوښتنې مطرح کولی شې، او داسې هیله لري چې ته پیاوړی یې، او په څه چې کفایت کوي ښه ذکي یې چې ته د دې ستونزو او مشکلاتو سره سره نمو او پرمختګ وکړې.

پام کوه! چې په صبر او زغم سره هر څه حل کړې، چې ستا په ژوند کې ناهیلي او نا آشنا وي، او کوښښ وکړه چې د ژوند له پوښتنو سره مینه ولري، لکه هغه بندې دروازې یا هغه کتابونه چې په پردیو ژبو دي او ته پرې نه پوهیږې، درته په آسانه راشي؛ ځکه ستا او سنی فهم لا پخوالي ته ندی رسیدلی، ته دیته اړتیا لري چې تر هر څه لومړی هر څه وازموې.

کشف کوه..زده کړه کوه.. ژوند کوه؛ او ډیر زر به ته خپل ځان په داسې حالت ومومې چې په تدریج سره هغو ځوابونو ته ورسې چې ته یې غواړې.

اصلاح قلب

ستانکزی

عن عامر قال سمعت النعمان بن بشير يقول : سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول (الحلال بين والحرام بين وبينهما مشبهات لا يعلمها كثير من الناس فمن اتقى المشبهات استبرأ لدينه وعرضه ومن وقع في الشبهات كراع يرعى حول الحمى أوشك أن يواقعه ألا وإن لكل ملك حمى ألا وإن حمى الله في أرضه محارمه ألا وإن في الجسد مضغة إذا صلحت صلح الجسد كله وإذا فسدت فسد الجسد كله ألا وهي القلب) بخاري: كتاب الايمان, باب فضل من استبرا لدينه.

این حدیث را بسیاری ازمحدثین وعلما، حدیث عظیم پنداشته و حتی بعضی از آنها می گویند که همه هست وبود اسلام، به آن پیوندخورده است و بعضی هم گفته اند که این حدیث از جمله احادیثی است که مبنای اسلام برآن قائم شده است.

این حدیث دو بخش دارد؛ بخش اول درباره حلال، حرام و مشتبهات و بخش دوم درمورد قلب (دل) بحث کرده است. ما درینجا به لحاظ اهمیت بحث، بخش دوم حدیث را به تحلیل می گیریم:

قلب چیست؟

از لفظ حدیث برمی آید که در جسد انسان یک قطعه گوشتی بنام قلب موجود است وابعاد مختلف شخصیت انسان به همین قلب وابسته بوده ومرکز عقل، شعور، احساس و فکرمی باشد. این موضوع ، را قرآنکریم چنین بیان می دارد: لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا{الاعراف ۱۷۹} و درجای دگرچنین میفرماید: أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ الْقُرْآنَ أَمْ عَلَى قُلُوبٍ أَقْفَالُهَا {محمد: ٢٤]

گاهی واژه قلب، به معنای خواهشات نیزبه کار رفته است واین خواهشات هم می توانند دنیوی باشند وهم ازخواهشات اخروی واعلی انسانی ومرکز این خواهشات هم قلب می باشد. همینگونه، احساسات انسانی چون شفقت، نرمی، محبت، نفرت و قهر، ازمرکزوجود (قلب) منشأ گرفته ومیزه بزرگ انسانی (اراده ونیت)

که انسان را هویت انسانی می بخشد به فرمان مستقیم همین قطعه ی گوشت (قلب) برخورداراست.

بنابرین، اگر دست و پای کسی قطع شود و تمام اعضای اواز کار بیفتد تنها چیزی که مبین شخصیت انسان است (قلب) باقی می ماند.

دیدگاه ساینس در رابطه به قلب ، همان یک قطعه گوشتی است که تنها خون را پمپ میکند و مرکز فکر انسان اعصاب است. اما؛ قرآنکریم این کلمه (قلب)را به مفهوم عام آن به کاربرده است که درمواردی ماهم بصورت اصطلاحی میگوییم که دلم می خواهد ویا دلم می گوید. حتا ازهمین کاربرد اصطلاحی ما نیزبرمی آید که دل (قلب) بوده ومنبع اراده وشعور وحتا احساسات وعواطف انسان است. واما در رابطه به جسد:

جسد چیست؟

مراد از جسد جسم انسان است. محدثین میگویند: «جسم حیثیت رعیت را دارد و قلب حیثیت پادشاه را چنانکه رعیت تابع پادشاه میباشد همانگونه جسم (دست، چشم، پا و همه اعضاء) تابع قلب اند.«

دست چیزی را بدست می آورد که قلب بخواهد.

چشم چیزی را می بیند که قلب بخواهد.

پا بطرف چیزی می رود که قلب بخواهد.

فساد اجتماعی که در یک قوم پدید ویا انسان اگرمرتکب گناهی می شود ، همه دراثرخرابی قلب اتفاق می افتد .پس ازین رو می توان گفت که حدیث متذکره یگانه راه اصلاح قلب می باشد. اگر قلب اصلاح شد، تمام اعضای بدن اصلاح می گردد و قوت اطاعت شریعت در آن به وجود می آید. واما اگر در آن قطعه ی گوشت (قلب) فسادی پدیدآمد ، آنگاه شریعت تنها در کتابها باقی خواهد ماند وبرآن عمل نخواهدشد.

مراد از واژه اصلاح که در حدیث آمده است ،هر نوع اصلاح بوده وازواژه فساد نیز هر نوع فساد تعبیرمی شود. این استنباط هرنوع اصلاح وفساد ازحدیث ازین رو می تواند صورت گیرد که در حدیث نوع اصلاح وفساد بگونه ی مشخص، تعریف وتعیین نگردیده است.

قرآن می فرماید که ریشه ی مرض در قلب است: فَإِنَّهَا لَا تَعْمَى الْأَبْصَارُ وَلَكِنْ تَعْمَى الْقُلُوبُ الَّتِي فِي الصُّدُورِ{الحج{٤٦ : و همچنان قرآن مرکز تقوی و ایمان را هم قلب می داند : وَلَكِنَّ اللَّهَ حَبَّبَ إِلَيْكُمُ الْإِيمَانَ وَزَيَّنَهُ فِي قُلُوبِكُمْ {الحجرات:٧}

اکنون به بخش نخست حدیث می آییم : آنحضرت (صلی الله علیه وسلم) در آغاز می فرمایند که حلال وحرام واضح است و در حدیث واژه «بیِّن» آمده است یعنی آنقدر واضح و روشن است که انسان به فطرت خود خوبی حلال و بدی حرام را بداند.

در حدیث آمده که بین حلال و حرام اموریست که «لا یعلمهن کثیر من الناس» یعنی بسیاری از مردم آنرا نمی دانند.

شبه چیست؟

این پرسشی است خیلی مهم، شبه به چیزهای گفته می شود که از قرآن وسنت دلایل آن بگونه واضح معلوم نگردد ویا در چیزهای که اختلاف وجود داشته باشد. نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) می فرماید: کسی که خود را از شبهات نگهدارد ، او دین خود را از لحاظ شریعت نگهداشته واو را حفظ کرد.

دین مگرچگونه حفظ میشود؟

به این معنا که اگرشخصی به سوی متشبهات می رود سرانجام در حرام می افتد. چگونه؟

نظر به دو وجه اساسی:

نخست: شخصی که به دنبال یک چیز مشبه بیفتد و بگوید این یک چیز کوچک است، روز دیگر به چیزهای مشکوک بیشتری برمی خورد و درنتیجه کوشش به این می کند که حرام را حلال ثابت کند وحلال را حرام.

دوم: در طبیعت انسان سستی پیدا میشود. طبیعت که باید چست وچالاک باشد که مبادا چیزی را انجام دهد و در آن نارضایتی الله جل جلاله باشد. به انجام متشبهات ، درطبیعت انسان سستی پیدا می شود وتاجای که انسان مرتکب حرام میشود.

ارتباط این دوبخش حدیث باهم:

اگر در قلب ایمان و احساس باشد و کیفیت و استعداد باشد، پس شریعت که حلال و حرام را مقرر کرده باید پابند آن باشیم و اگر این نور(ایمان) نباشد ، پس همه احکام درکتابها نوشته خواهد ماندو بس ، هرکس آن را اگر بشناسد هم عملی به آن نمی کند.

درنهایت باید بدانیم که قلب چگونه اصلاح میشود؟

نبی کریم (صلی الله علیه وسلم) می فرماید: کثرة ذکر الموت و تلاوة القرآن). بسیار به یاد آوردن مرگ و تلاوت قرآن). راهیست برای اصلاح قلب.

د مورچل وږمي

خزان او پسرلی

مفتي محمد هاشم ذاکر

جوړه کلي ته راغلل خزان او پسرلی
له درده سره مله راغلل ارمان او پسرلی

وطنه څه دتورې بلا ساه درکې چلیږي
بې ویره مو ونه لیدل ګلان او پسرلی

اې خدایه رقیبان کړه داجل تر سیوري لاندي
چې وژنی زموږ مینه او جانان او پسرلی

یوه ورځ به دې قاتله سر د دار کړی ته سیخ شي
لوټې چې دتنکو هیلو کاروان او پسرلی

دوینو هر یو څاڅکی به یې سل پسرلي راوړي
دا نن چې ځوانیمرګ شولو باغوان او پسرلی

تاریخ به پرې زرین شي او وطن به را زرغون کړي
شهیده ستا زخمونه ارغوان او پسرلی

یوازي ذاکر نه خزانه ډیر زړونه دې مات کړل
چې بېل دې کړل یو بل څخه ریان او پسرلی

عرفان الله عرفانی

طالب

هم دې رقیبان هم دې جانان مني
اوس خو دې طالبه ټول جهان مني

تا هر امپراطور په ګنډو کړی دی
نن دې نړۍ وال، ځواک د ایمان مني

مات دې کړو ریښتیا د کلیسا ناقوس
خود به حق منبر غږ د آذان مني

ای د وخت موسی څومره اعجاز لرې
ځکه دې د عصر فرعونیان مني

ته زموږ امام د غزاګانو یې
ټول ملت دې امر او فرمان مني

لمره تورې شپې دې ترۍ تم کړلې
ډک له سپینو ستورو دې اسمان مني

وصل دې منزل ته لوی کاروان کړلو
یې ملي څاروان تا هر څاروان مني

تور داغ دي ناټو ته په تندي کېښود
ستا اتلولي ټول اتلان مني

وایم (عرفاني) چې غرور ونکړې
هر څوک دې غازي په هر میدان مني

رحمت الله منیب

دا مو توره دا مو ننګ را څخه اخلي
دا له غاړې نه لونګ را څخه اخلي

چې خمارۍ غیرتونه را ژوندی کړی
د دا هسې نشې بنګ را څخه اخلي

چې همه واړه جهان یې چلنج کړی
دا تحریک او دا غورځنګ را څخه اخلي

چې آواز د ترنم یې روح ته رسي
دا د هغو بنګړو شرنګ را څخه اخلي

چې قیامت کې یې له ربه اجر غواړو
د شهیدو وینو رنګ را څخه اخلي

زه منیب چې خپل کلام وربانديلیکم
هغه نې او هغه سنګ را څخه اخلي

په ارګ میښه!

عبد الناصر جهادمل

وګوره چې نن دي د افغانه سره څه کیږي
په لاس د بې ایمانو د ایمانه سره څه کیږي

تا چې میلمانه کور ته د څه لپاره را وسټل
نن یې په لاسونو د اسلامه سره څه کیږي

د لته یهودیت، او نصرانیت ته ښه شوې ده
لږ ځان پرې اګا کړه مسلمانه سره څه کیږي

نن مې د عزت پګړۍ په خاورو کې لویدلې ده
نن د مؤمینانو د ستر شانه سره څه کیږي

هسا چې د بشر د حق دعوه کوي دروغ وایي
نن د دوی له لاسه د جهانه سره څه کیږي

نن افغانیت او اسلامیت ته چې بشکنځل کوي
و پوښتئ له دوی چې د وجدانه سره څه کیږي

چا چې د غربي بشکیلاک ملاتړ کړي خبر دي شي
چاته په خوښي کي له افغانه سره څه کیږي

مشره ته غلام یې دا به ومنې او وایي به
ستا په لاس مډال د امان خانه سره څه کیږي

راشه (جهادمل) درته دا څو خبرې وکړمه
نن د دې مظلوم افغانستانه سره څه کیږي

سید سعید

جنگي جنايتونه

(جولای)

د جولای په ۱مه نیټه د فاریاب د پښتونکوټ ولسوالۍ قومي مشرانو رسنیو ته وویل چي جنرال دوستم د طالبانو پرضد د عملیاتو په نامه اویا تنه ولسي وګړي د ښځو، ماشومانو او بوډاګانو په ګډون شهیدان کړي، له درې سوو څخه زیات ملکي وګړي یې بندیان کړي او د خلګو کورونه یې ویجاړ کړي دي.

د جولای په ۳مه د سرپل یو شمېر قومي مشرانو کابل کي د اجرائیه ریاست له لومړي مرستیال انجنیر محمد خان سره د کتني پر مهال وویل چي په سرپل کي د اشرف غني د لومړي مرستیال جنرال دوستم په مشري وسله والو د دوی کورونه چور کړي، سوځولي، ولسي وګړي یې د طالب په تور وژلي او په ګڼ شمېر کي یې بندیان کړي دي. دوی رسنیو ته سیمي ته د ورتلو بلنه ورکړه چي په سیمه کي د خلګو بد حالت اونړول شوي کورونه او .... په خپله ووینې.

د جولای په ۵مه د کندهار ولایت د خاکریز ولسوالۍ په باغکي سیمه کي د اشغالګرو په بمبار کي پنځه تنه ولسي وګړي د دو میرمنو په ګډون شهیدان او څلور تنه ټپیان شوي دي.

د جولای په ۶مه (د کوچني اختر په لومړۍ ورځ) د خوست ولایت د نادرشاه کوټ ولسوالۍ د شمبوات په سیمه کې ځایې عسکرویو سراچه موټر چې ډاکټر ته یې زنانه ناروغ لیږدوله، په نښه کړی، په برید کي ناروغه میرمن شهیده شوې او زوی یې (اسلام الدین) ژوبل شوی دی.

د جولای په ۱۴مه د زابل ولایت مرکز کلات ته څېرمه د کورنیو عسکرو د هاوان په یوه برید کي د یوې کورنۍ اووه تنه غړي شهیدان او ټپیان شوي، د ټپیانو او شهیدانو له جملې څخه دوه ماشومان شهیدان شوي او د میرمنو او کوچنیانو په ګډون پنځه تنه ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۴مه د غزني ولایت د مقر ولسوالۍ په سمن کلا کلي کي اربکیانو د مدرسې یو (پنځلس کلن زده کونکی عطاء الله د خیال محمد زوی) تر شکنجه کولو وروسته شهید کړی دی.

د جولای په ۱۴مه یرغلګرو ځواکونو د کندهار ولایت د میوند ولسوالۍ مربوط د ریګ شهیدانو سیمه کي د ولسي خلګو څلور موټر په نښه کړي، په برید کي څلور واړه موټر ویجاړ شوي او پکي سپاره شل تنه ملکي هیوادوال شهیدان شوي

دي.يرغلګرو او دګډ حکومت ويندويانو ددغه برید دتايد ترڅنګ ويلي چي ديرش تنه طالبان يې په دغه حمله کي وژلي دي،خو ځايې خلګ وايې چي دبرید قربانيان ټول ولسي وګړي دي.

د جولای په ۱۶مه د ننګرهار ولایت دخوګيانو ولسوالۍ دوزيرو په سنګانه سيمه کي د داخلي عسکرو د ثقيله وسلو په برید ونوکي يوماشوم او دوه سړي شهيدان شوي او دوه تنه نور ملکي وګړي ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۷مه د کندز ولایت مرکز اړوند کلته تای سيمه کي د کورنيو عسکرو په يو توغندیز برید کي ديوه ماشوم په ګډون درې تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي.

د جولای په ۱۷مه د ډايکنډي ولایت داجرستان ولسوالۍ په مربوطاتو کي د طالبانو او حکومتي ځواکونو ترمنځ دنښتي ځخه وروسته حکومتي چورلکو سيمه بمبار کړې،د ځايې خلګو په وينا په دغه بمبار کي دعباسخيلو په کلي کي يوه ښځه شهيده شوې او درې ماشومانې ژوبلي شوي او دمحمدخيلو په سيمه کي دفضل محمد اکا په کورکي دوې ميرمني زخميانې شوې او دوې نورې شهيدانې شوي دي.

د جولای په ۱۹مه د پکتيکا ولایت مرکز ښرني بازار ته نژدې د ملي امنيت کارکونکو يو ملکي وګړی (قسمت دغفارزوی دخير کوټ ولسوالۍ دسه ګاني اوسيدونکی) دسپرلۍ له موټر ځخه کوز کړی،بيا يې وهلی او په اخر کي يې شهيد کړی دی.

د جولای په ۱۹مه د ننګرهار ولایت د شيرزادو ولسوالۍ د طوطو په سيمه کي د يرغلګرو په ډرون حمله کي يې يو ملکي هيواد وال(عبدالکبير)شهيد شوی دی.

د جولای په ۱۹مه د کندز ولایت د امام صاحب ولسوالۍ په قرغان ټپې سيمه کي اربکيانو د سپرلۍ په يو موټر ډزي کړي،يوماشوم پکې شهيد شوی او دماشوم مور او موټر چلونکی سخت ټپيان شوي دي.

د جولای په ۲۱مه د ننګرهار ولایت د خوګيانو ولسوالۍ دوزيرو په تنګي سيمه کي د داخلي عسکرو د هاوان په پيرونو کي دحاجي هميشه ګل په نوم يو ملکي هيواد وال شهيد شوی او دوې ميرمني او يو ماشوم ژوبل شوی دی.

د جولای په ۲۲مه د پروان ولایت د سيدخيلو ولسوالۍ په انچو سيمه کي د ګډ حکومت عسکرو د جنازې پر مراسمو د توپچي برید ونه کړي،په برید ونو کي نهه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي او ديرش تنه ټپيان شوي او همدارازعسکرو شل تنه ملکي وګړي بنديان کړي دي.

د جولای په ۲۲مه د ننګرهار ولایت د سرخرود ولسوالۍ په کړسو خوړ سيمه کي کورنيو عسکرو دخلګو پر کورونو دهاوانو نو برید ونه کړي،په دې برید ونو کي ځينې کورونه زيانمن شوي او په يوه

کور کي يې له املې يوه ميرمن او يو ماشوم شهيد شوی او د کور د مشر الله دوست په شمول يو بل کوچنی ژوبل شوی دی.

د جولای په ۲۳مه د تخار ولايت د درقد ولسوالۍ په نورخيلو سيمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کي پنځه تنه ولسي وګړي شهيدان شوي او درې تنه ژوبل شوي دي.

د جولای په ۲۳مه د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په مربوطاتو کي د کورنيو ځواکونو دتوپچي په ډزو کي اووه تنه ملکي وګړي شهيدان او تپيان شوي دي.

د جولای په ۲۳مه د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالۍ د ميا صاحب سيمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په پيرونو کي دوه ماشومان ژوبل شوي او يو سړی شهيد شوی دی.

د جولای په ۲۴مه د ګډ حکومت د توپچي په ډزو کي د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په ګلدړې سيمه کي خاوند او ميرمن د خپلو دوو ماشومانو په ګډون ژوبل شوي دي. همدارازد شولانې په کلي کي يو توغندی د نوح جان اکا په کور لګيدلی، له املې يې يوه ميرمن شهيده شوې او دوه کوچنيان ژوبل شوي دي.

د جولای په ۲۵مه يرغلګرو د شپنيو عملياتو په لړ کي د کندهار ولايت د شاولیکوټ ولسوالۍ د بوري په سيمه کي چاپه وهلې، دوه تنه ولسي وګړي يې شهيدان کړي او ګڼ نور يې بندیان کړي دي.

د جولای په ۲۸مه يرغلګرو ځواکونو د داخلي عسکرو په ملتيا د شپنيو عملياتو په لړ کي د ننګرهار ولايت د چپرهار ولسوالۍ په تريلي کلي چاپه وهلې، د تلاشۍ پر مهال يې خلګ وهلي او پنځه تنه ملکي هيوادوال يې بندیان کړي دي.

د جولای په ۳۰مه د جوزجان ولايت د آقچې ولسوالۍ په سرخ کلي کي اربکيانو دوه تنه ولسي وګړي شهيدان کړي او د خلګو له کورنيو يې قيمتي شيان او موټر سايکلونه وړي دي.

د جولای په ۳۱مه د شپې مهال د ننګرهار ولايت د حصارک ولسوالۍ په ميا صاحب کلي او دخوګيانو ولسوالۍ په وزيرو سيمه کي يرغلګرو د داخلي عسکرو په ملتيا شپنۍ چاپې وهلې، د تلاشۍ پر وخت يې خلګ ځوروله، مالي زيانونه يې ورته رسولي او د معلم نواب په ګډون يې څلور تنه ولسي هيوادوال د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جولای په ۳۱مه د ميدان وردګ ولايت د جلريز ولسوالۍ په اسماعيل خېل سيمه کي ځايې عسکرو يو ملکي وګړی (وکيل داکبر زوی) شهيد کړی دی.

د جون د مياشتې جنګي جنايتونه :

د روان (۲۰۱۶، ز) کال د جون د مياشتي په ۳مه نيټه د کندهار ولايت د معروف ولسوالۍ په اسحاقزو سيمه کي د طالبانو او حکومتي ځواکونو ترمنځ د نښتي په مهال د حکومتي عسکرو دهاوان په ډزو

کي درې تنه ولسي وګړي شهيدان شوي، يو ماشوم او دوې ښځې ټپيانې شوي دي.

د جون په ۳مه د فارياب ولايت د چهلګزي ولسوالۍ د کنجک په سيمه کي د داخلي ځواکونو په بمبار کي درې تنه ولسي وګړي ژوبل شوي دي.

د جون په ۴مه د ننګرهار ولايت دخوګيانو ولسوالۍ په لوخي سيمه کي اشغالګرو او داخلي عسکرو د شپنيو عملياتو په لړ د ولسي خلګو پر کورنو چاپه وهلې، کورونه يې تلاشي کړي، يو ملکي سړی يې د دوو ماشومانو په ګډون بندي کړی دی.

د جون په ۵مه د سمنګان ولايت د حضرت سلطان ولسوالۍ په مونغر سيمه کي اربکيانو يو ملکي وګړی شهيد کړی او يو بل تن يې ژوبل کړی دی.

د جون په ۷مه د بغلان ولايت د جلګې ولسوالۍ اوسيدونکو رسنيو ته وويل چي تيره شپه د قومندان انعام الله وسله والو په علياى کلي کي درې تنه ورونه چي بزګران وو، شهيدان کړي او درې تنه يې ژوبل کړي دي، خلګو د دې پيښې علت داوښود چي د يادوو شوو کسانو اواربکيانو ترمنځ د اوبو پر ويش لفظي شخړه رامنځته شوه چي په پايله کي يې داربکيانو له لوري ياد شوي کسان مړه او ټپيان شول.

د جون په ۹مه نيمه شپه يرغلګرو د داخلي عسکرو په ملتيا د کندهار د ميوند ولسوالۍ په سنګبر سيمه کي چاپه وهلې، شپږ تنه ولسي وګړي يې شهيدان کړي او ديارلس تنه يې د بنديانو په توګه له ځان سره انتقال کړي دي، د ځايې خلګو په وينا په دې چاپه کي د ولسي خلګو موټر سايکلونه او موټر سوځول شوي او زيات مالي زيان ورته رسيدلی دی.

د جون په ۱۰مه د شپې مهال د کندز ولايت مرکز ته څېرمه ملرغي سيمه کي اشغالګرو پوځيانو د کورنيو عسکرو په ملتيا د ملکي خلګو په کورونو چاپه وهلې، اووه لس تنه ولسي هيواد وال يې چې سپين ږيري هم پکې دي، بنديان کړي، د عيني شاهدانو له قوله ګډو پوځيانو په دې چاپه کي د کورونو د تلاشۍ پر وخت خلګ وهلي او شتمنۍ يې لوټ کړي دي.

د جون په ۱۱مه د لوګر ولايت دازري ولسوالۍ او حصارک ترمنځ په سپاندوکځ سيمه کي د يرغلګرو په ډرون حمله کي يو ولس تنه ملکي وګړي شهيدان شوي دي، په ولايتي شورى کي د ازرې وکيل عبدالولي وکيل دپينبي د تائيد ترڅنګ وايې چي په دغه حمله کي طالبان او ولسي وګړي ګډ وژل شوي دي.

د جون په ۱۲مه د ميدان وردګ ولايت د سيد اباد ولسوالۍ په اترپو سيمه کي د يرغلګرو په ډرون حمله کي يو ملکي کوچي وګړی شهيد شوی دی.

د پژواک اژانس د يو خبر له مخي د جون په ۱۳مه د فراه ولايت په فراه رود سيمه کي دګډ

حکومت د هوایي ځواکونو په بمبارکي چې د جنازې پر مراسمو شوی دښځو او ماشومانو په ګډون پنځه تنه شهیدان شوي او دیرش تنه ټپیان شوي دي، دغه غملړلې پیښه داسې مهال رامنځته شوې، چې په سیمه کې دیو کس تر دفن کیدو وروسته د جنازې ځینې ګډونوال له هدیرې ولاړل او د مړې د کورنۍ غړي او خپلوان قبر باندې راټول وو چې د برید بښکار شول، په دغه حمله کې ولسي یاده شوې مرګ ژوبلې دفراه چارواکي تائیدوي او زیاتوي چې بمبار دهرات د ۲۰۷ ظفر قول اردو له خوا شوی دی.

د جون په ۱۳مه د جوزجان ولایت مرکز اړوند (یتیم تاغ وال مغل) سیمه کې د جنرال دوستم وسله والو دملکي خلګو پر کورونو یرغل کړی، د تلاشۍ پر مهال یې د خلګو مالونه او قیمتي شیان چور کړي، خلګ یې وهلي او یو شمېر یې بندیان کړي دي، وروسته یې په سیمه کې په لسهاوو کورونو ته اور ورته کړی چې له امله یې په لسهاوو کورنۍ بې کوره شوي دي.

د جون په ۱۳مه د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د سرخ سنګ د ناوې په کلي کې اربکیانو یو ۷۰ کلن سپین ږیری (جانو کاکا) چې په خپل باغ کې په کار بوخت و، شهید کړی دی.

د جون په ۱۳مه د بادغیس ولایت د آب کمري ولسوالۍ د بند شرم په سیمه کې اربکیانو یو تن ولسي وګړی شهید کړی او درې کورونه یې سوځولي دي.

د جون په ۱۳مه د بادغیس ولایت د بالامرغاب ولسوالۍ په مرکز کې ځایې چارواکو وروسته له هغه چې د طالبانو برید بښکار شول، دوه تنه ولسي وګړي (جمعه ګل د حاجي تورجان زوی د جوی خواجه د کلي او سید ونکی او نجم الدین د دستګیر زوی د مرغاب او سید ونکی) لومړی شهیدان کړي او بیا یې سوځولي دي.

د جون په ۱۳مه د بغلان ولایت د مرکزي بغلان مربوط په شهر کنهه سیمه کې اربکیانو یو ملا امام له ځان سره بیولی او بیا یې شهید کړی دی.

د جون په ۱۴مه د پکتیا ولایت د زرمت ولسوالۍ په کوهي سیمه کې د داخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې یو ماشوم شهید او دوه کوچنیان ژوبل شوي دي.

د جون په ۱۴مه د بادغیس ولایت آب کمري ولسوالۍ د کنه قل په سیمه کې داخلي عسکرو دچاپې په مهال یو ملکي وګړی (عزت الله) شهید کړی او یو بل تن یې ژوبل کړی دی.

د جون په ۱۵مه د کندهار ولایت د شاولیکوټ ولسوالۍ په زنګټان سیمه کې یرغلګرو او داخلي عسکرو په ګډه چاپه کې د کورونو دروازې ماتې کړې، کورونه یې تلاشي کړي، خلګ یې وهلي او تهدید کړي، قیمتي شیان یې غلا کړي او شپږ تنه

ولسي وګړي يې په خپلو کورونو کې شهيدان کړي دي.

د جون په ۱۷مه د تنګرهار ولايت د خوګيانو ولسوالۍ د وزيروپه سيمه کې اربکيانو دوه تنه ولسي وګړي (پلار اوزوی) شهيدان کړي دي.

د جون په ۱۸مه د روزګان ولايت د دهراود ولسوالۍ د ګاري بازار په سيمه کې د داخلي ځواکونو په بمبارکي دري تنه ولسي هيوادوال شهيدان او يو ولس تنه ټپيان شوي دي.

د جون په ۲۰مه د روزګان ولايت د چهارچينو ولسوالۍ د کښته دوان د غوچک په سيمه کې د داخلي عسکرو دهاوانونو د مرميو دلګيدو له املې د عبدالعليم په کور کې يو ميرمن او دوه ماشومان شهيدان شوي او د حيات الله په کور کې يوه ښځه او دري کوچنيان شهيدان شوي دي.

د جون په ۲۰مه د فارياب ولايت د ګرزيوان ولسوالۍ په مربوطاتو کې د کورنيو ځواکونو په بمبارکي يو شپونکی شهيد او يوه ميرمن زخمي شوې ده.

د جون په ۲۱مه د پکتيکا ولايت د يحی خيلو ولسوالۍ په مغلي کلي کې اربکيانو يو ملکي سړی شهيد کړی دی.

د جون په ۲۱مه د فارياب ولايت د ګرزيوان ولسوالۍ د تګاب شان په بازارکي داخلي عسکرو يو ملکي وګړی د طالبانو سره د همکاری په تور شهيد کړی دی.

د جون په ۲۲مه د پکتيکا ولايت د متاخان ولسوالۍ مرکزي ودانۍ ته نژدې داخلي عسکرو يو ملکي وګړی (بخت محمد) شهيد کړی دی.

د جون په ۲۳مه د روزګان ولايت د دهراود ولسوالۍ په دهزک سيمه کې داخلي عسکرو دوه تنه ملکي وګړي شهيدان کړي او درې تنه يې ژوبل کړي دي.

د جون په ۲۴مه د کندهار ولايت د شاولیکوټ ولسوالۍ په چغنيانو سيمه کې يرغلګر د داخلي عسکرو په ملتيا چاپه وهلې، خلګ يې له کورنو راايستلي، موټرو ته يې اور اچولی او څلور تنه ملکي وګړي يې د بنديانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د جون په ۲۶مه د بادغيس ولايت د غورماچ ولسوالۍ د پي آر ټي په سيمه کې د کورنيو عسکرو د ثقيله وسلو په ډزو کې دوه ماشومان شهيدان شوي دي.

د جون په ۲۸مه د ميدان وردګ ولايت د سيداباد ولسوالۍ په سلطان خېل سيمه کې د کورنيو عسکرو د توپچي په ډزو کې يوه ښځه او يوه ماشومه ژوبله شوې ده. همدارنګه په همدې ورځ د کابل – کندهار په لويه لار داخلي عسکرو په ۳۰۳ مسافر وړونکي موټر ډزې کړې، يو مسافر پکې

او بیادشپې پهره کول!

شهید شوی، یوه میرمن او یو ماشوم پکې ټپیان شوي دي.

د جون په ۲۸مه د میدان ورډګ ولایت د چک ولسوالۍ مرکز ته څیرمه داخلي عسکرو یو ملکي وګړی (لاجبر اکا) چې په خپل پټي کې په کار بوخت و شهید کړی دی.

د جون په ۲۸مه رسنیو دځایې خلګو له خولې داسې راپورونه خپاره کړل چې د جون په وروستۍ اونۍ کې د فاریاب ولایت د شیرین تګاب ولسوالۍ په استانه بابا او د دولت اباد ولسوالۍ په مختلفو سیمو کې د جنرال دوستم په مشري ملیشو دولسي هیوادوالو په لسهاوو کورونه سوځولي، دوکانونه یې چور کړي، قیمتي شیان یې غلا کړي، اویا تنه ملکي هیوادوال یې بندیان کړي، په لسهاوو عرادې نقلیه وسایط او په سلهاوو کورني حیوانات (پسونه او بزې) یې له ځان سره بیولي دي.

د جون په ۳۰مه د هلمند ولایت د خانشین ولسوالۍ د میرزا اغا غونډۍ په سیمه کې د کورنیو عسکرو دهاوان په ډزو کې خاوند او میرمن یې شهیدان شوي او دوه کوچنیان یې ټپیان شوي دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو ،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر= نن ټکی اسیا=اوبینوا=].

عن عثمان رضي الله عنه قال: سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: {حرس ليلة في سبيل الله أفضل من ألف ليلة يقام ليلها، ويصام نهارها} .سبعون حديث في الجهاد ص\٣٩

ژباړه : له عثمان رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دي چې ویل یې :په جهاد کې دیوې شپې پهره کول ترهغه زرو شپو اوورځو افضله ده چې شپې یې ټولې په عبادت اوورځې یې په روژه تېره وي.

تشریح : که یوتن دخپل عمر څخه زر شپې ټولې په عبادت کې تېرې کړي اوزر ورځې په روژه نیولو بیاهم دجهاد اودسنګر دیوې شپې پیره کول زیات اجر وربانديي لري . وفي ذلک فليتنافس المتنافسون.

۲۰۱۶ زکال

دجولای میاشتې جهادي خبرونه

سپيلنی

تکور

سينه کې مي اوسېږي لېونی لکه زړګی
په ما همدومره ګران دی يوسړی لکه زړګی

يوځوک دی چې يې تل په دعاګانوکې رانغاړم
همېش تړې تاوه ومه سپېلنی لکه زړګی

دې خلکوته د کوم فقيرښېراکړه خدای قبوله
لنډشوی ورته دومره ده مرګی لکه زړګی

داغرونه اوسيندونه، چنارونه، ګودرونه
د وران وطن دا زېړمازديګری لکه زړګی

که زړه مي دا دجنګ اود جګړو وطن کې مړشو
زه نه مرم راسره به وي همدی لکه زړګی

زما تنکيو هيلو ارمانونو ته تکور ده
جانان دي خدای لري راته ژوندی لکه زړګی

کابـــل

پغمان کې رینجر ویجاړ، پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ ارغندۍ څلورلاري اړوند میدان بنار دروازې ته نژدې سیمه کې د ګوډاګیو پولیسو په رینجر برید وشو، په برید کې رینجر پوره ویجاړ شو او پکې ناست پولیس مړه اوژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۳

قره باغ کې رینجر ویجاړ، ۴ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند سبز سنګ سیمه کې د اجیرو عسکرو په رینجر چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې رینجر پوره ویجاړ او ۴ تنه عسکر مړه اوټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۳

سروبي کې ۲ عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند اوزبین سیمه کې د اجیرو عسکرو د بیس په شاوخوا دفاعي پوستو برید وشو، په برید کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل مرګونی ټپي شو. ۲۰۱۶/۷/۵

قره باغ کې چاودني د ۷ عسکرو ژوند واخیست

د کابل ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند د ملک شمس باغ ته څیرمه سیمه کې د اجیرو عسکرو په اکملاتي موټر چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې موټر په بشپړه توګه ویجاړ او ۷ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۵

سروبي کې د مزدور دښمن په قرارګاه برید وشو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند جګدلک سیمه کې د اجیرو عسکرو په مرکز برید وشو، دبرید په پایله کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خوکره یې شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۶/۷/۶

سروبي کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند اوزبین سیمه کې جلال آباد ته په غزیدلي لویه لاره د اجیرو عسکرو په امنیتي پوستو برید ونه وشول، د جګړې په لړ کې ۱ تن اجیر عسکر ووژل شو او ۲ تنه نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۱۰

کابل مرکز کې چاودني ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د کابل بنار شمال پلوبګرام ته په غزیدلي لویه لار د موسی زیو په سیمه کې داستخباراتي کارمندانو په موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر پوره ویجاړ، ۴ تنه د جاسوسي اداري مهم کارمندان مړه اوژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۱۰

سروبي کې رینجر ویجاړ، ۱ عسکر قتل، بل ژوبل شو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند ډیلي پول ته څیرمه سیمه کې د اجیرو عسکرو په کاروان برید وشو، دبرید په پایله کې ۱ عراده رینجر ویجاړ، ۱ عسکر ووژل شو او بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۰

سروبي کې د اجیرو عسکرو په بیس توغندیز برید وشو

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند اوزبین سیمه کې د ګوډاګیو عسکرو په مهم اولوی بیس توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په هدف ولیګدل او له املې پې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۷/۱۳

موسهي کې چاودني ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند خانانو کلي ته څیرمه سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۴

سروبي کې چاودني ۴ پولیسو ته مرګ ژوبله واړوله

د کابل ولایت د سروبي ولسوالۍ اړوند ماهیپر سیمه کې جلال آباد په غزیدلي لویه لار د اجیر دښمن د پولیسو په رینجر چاودنه ترسره شوه. په چاودنه کې رینجر ویجاړ، ۲ تنه پولیس ووژل شول، ۲ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۱۵

بګرامي کې رینجر ویجاړ، ۵ تنه پولیس مړه اوژوبل شول

د کابل ولایت د بګرامیو ولسوالۍ اړوند حسین خېلو سیمه کې د اجیرو پولیسو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر په ټولیزه توګه ویجاړ او ۵ تنه پولیس مړه اوټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۱۶

ده سبز او چهار آسیاب کې د دښمن په مرکزونو برید ونه وشول

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ اړوند سیمه کې د مزدوري اداري د عسکرو د صفریک قطعي په نوم مرکز توغندیز برید وشو، په عین وخت کې د چهار آسیاب ولسوالۍ په دشت سقاوه سیمه کې هم د اجیرو عسکرو په یوه مهمه لیوا د هشتاد و دو برید وشو، په دواړو

بریدونو کې دښمن ته داوښتو ځاني اومالي زیانونو دشمیر کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱٦/۷/۱۷

بګرامي کې رینجرویجاړ، ۳ تنه عسکروژل شول

د کابل ولایت د بګرامي ولسوالۍ اړوند سیمه کې د اجیرو عسکرو په رینجر چاودنه ترسره شوه. په چاودنه کې رینجر په ټولیزه توګه ویجاړ او ۳ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۱۷

چهارآسیاب اوکلکان کې ۲ رینجرویجاړ، ۹تنه پولیس مړه اوژوبل شول

د کابل ولایت د چهارآسیاب ولسوالۍ اړوند للندر سیمه کې د اجیرو پولیسو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر په ټولیزه توګه ویجاړ او ۴ تنه پولیس مړه اوژوبل شول. دغه راز د کلکان ولسوالۍ اړوند د زړې علاقه داری په سیمه کې هم د پولیسو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر په بشپړه توګه ویجاړ او ۵ تنه پولیس ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۰

پغمان کې د مشهور جاسوس په ګډون ۱۱ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند څوکۍ سیمه کې په اجیرو پولیسو چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه پولیس مرګوني ټپیان شول، وروسته سیمې ته نور عسکر راغلل او بله چاودنه ورباندې وشوه، دغې چاودنې ۸ تنه عسکر مړه اوژوبل کړل. یو بل خبر وایي په یاده ولسوالۍ د اشغالګر و عسکرو فعال اومهم جاسوس (ضابط شاه لالا) د یو وسلوال برید په مهال ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۱

چهارآسیاب کې په مهم بیس توغندیز بریدوشو

د کابل ولایت د چهارآسیاب ولسوالۍ اړوند دسقاوي دشت سیمه کې د ګوډاګي دښمن په لوی اومهم بیس توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په هدف ولګیدل اوپه پایله کې یې اجیر دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱٦/۷/۲۱

کابل مرکزپلچرخي سیمه کې ۴ تنه عسکر مړه اوټپیان شول

د کابل ولایت د مرکزپلچرخي اړوند تالاشي سیمه کې جلال آباد ته په غزیدلي لویه لار په اجیروعسکرو برید وشو چې په مهال یې ۴ تنه عسکر مړه اوژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۳

ده سبزکې مشهور جاسوس ژوبل شو

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ اړوند ابدرې علیاکلي ته څیرمه سیمه کې د استخبارات و په مهم جاسوس (ملک لعلو) د ماین چاودنه وشوه چې له املې یې یاد جاسوس مرګونی ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۲۳

خاکجبارولسوالۍ په ودانۍ توغندیز بریدوشو

د کابل ولایت د خاکجبار ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ توغندیز برید ترسره شو، په برید کې توغندي په هدف ولګیدل او په پایله کې یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲٦

ده سبزکې رینجرویجاړ، دامنیه قومندان په ګډون ۴ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د ده سبز ولسوالۍ تره خېلو اړوند نوآبادسیمه کې د یادي ولسوالۍ د امنیه قومندان (ننګیالي) په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر ویجاړ شو، ننګیالی له ۱ تن ساتونکي سره مرګونی ټپي شو او ۲ تنه نور ساتونکي یې ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۹

پغمان کې پوسته ویجاړه، ۴ عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د پغمان ولسوالۍ اړوند څوکۍ سیمه کې عمومي دروازې ته څیرمه د اجیروعسکرو په پوسته برید وشو، په برید کې پوسته ویجاړه شوه او ۴ تنه عسکر مړه اوټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۲۹

کابل بنار کوټه سنګي کې د پارلمان وکیل (خیل الله اوریا) قتل، ۲ ساتونکي یې ژوبل شول

د کابل بنار کوټه سنګي اړوند ترلوی پول لاندې د ګوډاګي ادارې د پارلمان وکیل (خیل الله اوریا) په موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر ویجاړ شو، اوریا ووژل شو او ۲ تنه ساتونکي یې مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۳۰

موسهي کې ۳ پولیسو ته مرګ ژوبله واوښته

د کابل ولایت د موسهي ولسوالۍ اړوند کټه سنګ سیمه کې پوستې ته څیرمه په اجیروپولیسو برید وشو، دبریدپه پایله کې ۲ تنه پولیس ووژل شول او ۱ بل مرګونی ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۳۱

دکابل په دشت برچي کې ټانګ ویجاړ، ۷ تنه عسکر مړه اوټپیان شول

د کابل ولایت د مرکز کابل بنار کوټه سنګي اړوند دشت برچي سیمه کې د اجیرو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې

ټانګ په ټولیزه توګه ویجاړ شو او ۷ تنه عسکر مړه اوژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۳۱

غزنی

ګیلان کې مهم اربکی قتل، وسله یې غنیمت شوه

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ اړوند شینکۍ سیمه کې پوستې ته څیرمه په اربکیانو تکتیکي برید وشو، دبریدپه پایله کې مهم اربکی (کټی) ځای په ځای ووژل شو، ۱ میل کلاشینکوف، ۱ مخابره او نور مهمات ور څخه په غنیمت ونیول شول. ۲۰۱٦/۷/۱

شلګر کې ۱ اربکی له مخالفت نه لاس په سر شو

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند منار کلي اوسیدونکی ۱ تن اربکی (آدم خان) د اسلام اوهیواد له دښمنۍ څخه لاس په سر اومجاهدینو ته تسلیم شو. ۲۰۱٦/۷/۲

ګیلان کې د ولسوال مرستیال مرګونی ټپي شو

د غزني ولایت د ګیلان ولسوالۍ په بازار کې د یادي ولسوالۍ د ولسوال په مرستیال (اختر محمد) بریدوشو چې له امله یې نوموړی مرګونی ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۲

شلګر کې ۲ تنه اربکیان مجاهدینو ته تسلیم شول

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند قدم خېلو کلي اوسیدونکي ۲ تنه اربکیان هریو حکمت الله او محمد کبیر د حقائقو په درک کولوسره د اجیري ادارې له ناولو لیکونه رابیل او له ۱ میل کلاشینکوف سره ته تسلیم شول. ۲۰۱٦/۷/۲

شلګر کې ټانګ ویجاړ، ۴ تنه عسکر ووژل شول

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند سلطان باغ سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې ۱ ټانګ ویجاړ او ۴ تنه عسکر له منځه لاړل. ۲۰۱٦/۷/۲

خوګیاڼو کې چاودني د ۲ پولیسو ژوند واخیست

د غزني ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ اړوند ولي کلاسیمه کې په پلیو پولیسو چاودنه ترسره شوه چې په مهال یې ۲ تنه پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲

شلګر کې ۱ عسکر ووژل شو

دغزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند زاړه ښار سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو د درازکوف بریدوشو او په مهال یې ۱ تن عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۳

مرکز کې چاودني د ۲ پولیسو ژوند واخیست

دغزني ولایت د مرکز غزني ښار اړونددوهمي امنیتي حوزه کې په پلیو پولیسو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۳

خوګیاڼو کې مهم قومندان له ۱ تن ساتونکي سره ووژل شو

د غزني ولایت د خوګیاڼو ولسوالۍ اړوند روباسیمه کې د اجیرو عسکرو د پوستې په قومندان چاودنه وشوه، په چاودنه کې یاد قومندان له ۱ تن ساتونکي سره ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۴

قره باغ او شلګر کې ۶ تنه عسکر ووژل شول

د غزني ولایت د قره باغ ولسوالۍ اړوند صاحب زاده سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۳ تنه عسکر ووژل شول. دغه راز د شلګر ولسوالۍ په ملانوح بابا سیمه کې هم په مزدورو عسکرو چاودنه وشوه، دغي چاودني ۳ تنه مزدور عسکر ووژل. ۲۰۱٦/۷/۴

شلګر کې په پوسته بریدوشو

د غزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند په غبرګون سیمه کې د مزدورو پولیسو په پوسته بریدوشو، دبریدپه مهال دښمن ته تلفات واوښتل خوکره یې شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱٦/۷/۱۰

شلګر کې ۱ اربکی له خپلي وسلې سره مجاهدینو ته تسلیم شو

دغزني ولایت د شلګر ولسوالۍ اړوند ابوقلعه کلي اوسیدونکی ۱ تن اربکی (محمدسرور) دحقائقو په درک کولوسره د مزدورې ادارې له ناولي صف نه راجلا اوله ۱ میل کلاشینکوف او یوشمیر مهماتو سره تسلیم شو. ۲۰۱٦/۷/۱۲

خوګیاڼو کې رینجر ویجاړ، ۷ تنه اربکیان مړه اوژوبل شول

د غزني ولایت د شهداء قلعه سیمه کې داربکیانو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر په ټولیزه توګه ویجاړ شو، ۴ تنه اربکیان ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۱۳

غزني مرکز کې ظالم اربکی ووژل شو

د غزني ولایت د مرکز غزني بنار اړوند کندهار اډې سیمه کې په مشهور وحشي اربکي (نورزي) بریدوشو چې په مهال یې یاد اربکی ژوندله لاسه ورکړ. ۲۰۱٦/۷/۱۴

مقرکې اربکیانو د مدرسې تنکی زده کونکی شهیدکړ

د غزني ولایت د مقر ولسوالی اړوند سمن کلا کلي کې اربکیانو د مدرسې ۱ تن ۱۵ کلن زده کونکی (عطاء الله) له خپل کورسره نژدې لومړی سخت شکنجه کړ او بیایې په ډیر وحشت سره په شهادت ورساوه. ۲۰۱٦/۷/۱۴

مقرکې په اربکیانو بریدوشو

د غزني ولایت د مقر ولسوالی اړوند اتیخېلو سیمه کې په اربکیانو بریدوشو، دبرید په لړ کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو دقیق شمیر یې لانه دی معلوم شوی. ۲۰۱٦/۷/۱۴

شلګرکې ۵ تنه پولیس مړه اوژوبل شول

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی اړوند صاحب خان سیمه کې د اجیرو پولیسو په پوسته برید وشو، په برید کې ۲ تنه پولیس ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۱۵

واغزکې ۱ پولیس قتل، بل ژوبل شو

د غزني ولایت د واغز ولسوالی اړوند کابلو دامان سیمه کې په پولیسو بریدوشو، په برید کې ۱ تن مزدور پولیس ووژل شو او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۱۵

خوګیانوکې چاودني د ۱ پولیس ژوندواخیست

دغزني ولایت د خوګیانو ولسوالی اړوند پیره سیمه کې په پلیو پولیسو چاودنه وشوه چې له املهٔ یې ۱ پولیس ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۱۵

خواجه عمري کې ۱ پولیس قتل، موټرسایکل یې غنیمت شو

د غزني ولایت د خواجه عمري ولسوالی ودانی ته نژدې په کاریز سیمه کې په ګوډاګیوپولیسو برید وشو، په برید کې ۱ تن ماین شنډونکی پولیس ووژل شو، ۱ موټرسایکل او ۱ د ماین پاکولو آله په غنیمت ونیول شوه. ۲۰۱٦/۷/۱۶

قره باغ کې ۱ اربکی قتل، وسله یې غنیمت شوه

دغزني ولایت د قره باغ ولسوالی اړوند صاحب زاده سیمه کې په اربکیانو برید وشو، په برید کې ۱ تن اربکي ځای په ځای ووژل شو، ۱ کلاشینکوف یې له چانټې سره په غنیمت ونیول شو او موټرسایکل یې پوره ویجاړ شو. ۲۰۱٦/۷/۱۶

شلګرکې ټانګ ویجاړ، ۸ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

دغزني ولایت د شلګر ولسوالی اړوند نانې سیمه کې د اجیرو عسکرومرکز ته نژدې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه، دچاودني له املهٔ ۵ تنه ګوډاګي عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول، وروسته سیمې ته نور عسکر راورسېدل چې دمجاهدینو تر برید لاندې راغلل، په نښته کې د دښمن ۱ ټانګ ویجاړ شو او ګڼ شمیر عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱٦/۷/۱۶

شلګرکې پوسته ویجاړه، ۵ تنه پولیس مړه اوژوبل شول

د غزني ولایت د شلګر ولسوالی اړوند صاحب خان سیمه کې د مزدورو پولیسو په پوسته برید وشو، په برید کې د پوستې ودانۍ زیانمنه، ۲ تنه پولیس ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۱۷

شلګرکې په اربکیانو بریدونه ترسره شول

د غزني ولایت د شلګر ولسوالی اړوند دوه لاري سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید وشو، په برید کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمیر یې لانه دی معلوم شوی. دغه راز یادي دوه لاري ته نژدې په اربکیانو چاودنه وشوه چې له املهٔ یې دښمن ته تلفات واوښتل، وروسته وحشي دښمن په ملکي خلکو بریدونه ترسره کړل او په پایله کې یې ۱ تن ۷۰ کلن سپینږیری (امیر خان اکا) په شهادت ورسید. ۲۰۱٦/۷/۱۸

غزني مرکزکې په پوسته دبریدله املهٔ ۲ عسکرووژل شول

دغزني ولایت د مرکز اړوند په نوآباد سیمه کې د اجیروعسکرو په پوسته برید وشو اوپه ترڅ کې یې ۲ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۱۹

شلګرکې ۵ تنه اربکیان مړه اوټپیان شول

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي اړوند ملنگو سيمه کې داربکيانو په پوسته بريد وشو، دبريد په مهال ۲ تنه اربکيان ووژل شول او ۳ نور مرګوني ټپيان شول، په بريد کې ۱ موټر او ۴ عرادې موټر سايکلونه پوره ويجاړ او ۱ ميل کلاشينکوف او ۱ چانته په غنيمت ونيول شول. په نښته کې ۱ تن مجاهدژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۰

شلگر او خواجه عمري ۶ تنه پوليس ووژل شول

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي اړوند اتل سيمه کې د هغو ګوډاګيو پوليسو موټر د ماين بنکار شو چې په ملنګوسيمه کې د اربکيانو پوستې ته د کومک په موخه روان وو، په چاودنه کې موټر ويجاړ او ۵ تنه پوليس ووژل شول. دغه راز د خواجه عمري ولسوالي اړوند آبکسيوسيمه کې د مزدورو پوليسو په پوسته کې يو تن پوليس په دراز کوف وويشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۰

غزني مرکز کې ۱۲ تنه عسکر مړه او ټپيان شول

دغزني ولايت د مرکز اړوند سيمه کې د اجيرو عسکرو په لويه قرارګاه (پخوانی P R T) ګڼ شمير توغندي و توغول شول چې په هدف ولګېدل او په پايله کې يې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۷ تنه نور مرګوني ټپيان شول. دغه راز د يادمرکز اړوند ګنج سيمه کې پوستې ته نژدې په پليو پوليسو بريدوشو، په بريد کې ۲ تنه پوليس ځای په ځای ووژل شول او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۱

شلگر کې د عسکرو په قرارګاه توغندیز بریدوشو

دغزني ولايت د شلگر ولسوالي اړوند چهار ديوال سيمه کې د مزدورو عسکرو په قرارګاه توغنديز بريدوشو، دبريد له امله دښمن ته ځاني او مالي تلفات واوښتل خو کره شميره يې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱٦/۷/۲۱

مقر کې په خپل منځي جګړه کې ۳ تنه اربکيان مړه او ټپيان شول

د غزني ولايت د مقر ولسوالي اړونده سيمه کې د اربکيانو ترمنځ جګړه وشوه، په جګړه کې د عمر په نوم اربکی ځای په ځای ووژل شو او ۲ تنه نور ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۲

خواجه عمري کې په پوسته دبريد له امله ۱ عسکر ووژل شو

دغزني ولايت د خواجه عمري ولسوالي اړوند ده حمزه سيمه کې د اجيرو پوليسو په پوسته کې ۱ تن پوليس په دراز کوف وويشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۲

شلگر کې چاودني ۴ پوليسوته مرګ ژوبله واړوله

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي اړوند غټانو سيمه کې په ګوډاګيوپوليسو دماين چاودنه وشوه، په چاودنه کې د مزدور دښمن دماين پاکولو د څانګې ۲ تنه پوليس ووژل شول او ۲ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱٦/۷/۲۳

شلگر کې ۱ اربکی له وسلې سره تسليم شو

د غزني ولايت د شلگر ولسوالي اړوند باګو کلي اوسيدونکی ۱ تن اربکی (خالق داد) دحقائقو په درک کولوسره مجاهدينو ته تسليم شو، نومورې له ځان سره ۱ ميل کلاشينکوف هم مجاهدينو ته تسليم کړ. ۲۰۱٦/۷/۲۳

غزني مرکز کې قومندان او مرستيال قتل، ۲ تنه ساتونکي يې ژوبل شول

دغزني ولايت د مرکز اړوند بقولوسيمه کې د مزدور پوليسو د مهم قومندان (طوفان کور) په رينجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې يې ياد قومندان له خپل مرستيال سره ووژل شو او ۲ تنه ساتونکي يې مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱٦/۷/۲۳

ده يک کې د قومندان (اسلام الدين) په ګډون ۴ اربکيان قتل، ۳ ژوبل شول

د غزني ولايت د ده يک ولسوالي اړوندربا سيمه کې د اربکيانو په موټر سايکل چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر سايکل ويجاړ او ۲ تنه اربکيان ځای په ځای ووژل شول، وروسته سيمې ته د عسکرو اواربکيانو قوه راغله، چې ۱ ټانګ يې دماين بنکار شو، د چاودني له امله ټانګ ويجاړ شو او ددې ولسوالي د اربکيانو عمومي قومندان (اسلام الدين) له ۱ تن ساتونکي سره ووژل شو، ۳ تنه نور مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱٦/۷/۲۳

خوګيانو کې چاودني ۲ پوليس ژوبل کړل

د غزني ولايت د خوګيانوولسوالي اړوند فتنې سيمه کې په پليو پوليسو چاودنه وشوه چې له امله يې ۲ تنه پوليس ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۴

غزني مرکز کې ۴ تنه عسکر مړه او ټپيان شول

د غزني ولايت د مرکز اړوند نوغي سيمه کې په اجيروعسکرو برید وشو، په جګړه کې ۲ تنه مزدور عسکر ووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۵

غزني بنار ۳ رحوزه کې چاودني د ۱ پوليس ژوندواخيست

دغزني ولايت د مرکز غزني بنار دريمي حوزې اړوند علي لالاصاحب سيمه کې په ګوډاګيوپوليسو چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ تن پوليس ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲٦

ګيلان کې ۱ عسکر قتل، ۱ اربکی ژوبل شو

دغزني ولايت د ګيلان ولسوالۍ اړوند په آزاد سيمه کې ۱ تن اربکی په درازکوف وويشتل شو چې سخت ژوبل شو، دغه راز په بختيارسيمه کې ۱ اجير عسکر په درازکوف په نښه او ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲٦

شلګر کې پوسته فتحه، ۱ ټانک، ۱ رينجرويجار، ۵ تنه اربکيان مړه اوژوبل شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالۍ اړوندبلوسيمه کې د اربکيانو په پوسته برید وشو، دبريدپه پايله کې پوسته فتحه، ۳ تنه اربکيان ووژل شول او ۲ نور ژوبل شول، دجګړې په جريان کې د دښمن ۱ رينجر، ۱ پيلډر موټر هم ويجارشول او ګڼ شمير سپکې اودرني وسلې غنيمت شوې، وروسته سيمې ته ګڼ شمير عسکر راغلل چې ۱ ټانک يې په اتل سيمه کې د ماين چاودني له امله ويجار اوپکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، دجګړې په لړ کې ۱ تن مجاهد ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۷

شلګر کې ټانک ويجار، ۴ تنه عسکرووژل شو

دغزني ولايت د شلګر ولسوالۍ اړوند ملانوح بابا سيمه کې د ګوډاګيوعسکرو په ټانک چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې ټانک په ټوليزه توګه ويجار او ۴ تنه عسکرووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۷

غزني مرکز کې قومندان له ۳ ساتونکوسره قتل، موټراووسلې يې غنيمت شوې

دغزني ولايت د مرکز اړوند څلورمه حوزه کې د قلاتي په سيمه کې د امنيتي پوستې په قومندان (اختر محمد) برید وشو، دبريدپه پايله کې نومورې قومندان له ۳ تنو ساتونکوسره ووژل شو او ۱ پيلډر موټر، ۱ ميل پيکاماشيندار، ۱ تومانچه او ۳ ميله کلاشينکوفونه ورځخه په غنيمت ونيول شول. ۲۰۱٦/۷/۲۷

شلګر کې په پوسته دبريدله امله دپوستې قومندان ژوبل شو

دغزني ولايت د شلګر ولسوالۍ اړوند براهوسيمه کې دمزدورو پوليسو په پوسته برید وشو، دبريدپه مهال دياډي پوستې قومندان سخت ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۷

ده يک کې د اجيروعسکرو په قرارګاه توغنديز بريدوشو

د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ اړوند يونټ سيمه کې د ګوډاګيوعسکرو په مرکز توغنديز بريدوشو. دبريدپه پايله کې عسکرو ته داوښتو زيانونو دقيق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱٦/۷/۲۸

قره باغ، جغتو اوشلګر کې ۳ ټانکونه ويجار، د قومندان په ګډون ۲۴ تنه عسکر اوپوليس مړه اوټپيان شول

د غزني ولايت د قره باغ ولسوالۍ اړوندولي داد سيمه کې د اربکيانو په پوسته برید وشو، وروسته هغه عسکر د مجاهدينوله کمين سره مخ شول چې پوستې ته د کومک په موخه روان و، په برید کې ۱ ټانک ويجار او ۵ تنه اربکيان مرګوني ټپيان شول. دغه راز د ياډي ولسوالۍ په ليونو سيمه کې د اجيرو عسکرو ټانک د ماين ښکار شو، په چاودنه کې ټانک ويجار، ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور سخت ژوبل شول، د يو بل خبر له مخې د جغتوولسوالۍ په کاريزرم سيمه کې د پوليسو په موټر سايکل چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر سايکل ويجارشواو ۱ تن پوليس له منځه لاړ، خبروايي د ماين په يوه جلا چاودنه کې د پوستې قومندان قتل اوبو پوليس ژوبل کړ، وروسته سيمې ته نور پوليس راغلل چې له بريدسره مخ شول او ۱ تن پوليس پکې ووژل شو،

بل خوا د شلګر ولسوالۍ په عالم والو سيمه کې په اجيرو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل ژوبل شو، دغه راز پکتيکاولايت ته په غزيدلي لويه لار په ششخېلو سيمه کې د اجيروعسکرو کاروان برید وشو، دجګړې په جريان کې ۱ ټانک ويجار اوله منځه لاړ او لږ وروسته په پلیوعسکرو چاودنه وشوه، په بريداوچاودنه کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۳۰

غزني مرکز کې رينجرويجار، ۲ تنه پوليس ژوبل شول

دغزني ولايت د مرکز غزني بنار اړوند دريمي حوزې اړوند سيمه کې د اجيروپوليسو په رينجر چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې رينجر ويجار او ۲ تنه پوليس سخت ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۳۰

شلګر کې په پوسته بريدوشو

دغزني ولايت د شلګر ولسوالۍ اړوند براهو سيمه کې د اجيرو پوليسو په پوسته بريد وشو، دبريدپه پايله کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمېره يې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱٦/۷/۳۱

ده يک کې ۱ عسکروژل شو

د غزني ولايت د ده يک ولسوالۍ اړوند لغوات سيمه کې په عسکرو بريد وشو چې په مهال يې ۱ تن عسکروژل شو. ۲۰۱٦/۷/۳۱

شلګر کې ټانګ ويجاړ، ۲ تنه سپيشل فورس ۳ پوليس قتل، ۲ پوليس ژوبل شول

دغزني ولايت د شلګر ولسوالۍ اړوند براهو، دوه لاري، کنصف او نظروالو سيمو کې د مز دور وپوليسواو اربکيانو په پوستو بريدونه وشول، د بريدونو په جريان کې د اجير دښمن ۱ ټانګ ويجاړ شو، ۲ تنه کمانډوعسکر او ۳ تنه مزدور پوليس ووژل شول او ۲ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱٦/۷/۳۱

ميدان وردګ

ميدان وردګ مرکز کې په پوسته دبريدله امله ۱ عسکروژل شو

دميدان وردګ ولايت د مرکز اړوند ده افغانانو سيمه کې د اجيرو عسکرو په پوسته بريد وشو، په بريد کې ۱ عسکر ځای په ځای ووژل شو او يو شمېر نور ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۱

چک کې په ۲ پوستو بريدونه وشول

د ميدان وردګ ولايت د چک ولسوالۍ اړونددهوټل سر، جيوري اوبزرګ په پوستو بريدونه ترسره شول، دبريدونو په جريان کې دښمن ته ځاني اومالي زيانونه واوښتل خو کره شمېر يې لانه دی روښانه شوی. ۲۰۱٦/۷/۱

سيدابادکې په پليو عسکرو بريدوشو

د ميدان وردګ ولايت د سيدابادولسوالۍ شيخ آباد اړوند عزيزالله خپلو پوستې ته څيرمه په پليو عسکرو بريدترسره شو چې په ترڅ کې يې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱٦/۷/۱

جلريزکې مهم بيس، ۳ پوستې فتحه، ۲ ټانګونه ويجاړ، ۲۵ تنه عسکراواربکيان ووژل شول

د ميداوردګ ولايت د جلريز ولسوالۍ اړوندخواجه محمدولي سيمه کې داجيرو عسکرو په بيس او شاوخوا پوستو تعرضي بريدونه وشول، دجګړې په جريان کې ياد بيس او ۳ پوستې په ټوليزه توګه فتحه، ۱۵ تنه اربکيان ووژل شول، ګڼ نور ټپيان شول، دغه راز د دښمن له کومکي قوې سره هم سخته جګړه وشوه چې په مهال يې د دښمن ۲ عرادې ټانګونه ويجاړ او ۱۰ تنه عسکروژل شول، په جګړه کې ۳ تنه مجاهدين هم ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۱

سيدابادکې رينجرويجاړ، ۲ عسکروژل شول، ۱ بل ژوبل دی

د ميدان وردګ ولايت د سيدابادولسوالۍ اړوند ماشين کلا سيمه کې داجيرو عسکرو په رينجر بريدوشو، دبريدپه پايله کې رينجر ويجاړاو ۲ تنه عسکروژل شول. دغه راز د سالارو سيمه کې په پليو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله يې ۱ عسکروژل شو. ۲۰۱٦/۷/۱

ميدان وردګ مرکزکې په کاروان د بريدله امله ۱ عسکرقتل، بل ژوبل دی

د ميدان وردګ ولايت د مرکز اړوند کوزې چارقلعه سيمه کې د ګوډاګيوعسکرو په کاروان وسلوال بريدوشو، په بريد کې ۱ عسکروژل شو او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۱

ميدان وردګ مرکزکې ۳ پوليس ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

د ميدان وردګ ولايت د مرکز اړوند پولاد خان سيمه کې په ګوډاګيوپوليسو بريدوشو، دبريدپه پايله کې ۳ تنه پوليس ووژل شول او ۱ بل مرګوني ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۱

نرخ کې چاودنې د ۲ عسکروژوندواخيست

د ميدان وردګ ولايت د نرخ ولسوالۍ اړوند دورانې سيمه کې په پليو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله يې ۲ تنه عسکروژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲

ميدان وردګ مرکزکې ۲ ټانګونه ويجاړ، ۲ سپيشل فورس عسکروژل شول، ۱ بل ژوبل دی

دميدان وردګ ولايت د مرکز اړوند چارکې، سهاکو او عمر کليو کې داجيرو عسکرو په کاروان دسپکو اودرنووسلو بريدونه ترسره شول، په نښته کې ۲ عرادې ټانګونه پوره ويجاړ شول، ۲ تنه سپيشل فورس عسکر ووژل شول، ۱ بل مرګوني ټپي شو، همدارنګه د ياد مرکز اړوند شهيدانوسيمه کې داجيرو عسکرو په بيس او په د

راشکوسیمه کې د دښمن په پوسته د هاوان بریدونه وشول چې له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱٦/۷/۲

جلریز کې ۱ ټانګ، ۱ رینجر ویجاړ، ۷ تنه عسکر ووژل شول

د میدان ورد ګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند زیولات اواسماعیل خېلو سیمو کې د اجیرو عسکرو په کاروان بریدونه ترسره شول. د بریدونو په مهال په زیولات سیمه کې د اجیرو عسکر ۱ عراده رینجر د ماین ښکار شو چې پوره ویجاړ او ۴ تنه عسکر پکې ووژل شول. همدارازپه اسماعیل خېلو سیمه کې هم ۱ عراده ټانګ په ماین والوت، په چاودنه کې ټانګ په بشپړه توګه ویجاړ او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، په یاده سیمه کې په مخامخ بریدکې ۳ تنه نور عسکر ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۲

سیدآباد کې د جاسوسي اداري ۳ تنه کارمندان ووژل شول

د میدان ورد ګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند د هفت آسیاب آزادخېلو سیمه کې د مزدور دښمن دجاسوسي اداري له کارمندانوسره نښته وشوه، دجګړې په لړ کې د یادي اداري ۳ تنه مهم کارمندان ووژل شول او یو فلډر موټر یې ویجاړ شو، وروسته سیمې ته نور عسکر راغلل چې له برید سره مخ شول او په مهال یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته، په نښته کې ۲ تنه مجاهدین ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۳

جلریز کې ۲ ټانګونه ویجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان ورد ګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند محمدنور خېلو سیمه کې د ګوډاګیو دښمن په قوه بریدونه ترسره شول. دجګړې په لړ کې ۲ عرادې زغرو ال ټانکونه ویجاړ شول او عسکر پکې مړه او ژوبل شول، وروسته وحشي دښمن انتقاما په هغو ملکي خلکوبرید وکړ چې د جنازې په مراسموبوخت وو، د دښمن په وحشیانه برید کې ۳ تنه کلیوال ژوبل شول، دغه راز په اسماعیل خېلو سیمه کې وحشي دښمن یو ټن موټر چلونکی له خپل موټر څخه راکوز کړ او په شهادت ورساوه. ۲۰۱٦/۷/۳

سیدآباد کې په اجیرو عسکرو بریدوشو

د میدان ورد ګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوندمنګلوسیمه کې له ګوډاګیو عسکرو سره جګړه وشوه، دجګړې په لړ کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خوکره یې شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱٦/۷/۴

سیدآباد کې چاودنې د ۲ عسکرو ژوند واخیست

دمیدان ودرګ ولایت د سیدآبا ولسوالۍ اړوند اوتړیو سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه چې له امله یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۴

چک کې ټانګ ویجاړ، ۵ تنه عسکرووژل شول

دمیدان ورد ګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند چک سیمه کې د اجیرو عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ پوره ویجاړ او ۵ تنه عسکرووژل شول، وروسته وحشي دښمن په نژدې کلیو د توپونو ډزې وکړې. ۲۰۱٦/۷/۴

چک کې چاودنې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

دمیدان ورد ګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند چک کلي ته نژدې په پلیو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول، وروسته دښمن دملکي خلکو سراچه ډوله موټر ودراوه، پکې سپاره کسان یې سخت ووهل او ۱ تن (محمدخان) یې په ډزو باندې مرګونې ټپي کړ. ۲۰۱٦/۷/۵

چک کې چاودنې ۶ تنه عسکر مړه اوژوبل کړل

د میدان ورد ګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند چک کلي ته نژدې په ګوډاګیو عسکرود ځای په ځای شوي ماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۰۱٦/۷/۵

جغتوولسوالۍ په ودانۍ توغندیز بریدوشو

د میدان ورد ګ ولایت د جغتو ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په هدف ولګېدل او له امله یې دښمن ته زیان واوښت. ۲۰۱٦/۷/۷

چک کې ۱ عسکر مجاهدینو ته تسلیم شو

د میدان ورد ګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند علي خېلو کلي اوسیدونکی ۱ تن عسکر (ذبیح الله) له مخالفت نه لاس په سر اومجاهدینو ته تسلیم شو. ۲۰۱٦/۷/۱۱

جلریزکې ۱ اربکی ژوبل شو

دمیدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند خواجه محمد ولي سیمه کې د اجیر دښمن په بیس کې ۱ تن اربکی په دراز کوف وویشتل شو او سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۲

میدان وردګ مرکز کې ۲ تنه عسکر ووژل شول

د میدان وردګ ولایت د مرکز اړوند چهار بند سیمه کې په اجیر و عسکرو برید وشو چې په ترڅ کې یې ۲ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۱۲

سیدابادکې چاودنې ۲ عسکر ژوبل کړل

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند هفت آسیاب سیمه کې په پلیو عسکرو چاودنه ترسره شوه چې له امله یې ۲ تنه عسکر سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۱۳

سیدابادکې ۲ ټانګونه ویجاړ، ګڼو عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند ډاګبغري سیمه کې په ګوډاګیو عسکرو برید وشو، دبرید په پایله کې د مزدور دښمن ۱ ټانګ په هشتاد و دوو ویشتل شو چې پوره ویجاړ او پکې ناستو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. یو بل خبر وایي یادي سیمې ته څیرمه په شیرازي باباسیمه کې وحشي عسکرو د ملکي خلکو فصلونه تر اور لاندې ونیول چې له امله یې د روزي خان اکا په نوم د یوه کلیوال د غنمو فصل وسوځید. دیوبل خبر له مخې دیادي ولسوالۍ د شاترو سیمه کې په عسکرو برید وشو چې په مهال یې ۱ ټانګ پوره ویجاړ شو او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۳

چک کې ۶ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند خوساچیني سیمه کې په اجیرو عسکرو برید وشو، دبرید په پایله کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۲ میله شل ډزي ټوپکونه ورځخه په غنیمت ونیول شول، وروسته دیادي ولسوالۍ مربوط السنګ سیمه کې د مزدور دښمن په کومکي قوه بریدوشو چې په مهال یې ۱ تن عسکر ووژل شو او ۲ نور ژور ټپیان شول. د وحشي عسکرو په ډزو د کاشو په نوم کلي اوسیدونکی ۱ تن عام وګړی ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۴

میدان وردګ مرکز کې ۴ عسکر وته مرګ ژوبله واوښته

د میدان وردګ ولایت د مرکز اړوند چهار بندسیمه کې په اجیرو عسکرو برید وشو، په برید کې ۱ عسکر ووژل شو او ۱ بل ژوبل شو. دغه راز په ده افغانانو سیمه کې هم د اربکیانو په کرولا ډوله موټر برید وشو چې په ترڅ کې یې موټر ویجاړ او ۲ تنه اربکیان ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۱۴

سیدابادکې په اکمالاتي کاراوان بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند عبدالمحي الدین سیمه کې د مزدورو عسکرو په اکمالاتي کاروان بریدونه وشول، دبریدونو په جریان کې د دښمن یو شمیر ټانګونه او اکمالاتي موټر ویجاړ او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۴

جلګې ولسوالۍ په ودانۍ بریدوشو

د میدان وردګ ولایت د جلګې ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ د سپکو اودرنووسلو بریدونه ترسره شول چې له امله یې دولسوالۍ ودانۍ زیانمنه، ۱ تن عسکر ووژل شو او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۵

چک ۳ عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

دمیدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند چک کلي ته نژدې په اجیرو عسکرو برید وشو، دبرید په پایله کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل سخت ژوبل شو، دغه راز دیادي ولسوالۍ اړوند سیمه کې د اجیرو عسکرو په ۳ پوستو (منه سر، بزرګ اوهوټل) د دهشکې بریدونه ترسره شول. په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو معلومات نه دي رارسیدلي. ۲۰۱۶/۷/۱۵

سیدآبادکې ټانګ ویجاړ، ۱ پولیس ووژل شو

د میدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند شیرازي بابا سیمه کې د اربکي قومندان (مجیب) په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ شو او ۱ تن اربکی ووژل شو، لږ وروسته سیمې ته د کومک په موخه نور عسکر راغلل چې ۱ بله چاودنه ورباندې ترسره شوه او له امله یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۷/۱۵

میدان وردګ مرکز کې په امنیه قومندانۍ توغندیز بریدوشو

دمیدان وردګ ولایت مرکز کې په امنیه قومندانۍ توغندیز برید وشو، په برید کې توغندي په هدف ولګیدل او له امله یې دښمن ته ځاني اومالي تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۷/۱۶

چک کې رینجر ویجاړ، ۱ اربکی قتل، بل ژوبل شو

د میدان ودرګ ولایت د چک ولسوالۍ دامبخاک اړوند ګودانو سیمه کې د اربکیانو په رینجر برید وشو. دبرید په لړ کې رینجر پوره ویجاړ، ۱ اربکی قتل او د محبت په نوم بل اربکی سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۷

مرکز اوجلریز کې ۲ تنه پولیس ووژل شول

دمیدان وردګ ولایت د مرکز اړوند ناصرو سیمه کې په اربکیانو چاودنه ترسره شوه چې له املې یې ۱ تن اربکی له منځه لاړ، دغه راز د جلریز ولسوالۍ مربوط د خواجه محمدولي په سیمه کې د مزدورودښمن په بیس کې یو تن پولیس په درازکوف په نښه او ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۷

میدان وردګ مرکز کې رینجرویجاړ، ۳ اربکیان ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

دمیدان وردګ ولایت د مرکز اړوند ده افغانانو سیمه کې په اربکیانوبرید وشو. په برید کې رینجر ویجاړ، ۳ تنه اربکیان ووژل شول او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۷

چک کې مهم قومندان قتل، ۲ ساتونکي یې ژوبل شول

دمیدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند مداد سیمه کې د اجیرو عسکرو په مهم قومندان چاودنه وشوه، په چاودنه کې قومندان ووژل شو او ۲ تنه ساتونکي یې مرګوني ټپیان شول. دغه راز د چک ولسوالۍ اړوند سیمه کې د بند دسر او هوټل په پوستو د دهشکې بریدونه ترسره شول چې له املې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۹

جلګې ولسوالۍ په ودانۍ اوپوستوبریدونه وشول

دمیدان وردګ ولایت د جلګې ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ او دقطب په نوم پوسته د سپکو اودرنووسلو بریدونه ترسره شول. په بریدونو کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۰

چک کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند په ۲ پوستو (بندسر اوبزرګ) په پوستو برید وشو. دبرید په مهال د بزرګ په پوسته کې ۱ تن ووژل شو او د بند سر په پوسته کې هم دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۲۱

سیدابادکې ۴ تنه عسکر ووژل شول

دمیدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالۍ اړوند سالارو سیمه کې داجیرو عسکرو د موټرو په تمځای کې چاودنه ترسره شوه، په چاودنه کې ۳ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۹

جغتوکې په ګوډاګیوعسکرو بریدونه وشول

د میدان وردګ ولایت د جغتوولسوالۍ مرکزي ودانۍ ته نژدې له اجیرو عسکرو سره نښته وشوه، دجګړې په پایله کې داجیر دښمن مرکز ویجاړ او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. وروسته مزدور دښمن په سیمه کې د اختر خپلو په کلي بریدونه ترسر کړل چې په مهال یې د کلیوال عبدالستار کور ته دروند زیان واوښت. دغه راز دیادي ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ هم توغندیز بریدونه وشول. په دغو بریدونو کې دښمن ته داوښتو تلفاتو شمیر نه دی روښانه شوی. ۲۰۱۶/۷/۱۹

نرخ اوچک په دښمن بریدونه وشول

دمیدان وردګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند کریمدادو سیمه کې په اربکیانو برید وشو چې په مهال یې ۱ تن اربکی (سمیع الله) مرګونی ټپي شو. دغه راز د چک ولسوالۍ اړوند سیمه کې د بند دسر او هوټل په پوستو د دهشکې بریدونه ترسره شول چې له املې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۹

جلګې ولسوالۍ په ودانۍ اوپوستوبریدونه وشول

دمیدان وردګ ولایت د جلګې ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ او دقطب په نوم پوسته د سپکو اودرنووسلو بریدونه ترسره شول. په بریدونو کې دښمن ته د اوښتي مرګ ژوبلې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۰

چک کې په ۲ پوستو بریدونه وشول

د میدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند په ۲ پوستو (بندسر اوبزرګ) په پوستو برید وشو. دبرید په مهال د بزرګ په پوسته کې ۱ تن ووژل شو او د بند سر په پوسته کې هم دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۲۱

سیدآباد کې چاودنې ۴ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان ورډګ ولایت د سیداباد ولسوالۍ اړوند سره کلاسیمه کې په پلیو عسکرو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل شو. دغه راز په سیمه کې په عسکرو یوه بله چاودنه وشوه، چاودني ۲ تنه عسکر ووژل. ۲۰۱۶/۷/۲۱

چک کې په پوسته بریدوشو

د میدان ورډګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند دښمن سر په پوسته د دهشکې بریدونه ترسره شول، دبریدپه جریان کې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۱

جغتو ولسوالۍ په ودانۍ توغندیز بریدوشو

دمیدان ورډګ ولایت د جغتوولسوالۍ په مرکزي ودانۍ بریدوشو، په بریدکې دښمن ته داوښتو تلفاتو دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۱

میدان ورډګ مرکز کې ۱ عسکر ووژل شو

دمیدان ورډګ ولایت د مرکز اړوند د سیدرحیم سنګر په پوسته کې دننه دیووسلوال برید په مهال ۱ تن عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۲

جغتو ولسوالۍ په ودانۍ توغندیز بریدوشو

دمیدان ورډګ ولایت د جغتو ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ توغندیز بریدوشو، په بریدکې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۷/۲۳

چک کې په پوسته بریدوشو

د میدان ورډګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوندد هوتل د سر په پوسته د دهشکې بریدوشو، دبریدپه پایله کې دښمن ته داوښتې مرګ ژوبلې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۳

مرکزکې چاودنې د ۲ عسکرژوندواخیست

د میدان ورډګ ولایت د مربوط د کوتل په سیمه کې په مزدورو پولیسو د ځای په ځای شوي ماین چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه پولیس ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۳

جلریزکې چاودنې د ۱ پولیس ژوندواخیست

د میدان ورډګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند شیرخان سیمه کې پوستې ته څیرمه په مزدورو پولیسو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ تن د عامه نظم پولیس ووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۴

سیداباد اوجغتوکې ۲ ټانګونه ۱ امبولانس ویجاړ، ۷ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان ورډګ ولایت د جغتوولسوالۍ عبدالمحیي الدین اړوند غاښي سیمه کې د ګوډاګي دښمن په اکمالاتي کاروان چاودنه وشوه، په چاودنه کې د مزدور دښمن ۱ ټانګ ویجاړ شو او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته، دغه راز د سیداباد ولسوالۍ اړوندعبدالمحی الدین سیمه کې هم جغتوولسوالۍ ته په تلونکي اکمالاتي کاروان برید وشو، په برید کې ۱ ټانک، ۱ امبولانس ویجاړ شول، ۴ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګونې ټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۲۴

مرکزکې ۱ عسکر ووژل شو

د میدان ورډګ ولایت د مرکز اړوند د غلو غونډۍ سیمه کې په اجیروعسکرو بریدوشو چې په ترڅ کې یې ۱ تن مزدور عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۵

جلریزکې ۱ اربکی ووژل شو

دمیدان ورډګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوندخواجه محمدولي سیمه کې د مزدور دښمن بیس مخې ته په اربکیانو بریدوشو چې په مهال یې ۱ تن اربکی ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۵

چک کې ۴ تنه عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

دمیدان ورډګ ولایت د چک ولسوالۍ اړوند لوړ کلي ته څیرمه دمزدوروعسکرو په پوسته بریدونه ترسره شول. د بریدونوپه لړکې ۲ تنه عسکر ووژل شول، ۱ بل ژوبل شو. دغه راز دیادي ولسوالۍ د بکسمنداړوند د ټسګ په پوسته برید وشو چې په مهال یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۵

جلریزکې ۵ پولیسوته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان ورډګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوندخواجه محمدولي سیمه کې د مزدور دښمن په بیس بریدوشو، دبریدپه پایله کې ۲ تنه اربکیان ووژل شول او ۳ نور ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۵

چک کې په ۲ پوستوبریدونه وشول

دميدان ورډګ ولايت د چک ولسوالۍ اړوند د بند سر او بزرګ په نوم پوسټو بريدونه ترسره شول چې په مهال يې ۱ تن مزدور عسکر ځای په ځای ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۵

جغتو کې ټانګ ويجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دميدان ورډګ ولايت د جغتوولسوالۍ اړوندمردله او کمکي ارباب سيمو کې د مزدورو عسکرو په اکمالاتي کاروان چاودنه او بريدونه وشول، په چاودنه کې ۱ ټانګ ويجاړ شو او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱٦/۷/۲۵

سيدابادکې په کاروان دبريدله امله دښمن ته درانه تلفات واوښتل

د ميدان ورډګ ولايت د سيدابادولسوالۍ اړوند شيرازي باباسيمه کې دمزدورو عسکرو په کاروان بريدوشو، دبريدپه پايله کې ګڼ شمير موټر نيمه ويجاړ شول او د دښمن ته مرګ ژوبله هم واوښته. ۲۰۱٦/۷/۲٦

سيدابادکې ټانګ ويجاړ، ۵ تنه عسکر مړه اوټپيان شول

دميدان ورډګ ولايت د سيدابادولسوالۍ اړوند ډاګبغري سيمه کې په پليو عسکر و بريد وشو، دبريدپه پايله کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور ژوبل شول، وروسته سيمي ته دمزدور دښمن کومکي قوه راغله چې له برید سره مخ شوه، په جګړه کې ۱ ټانګ په بشپړه توګه ويجاړ او عسکرو ته پکې مرګ ژوبله واوښته، دنښتې په لړ کې ۱ تن مجاهدهم ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۷

چک کې ۲ ټانګونه ويجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دميدان ورډګ ولايت د چک ولسوالۍ اړونداروند چک کلي ته خيرمه داجيروعسکرو په ټانګونو ددرنووسلو بريد وشو، دبريدپه لړ کې ۲ ټانګونه ويجاړ شول او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱٦/۷/۲۸

جلريز کې ۲ ټانګونه ويجاړ، ۱۲ تنه پوليس مړه اوټپيان شول

د ميدان ورډګ ولايت د جلريز ولسوالۍ اړوند اسماعيل خېلو سيمه کې د ګوډاګيوپوليسو په ۶ پوستو بريدونه ترسره شول، په بريدونو کې ۲ عرادې ټانګونه ويجاړ، ۸ تنه پوليس قتل او ۴ نور مرګوني ټپيان شول، په نښته کې ۲ تنه مجاهدين هم ژوبل شول. دغه راز ديادي ولسوالۍ اړوند په زيولات سيمه کې هم د اربکيانو په بيس بريد ترسره شو چې په مهال يې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱٦/۷/۲۸

جلګه کې په امنيه قومندانۍ اوپوسته بريدونه وشول

دميدان ورډګ ولايت د جلګې ولسوالۍ مرکز کې په امنيه قومندانۍ اود مختار په نوم پوسته بريدونه وشول، په بريدونو کې دښمن ته داوښتو تلفاتو دقيق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱٦/۷/۲۸

نرخ کې ۱ عسکر قتل، بل ژوبل شو

د ميدان ورډګ ولايت د نرخ ولسوالۍ اړوندسورپول سيمه کې پوستې ته خيرمه په پليو عسکرو بريد وشو، په بريد کې ۱ عسکر قتل او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۲۸

مرکز کې ۹ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

د ميدان ورډګ ولايت د مرکز اړوند چهار کلااولوړه چهار کلاسيمه کې د ګوډاګيوعسکرو په کاروان بريدوشو، دجګړې په لړ کې ۵ تنه عسکر ووژل شول او ۴ نور مرګوني ټپيان شول. ۲۰۱٦/۷/۲۸

سيدابادکې په اجيرو عسکرو بريدوشو

دميدان ورډګ ولايت د سيدابادولسوالۍ اړوند سالارو سيمه کې په پليو عسکرو بريدوشو. دبريدپه پايله کې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو کره شمير يې لانه دی معلوم شوی. ۲۰۱٦/۷/۲۸

جلګه کې ۲ تنه عسکرووژل شول

دميدان ورډګ ولايت د جلګې ولسوالۍ مرکزي ودانۍ ته خيرمه په اجيرو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او يو شمير عسکر ژوبل شول. ۲۰۱٦/۷/۲۹

جلريز کې وحشي عسکرو ۲ ماشومانو ته مرګ ژوبله واړوله

دميدان ورډګ ولايت د جلريز ولسوالۍ اړوند احمدخېلو سيمه کې وحشي عسکرو دملکي خلکوپه کورونو وحشيانه ډزې وکړې چې له امله يې ۱ تن تنکی ماشوم (امان الله) په شهادت ورسيد. دغه راز ديادي ولسوالۍ په اسماعيل خېلو کلي ۱ تن ماشوم (فضل الرحيم) په ډزو سخت ژوبل کړ. ۲۰۱٦/۷/۳۰

جلريز کې ټانګ ويجاړ، ۵ تنه عسکر مړه اوټپيان شول

د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند زیولات سیمه کې د مزدور دښمن د عملیاتي قوې په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ او ۵ تنه عسکر ووژل شول، وروسته وحشي عسکر و دملکي خلکو په کورونو ډزې وکړې. ۲۰۱۶/۷/۳۰

میدان وردګ مرکز کې د اربکي قومندان په ګډون ۳ اربکیان قتل، ۴ نور ژوبل شول

د میدان وردګ ولایت د مرکز اړوند فامیلیو سیمه کې په اربکیانو تکتیکي چاودنه وشوه، په چاودنه کې د نرخ ولسوالۍ د اربکیانو مهم قومندان (مقیم سیلاب) له ۲ ساتونکو سره ووژل شو، ۴ نور مرګوني ټپیان شول. ۲۰۱۶/۷/۳۰

چک او جلریز کې ټانګ اوړینجر ویجاړ، ۷ تنه عسکر ووژل شول

د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند احمدجان خپلو سیمه کې د اجیر دښمن په اصطلاح د ځانګړي قطعې د عسکرو په ټانګ چاودنه وشوه، په چاودنه کې ټانګ ویجاړ شو او ۴ تنه عسکر ووژل شول، بل خوا د چک ولسوالۍ اړوند چک سیمه کې د مزدور وعسکرو په ړینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې ړینجر ویجاړ او ۶ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۳۰

جلریز او جلګه کې په دښمن بریدونه وشول

د میدان وردګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند اسماعیل خپلو سیمه کې د مزدور دښمن په عملیاتي قوه برید وشو، په برید کې دښمن ته د اوښتو تلفاتو دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. دغه راز د جلګې ولسوالۍ اړوند تیز کوه سیمه کې د اربکیانو په پوسته بریدونه ترسره شول، دبریدونو په جریان کې دښمن ته داوښتو تلفاتو کره معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۳۰

جغتو کې د دعوت او ارشاد مسؤلینو روزنیز سیمینارونه جوړ کړل

د میدان وردګ ولایت د جغتو ولسوالۍ اړوند په ګنده قول، آدینه اوبلنډ خپلو سیمو کې د دعوت اوارشاد د مسؤلینو له لوري د مجاهدینو د روزني، بښې تربیې او جهادي اصولو او اهدافو دلا زده کړې په موخه درې ورځنۍ روزنیزې غونډې جوړې شوې. په غونډو کې دجهاد، دجهادهدف، دجهاد فضائل، نیت، اخلاص اوداسي نورو موضوعاتو باندې علماؤ د مجاهدینو ذهنونه نور هم تنویر کړل. ۲۰۱۶/۷/۳۰

سیدابادکې ۶ عسکرووژل شول، ۱ بل ژوبل دی

د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند اوتریو سیمه کې په پلیوعسکرو برید وشو، دبریدپه پایله کې ۴ تنه عسکرووژل شول او ۱ بل ژوبل شو، په جګړه کې ۱ تن مجاهدهم د شهادت لوړ مقام ته ورسید، دغه راز منګلیو سیمه کې په اجیرعسکرو چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۳۰

سیدابادکې ۵ تنه عسکر مړه اوژبل شول

د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند سیسي سیمه کې د اجیروعسکرو په ړینجر چاودنه وشوه، چاودني ۱ تن عسکرووژه او ۲ نور یې ژوبل کړل، دغه راز د یادي ولسوالۍ تنګي اړوند دوه لاري سیمه کې هم په اجیروعسکرو چاودنه وشوه چې له املې یې ۲ تنه عسکر مرګوني ټپیان شول، وروسته سیمې ته نور عسکر راغلل او بله چاودنه ورباندې وشوه، په چاودنه کې د دښمن ته یې د اوښتو تلفاتو معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۳۰

سیدابادکې اکمالاتي ټانکر ویجاړ، عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دمیدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند سیسي سیمه کې په اجیرو عسکرو برید وشو، په برید کې ۱ ټانکر په بشپړه توګه ویجاړ او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۳۰

سیدابادکې ۵ تنه عسکر مړه اوټپیان شول

د میدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند سالاروسیمه کې په پلیو عسکروبرید وشو، دجګړې په پایله کې ۳ تنه عسکرووژل شول او ۲ نور سخت ژوبل شول. په نښته کې ۱ تن مجاهدهم ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۳۰

سیدابادکې چاودني د قومندان ژوندواخیست، عسکرو ملکیان بندیان کړل

دمیدان وردګ ولایت د سیدابادولسوالۍ اړوند سالاروسیمه په اجیرو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې د ګوډاګیوعسکرو قومندان ووژل شو او ۱ تن ساتونکی یې ژوبل شو، وحشي دښمن له چاودني وروسته دنژدې کلیو خلک له خپلو کورونوڅخه راوایستل او له سختو وهلوډبولو وروسته یې له ځانه سره د بندیانوپه توګه یوړل. ۲۰۱۶/۷/۳۱

جلریز کې ټانګ ویجاړ، ۹ تنه عسکر مړه اوژوبل شول

دمیدان ورډګ ولایت د جلریز ولسوالۍ اړوند په اسماعیل خېلو او زیولات سیمه کې د ګوډاګي دښمن له عملیاتي قوې سره سخته جګړه وشوه، دجګړې په مهال د دښمن ۱ ټانګ ویجاړ شو، ۵ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور ژوبل شول، همدرنګه دیادي ولسوالۍ مربوط خواجه محمدولي سیمه کې د مزدور دښمن په بیس کې ۱ اربکي په دراز کوف وویشتل شو چې ځای په ځای ووژل شو، یو بل خبر وایي د اسماعیل خېلو سیمه کې وحشي عسکرو ۱ تن عام بې ګناه ملکي کس (وکیل) په خپل کور کې د خپلو ماشومانو په وړاندې په شهادت ورساوه. ۲۰۱۶/۷/۳۱

نرخ کې رینجرویجاړ، ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د میدان ورډګ ولایت د نرخ ولسوالۍ اړوند کشمیری کلاسیمه کې د اجیرو عسکرو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر ویجاړ، ۱ عسکر ووژل شو او ۲ نور ژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۳۱

لوګر

لوګر مرکز کې ۱ عسکرووژل شو

دلوګر ولایت د مرکز اړوند عمرآباد سیمه کې په اجیرو عسکرو بریدوشو چې په مهال یې ۱ عسکرووژل شو. په عین وخت کې د مزدورو عسکرو په پوسته هم بریدوشو چې په ترڅ کې یې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱

محمدآغه کې د اربکیانو په پوسته بریدوشو

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند سرخاب سیمه کې د اربکیانو په پوسته برید ترسره شو، دجګړې په مهال دښمن ته ځاني اومالي تلفات واوښتل خوکره یې شمېره یې نه ده څرګنده شوې. ۲۰۱۶/۷/۳

لوګر مرکز کې په خدربیس توغندیز بریدوشو

دلوګر ولایت د مرکز اړوندد اجیرو عسکرو په مهم بیس (خدر) توغندیز برید وشو، په برید کې دښمن ته داوښتو تلفاتو په اړه دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۳

لوګر مرکز کې ۲ تنه عسکر قتل، ۵ نور ژوبل شول

د لوګر ولایت د مرکز اړوند زرداد کلاسیمه کې د اجیر دښمن په پلیو عسکرو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۳ نور مرګونې ټپیان شول، دغه راز د یاد مرکز اړوند پادخواب شانه سیمه کې هم په پلیو عسکرو دلاسي بمونو بریدوشو چې له امله یې ۲ تنه عسکر سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۵

برکي برک کې ۲ تنه عسکر مجاهدینو ته تسلیم شول

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اړوند سربلند کلا او چهلتن کلیو اوسیدونکي ۲ تنه عسکر (پرویز او زلمی) دحقانۍ په درک کولو او د دعوت اوارشاد کمیسیون د مسؤلینو په هلوځلو سره له مجاهدینو سره یوځای شول. ۲۰۱۶/۷/۹

څرخ کې ۱ تن له خپل موټر سره د سړي تبنتونکو له منګولو ووژغورل شو

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړوند له برسیمې نه سړي تبنتونکو ۱ تن عام وګړی له خپل موټر سره برمته کړ، مجاهدینو له پیښې وروسته اختطافګر تعقیب او تبنتول شوی کس یې له خپل موټر سره د سړي تبنتونکو له منګولو خلاص کړل، خبر وایي اختطافګر ترجدي تعقیب لاندې دی. ۲۰۱۶/۷/۹

خوشي کې رینجرویجاړ، عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د خوشي ولسوالۍ اړوند شاه مردان سیمه کې د اجیرو عسکرو په رینجر چاودنه وشوه، په چاودنه کې رینجر ویجاړ او عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته. ۲۰۱۶/۷/۱۰

څرخ کې په پوسته دبرید له امله ۱ عسکرووژل شو

د لوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړوند خواجه اسماعیل سیمه کې د اجیرو عسکرو په پوسته برید وشو چې په مهال یې ۱ تن عسکر ووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۰

خروار کې چاودنې ۵ عسکرو ته مرګ ژوبله واړوله

د لوګر ولایت د خروار ولسوالۍ اړوندالتمور سیمه کې په اجیرو عسکرو چاودنه وشوه، چاودنې ۲ عسکر ووژل او ۳ نور یې مرګونې ټپیان کړل. ۲۰۱۶/۷/۱۴

محمدآغه کې ټانګ ویجاړ، عسکروته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند سفیدسنګ سیمه کې په اجیرو عسکرو چاودنه ترسره شوه چې له املې یې ۲ تنه عسکر سخت ژوبل شول، دغه راز دیادي ولسوالۍ اړوند بیني شرفګان سیمه کې د مزدورو عسکرو ټانګ په راکټ وویشتل شو چې پوره ویجاړ او عسکرو ته پکې مرګ ژبله واوښته. همدارازپه سرخاب سیمه کې د اجیر دښمن په اکمالاتي کاروان برید وشو خو دښمن ته داوښتي زیان معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱٦/۷/۱۴

برکي برک کې ۶تنه اربکیان مجاهدینو ته تسلیم شول

دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اړوند د نیقک کلي اوسیدونکي ۶ تنه اربکیان چې مشهور اوظالم اربکي قومندان (خلیل) په مشرۍ کې یې دندې ترسره کولې ، د دعوت اوارشاد کمیسیون په هلوځلو مجاهدینو ته تسلیم شول، په تسلیم شویو کې محمدامین، وحیدالله ،محمدنذیر ، محمدعظیم ، فیض محمد او محمدرسول شامل دي. ۲۰۱٦/۷/۱۵

محمدآغه کې ټانګ ویجاړ، ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

دلوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند آب بران سیمه کې د مزدورو عسکرو په پوسته بریدوشو. دبرید په پایله کې د ګوډاګي دښمن ۱ ټانګ ویجاړ، ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۱۵

برکي برک کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واښته

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ بازار کې په مزدورو پولیسو بریدوشو او په مهال یې ۱ تن عسکر ووژل شو، دغه راز دیادي ولسوالۍ اړونده سیمه کې څرخ ولسوالۍ ته په غزیدلي لویه لار په مزدورو عسکرو چاودنه وشوه چې له املې یې ۱ تن اجیر عسکر ووژل شو او ۱ بل مرګونی ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۱۵

محمدآغې بازار کې ظالم اربکی ووژل شو

د لوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ بازار کې په اربکیانو برید وشو چې په مهال یې ۱ تن ظالم اربکی ووژل شو، په نښته کې ۱ تن مجاهدهم ژوبل شو. ۲۰۱٦/۷/۱٦

لوګر مرکز کې چاودنې د ۱ عسکر ژوند واخیست

د لوګر ولایت د مرکز اړوند پادخواب شانه سیمه کې په مزدورو عسکرو چاودنه وشوه چې په ترڅ کې یې ۱ تن اجیر عسکر ووژل شو. ۲۰۱٦/۷/۱۷

برکي برک کې ۲تنه پولیس ووژل شول

دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اړوند برک راجان سیمه کې په اربکیانو بریدوشو. دبرید په پایله کې ۲ تنه اربکیان(فرید اوز کریا) ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱٦/۷/۱۷

محمدآغه کې د سپیشل فورس قطعې د کشف آمر مرګونی ټپي شو

د لوګر ولایت د محمداغې ولسوالۍ اړوند سیمه کې د اجیرو عسکرو د سپیشل فورس ټولګي د کشف آمر (قندآغا) په موټر چاودنه وشوه، په چاودنه کې موټر ویجاړ او نومورې مرګونی ټپي شو. ۲۰۱٦/۷/۱۷

برکي برک کې ۱ تن پولیس مجاهدینو ته تسلیم شو

د لوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ اړوند ګیلي کلا کلي اوسیدونکی ۱ تن پولیس (وحیدالله) دحقانقو په درک کولو او ددعوت اوارشاد کمیسیون د مسؤلینو په هلوځلوسره مجاهدینو ته تسلیم شو. ۲۰۱٦/۷/۱۷

لوګر مرکز کې د استخباراتو په ودانۍ توغندیز بریدوشو

دلوګر ولایت د مرکز کې د اجیرې اداري د استخباراتو په ودانې توغندیز بریدوشو، په برید کې توغندي په هدف ولګیدل او په پایله کې دښمن ته ځاني اومالي زیانونه واوښتل. ۲۰۱٦/۷/۱۸

برکي برک کې ۱ اربکی قتل، وسله یې غنیمت شوه

دلوګر ولایت د برکي ولسوالۍ اړوند ده شیخ سیمه کې په اربکیانو برید وشو، په برید کې ۱ تن اربکی (بصیر) ووژل شو، ۱ میل کلاشینکوف اوچانته یې په غنیمت ونیول شول. ۲۰۱٦/۷/۱۸

خوشي کې رینجرویجاړ، د استخباراتو د مدیر په ګډون ۷تنه عسکرووژل شول

دلوګر ولایت د خوشي ولسوالۍ ته نژدې له ګوډاګیوعسکرو سره سخته جګړه وشوه، د جګړې په مهال عسکر د ولسوالۍ د ودانۍ لور ته وتښتېدل او مجاهدینو تعقیب کړل، په جګړه کې د ولسوالۍ ودانۍ ته دروند زیان واوښت او د اجیر دښمن ۱ رینجر

ویجاړ شو. د استخبارا تو مدیر مرګونی ټپي شوچي روغتون په لار یې ساه ور کړه ، ۶ تنه مزدور عسکر اوپولیس ووژل شول اویو شمیر نور ژوبل شول، په نښته کې ۲ تنه مجاهدین شهیدان شول او ۱ بل ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۱۸

محمدآغه کې ۲ تنه پولیس ووژل شول

دلوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند مس عینک ته په غزیدلي لویه لار په مزدورو پولیسو بریدوشو چې په مهال یې ۲ تنه پولیس ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۱۹

خوشي ولسوالۍ په ودانۍ توغندیز بریدوشو

دلوګر ولایت د خوشي ولسوالۍ په مرکزي ودانۍ توغندیز بریدوشو، په بریدکې دښمن ته مرګ ژوبله واوښته خو شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۷/۱۹

محمدآغه کې چاودنې ۲ اربکیان سخت ژوبل کړل.

دلوګر ولایت د محمدآغې ولسوالۍ اړوند دهنوسیمه کې په اربکیانو دماین چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۲ تنه اربکیان سخت ژوبل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۱

لوګر مرکز کې ۱ د تیلو ټانکر ویجاړ، ۱ تن عسکرووژل شو

دلوګر ولایت د مرکز اړوند موسی کلاسیمه کې د اجیروعسکرو په اکمالاتي موټرو نو بریدوشو، په بریدکې په تیلو بار ۱ اکمالاتي موټر ویجاړ او ۱ عسکرووژل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۱

لوګر مرکز کې په پوسته بریدوشو

دلوګر ولایت د مرکز اړوند بادخواب شانه سیمه کې د مزار په په پوسته بریدوشو، دبریدپه پایله کې دښمن ته تلفات واوښتل خو کره شمېره یې نه ده ترلاسه شوې. ۲۰۱۶/۷/۲۲

لوګر مرکز کې په پوسته دبریدله امله ۲ اربکیانو ته مرګ ژوبله واوښته

دلوګر ولایت د مرکز اړوند کمال خېلو سیمه کې د اربکیانوپه پوسته بریدوشو، په بریدکې ۱ تن اربکی قتل او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۳

څرخ کې په پوسته دبریدله امله ۳ عسکرووژل شول

دلوګر ولایت د څرخ ولسوالۍ اړونده سیمه کې د خواجه علي په پوسته بریدوشو چې په ترڅ کې یې ۳ تنه عسکر ځای په ځای ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۴

مرکز او محمدآغه کې په دښمن بریدونوشول، ۱۱ پولیسوته مرګ ژوبله واوښته

دلوګر ولایت د مرکز اړوند د اجیروعسکرو په کمپاین (خدر) توغندیزبریدوشو، په برید کې توغندي په هدف ولګیدل او له املې یې دښمن ته زیان واوښت، دغه راز د محمدآغې ولسوالۍ اړوند مس عینک سیمې ته نژدې د غونډ په ۲ پوستو بریدونه تر سره شول، دبریدونوپه جریان کې ۵ تنه مزدور پولیس ووژل شول، ۶ نور مرګوني ټپیان شول، په نښته کې ۱ تن مجاهدهم ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۴

برکي برک کې مهم پولیس افسر قتل، بل ژوبل شو

دلوګر ولایت د برکي برک ولسوالۍ بازار ته څیرمه په ګوډاګیوپولیسو چاودنه وشوه، په چاودنه کې ۱ تن مهم پولیس افسر (نورمحمد) ووژل شو او ۱ بل سخت ژوبل شو. ۲۰۱۶/۷/۲۵

لوګر مرکز کې دوالي په کاروان بریدوشو

د لوګر ولایت د مرکز اړوند موسی کلاسیمه کې دیادولایت د لپاره د ګوډاګیو اداري دوالي (حلیم فدایي) په موټریز کاروان بریدوشو، په برید کې دښمن ته داوښتې مرګ ژوبلې دقیق معلومات نه دي ترلاسه شوي. ۲۰۱۶/۷/۲۵

لوګر مرکز کې رینجرویجاړ، ۵ تنه عسکراوپولیس ووژل شول.

دلوګر ولایت د مرکز اړوند پښتون آباد سیمه کې په مزدورو پولیسودماین چاودنه اوپه بورک سیمه کې په اجیروعسکرو بریدوشو، په بریدکې د دښمن ۱ عراده رینجر ویجاړ او ۳ تنه عسکر ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۵

لوګر مرکز کې ۳ عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

د لوګر ولایت د مرکز اړوند نیازي سیمه کې په لویه لاره په اجیرو عسکرو بریدوشو، په بریدکې ۲ تنه عسکر ووژل شول او ۱ بل ژوبل شو. دغه راز د مرکز اړونددااجیر دښمن په مهم بیس (خدر) توغندیز بریدوشو چې له املې یې دښمن ته تلفات واوښتل. ۲۰۱۶/۷/۲۶

لوګر مرکز کې رینجرویجاړ، ۵ تنه پولیس ووژل شول

دلوګر ولایت د مرکز اړوندبادخواب کلي ته نژدې او شش کلا سیمه کې هم دګوډاګي دښمن په ۲پوستو بریدونه وشول، د نښتې په مهال د شش کلاپوستې ته د کومک په موخه نور ګڼ شمیر پولیس په لارووچې رینجر یې په ماین والوزول شو، په چاودنه کې رینجر ویجاړ او ۵ تنه پولیس ووژل شول. ۲۰۱۶/۷/۲۷

محمدآغه کې په پوستو دبریدونو له امله ګڼو عسکرو ته مرګ ژوبله واوښته

